# لا هم په مخکی اوږده پرته لار:

# په افغانستان کی د ښځو پر علیه د خشونت د منع

# د قانون تطبیق



© یوناما

دافغانستان لپاره دملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی

کابل ، افغانستان

۲۰۱۲ دسمبر

# لا هم په مخکی اوږده پرته لار:

# په افغانستان کی د ښځو پر علیه د خشونت د منع

# د قانون تطبیق

دافغانستان لپاره دملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی

کابل ، افغانستان

۲۰۱۲ دسمبر

## د افغانستان نقشه




منبع: د ملکرو ملتونو د کارتوګرافی مرکز ، نیویارک

# د مطالبو فهرست


اصطلاحات ........ i

صلاحیت ........ iii

میتودولوژی ........ v

۱. د راپور لنډیز او سپارښتنې ........ 1

۲. شرایط ........ 12

۲. ۱. قانوني چوکاټ ........ 15

۲. ۱. ۱. د ښځو پر علیه د خشونت د منع قانون ........ 16

۲. ۱. ۲. د ښځو پر علیه د خشونت د منع په قانون کې کمزورتیاوې ........ 17

۲. ۱. ۳. نړیوالې قانوني ژمنې او مسوولیتونه ........ 19

۳. د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون د تطبیق په اړه موندنې ........ 20

۳. ۱. د ښځو په وړاندی د خشونت د قضیو ثبتول ........ 20

۳. ۲. د څارنوالانو او ښاري محکمو له خوا د ښځو پر علیه د خشونت د
منع د قانون تطبیق ........ 25

۳,۳. دښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د پېښو جریانونه ، نمونې او ډولونه ........ 29

۴. د ښځینه قربانیانو عدالت ته رسیدنه ........ 37

۴. ۱. د دودیزو عدالتي میکانیزمونو ځواکمنی ........ 39

۴. ۲. په ځینو سیمو کې د شورشیانو د کنترول او ناامنۍ زیاتوالی ........ 40

۴. ۳ د ملي پولیسو ، عدلي تعقیب او محکمې سره ننګونې ........ 42

الف. منځګړیتوب اود شکایت بیرته اخیستل ........ 42

ب. د ځواک عدم تعادل او هغه فساد چې د معافیت لامل کیږي ........ 44

ج. د مهارتونو ، ظرفیت او صلاحیت نشتوالی ........ 47

د. تبعیضي روشونه او په لومړیتوب کې وروسته والی ........ 49

ه. د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع د قانون او د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالی په هکله کمزوری درک ........ 50

۵. د ښځو پر علیه د خشونت د منع کمیسیونونه ........ 52

۵,۱. د ښځو چارو ریاستونه ........ 53

۶. پایلې ........................................................................................................................55
۷. سپارښتنې ........................................................................................................................ 57

# اصطلاحات

| | |
|---|---|
| AGO | د لویې څارنوالۍ دفتر |
| AIHRC | د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون |
| ANP | افغان ملي پولیس |
| ALP | افغان محلي پولیس |
| CEDAW | د ښځو پر وړاندې د هر ډول تبعیض د له منځه وړلو کنوانسیون |
| CID | د جنایي تحقیقاتو ریاست |
| DOWA | د ښځو د چارو ریاست |
| EUPOL | په افغانستان کې د اروپایی اتحادیې د پولیسو ماموریت |
| EVAW Law | د ښځو پر علیه د خشونت د منع قانون |
| FRU | د کورنی غبرګون څانګه |
| MoJ | د عدلیې وزارت |
| MOWA | د ښځو چارو وزارت |
| NAPWA | د افغانستان د ښځو لپاره د عمل ملی پلان |
| OHCHR | د بشری حقونو لپاره دملګرو ملتونو د عالی کمیشنر دفتر |
| TDR | د شخړې د حل دودیز میکانیزمونه |
| UNAMA | دافغانستان لپاره دملګرو ملتونومرستندویه پلاوی |
| UN Women | د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو اداره |
| VaW | د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی |

**پښتو ، دری او عربي لغتونه**

اربکی: د محلي ټولنې له خوا وړانديز شوي پوليس

بد: د قتل يا نورو جرمونو د جبران لپاره د ښځې ورکول

قباحت: هغه جرمونه چې سزا يې تر دريو مياشتو پورې کيدای شي

جرګه: د مشرانو غونډه

محرم: ميړه ، او يا بل نږدې خپلوان چې واده کول ورسره مشروع نه دي

شريعت: د قوانينو مجموعه چې له قران کريم او پيغمبر محمد (ص) له ښوونو او کړنو څخه را اخيستل شوي وي

شورا: محلي غونډه

تشکيل: د حکومت د استخدام رسمي جدول

علماء: ديني پوهان

زنا: له ودګني ژوند څخه بهر جنسي اړيکې

حد: حد د الله تعالی د حقوقو او حکمونو په وړاندې هغه جرايم دي ، د کومو لپاره چې په اسلامي شريعت کې جزاګانې تعيين شوي او جبري بڼه لري نه اختياري. په حدودو کې دغه جرمونه شامل دي: زنا ، غلا ، قذف ، ارتداد ، بغاوت ، حرابه او د شرابو څښل.

تعذير: له هغو جرايمو او جزاګانو څخه عبارت دی چې د اسلامي شريعت پر ځای د قانون له خوا تصريح او ټاکل شوې وي.

## صلاحيت

د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي (یوناما) او د هغې د بشري حقونو څانګه د امنیت شورا ۲۰۴۱ (۲۰۱۲) پریکړه لیک له مخې واک لري چې:

*د ملکیانو وضعیت وڅاري ، د هغوی د خوندیتوب په موخه همغږي رامنځته کړي ، احتساب ته وده ورکړي او د بشر د اساسي آزادیو او بشري حقونو اړوند احکام چې د افغانستان په اساسي قانون او نړیوالو میثاقونو کې چې افغانستان یې غړیتوب لري راغلي دي ، د بشپړ پلي کولو سره مرسته وکړي ، په ځانګړي ډول د هغو میثاقونو چې د هغوی له مخې ښځې د خپلو حقونو څخه په بشپړه توګه ګټه اخیستلی شي.*

د ملګرو ملتونو د امنیت شورا پریکړه لیک ۲۰۴۱ ټینګار کوي چې د ښځو او نجونو حقونه خوندي او وده ورکړي او د لاندې ډول تاوتریخوالي او د سپکاوي څخه یې وژغوري:

۴۲- دغه پریکړه لیک منلې ده چې د جنیست د برابری په اړه د شوي پرمختګ ، او د ترلاسه شوو موخو سربیره اړینه ده چې د ښځو او نجونو حقونه خوندي شي او دا یقیني کړي چې په افغانستان کې د ټولو ښځو او نجونو حقونه د تاوتریخوالي او سپکاوي څخه ، پرته له کوم توپیره د قانون له مساوي خوندیتوب څخه برخمن دي او ښځې په مساوي ډول عدالت ته لاسرسی ولري. سربیره پر دې دغه پریکړه لیک د ښځو او نجونو پر وړاندې توپیر او تاوتریخوالی په کلکه غندي.

۴۳- دغه پریکړه لیک د افغانستان د دولت ژمنتوب ته ښه راغلاست وایي ترڅو داسې یوه ستراتیژي جوړه کړي چې د هغې له مخې د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي د منع قانون په بشپړه توګه پلی کړي ، او همدارنګه د تاوتریخوالي څخه د زیانمنو لپاره خدمات برابر کړي. همدا ډول یادونه کوي چې د ښځو د حقونو وده او خوندیتوب د سولې ، بیا راستنیدنې او پخلاینې ، نه بیلیدونکې برخې دي.

یوناما د خپل څلورو کاري ساحو له لارې د ښځو د حقونو ګڼو اړخونو باندې کار کوي او په ځانګړي ډول د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي سره د مبارزې او په عامه چارو کې د هغوی د ګډون د ودې پیاوړتیا ته لومړیتوب ورکوي. په اتو ساحوي دفترونو کې د پرلپسې څارنې پر اساس یوناما د ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتریخوالي درې راپورونه خپاره کړي دي چې په کې پراخ

زیانمنونکي دودونه او همدا ډول د دولت د هغو کړنو ارزونه کړې ده چې  د هغوی له مخې د تاوتریخوالي څخه زیانمنو ته قانوني خوندیتوب ورکړل شوی دی.[1]

د ۲۰۱۱ م کال د نومبر په میاشت کې یوناما او د ملګرو ملتونو د  بشري  حقونو د عالي کمیشنرۍ (او ایچ سی ایچ آر)  " په مخ کې اوږده پرته لار" تر عنوان لاندې یو راپور خپور کړ چې د ۲۰۱۰ کال د مارچ له میاشتې  نه  د ۲۰۱۱ کال د سپتمبر تر میاشتې پورې  د عدلي او قضایي ارګانونو په  واسطه د ښځو پر علیه د خشونت د منع قانون د پلي کولو په اړه موندنې وړاندې کړې.[2]

[1] چوپتیا تاوتریخوالی دی ، په افغانستان کې د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی ختم کړئ ،
http://unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/human%20rights/vaw-dari.pdf
ناوړه دودونه او په افغانستان کې د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون تطبیق ،
http://unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/human%20rights/Harmful%20Traditional%20Practices%20and%20EVAW%20Law%20-%20Dari.pdf
په مخکې اوږده پرته لار: په افغانستان کی د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع قانون تطبیق ،
http://unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/Documents/A%20Long%20Way%20to%20Go%20-%20Implementation%20of%20EVAW%20law%20UNAMA%20Nov%202011-Dari.pdf

[2] د یوناما او د بشری حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالی کمشنر دفتر (او ایچ سی ایچ آر) د " په مخ کې اوږده پرته لار ، په افغانستان کې د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون تطبیق" تر عنوان لاندی یو ګډ راپور چی د ۲۰۱۱ کال د نومبر په میاشت کی خپور شو. په دغه راپور کی د  "یوناما راپور" کارول شوی اصطلاح څخه مقصد هماغه پورته یاد شوی ګډ راپور دی.

## میتودولوژی

دا راپور د ۲۰۱۱ کال داکتوبر میاشتی څخه د ۲۰۱۲ کال تر سپتمبر پورې د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی وضعیت او د قضایی پروسی په مختلفو پړاوونو کی د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د راپورشویو قضیو په اړه د حکومت له لوری د ښځو پر علیه د خشونت دمنع د قانون د تطبیق څرنګوالی بیانوی. دیوناما دفتر د ښځو پروړاندی د تاوتریخوالی د پیښو د راپوروکولو ، ثبتولو ، څیړلو او عدلي تعقیبولو او همدارنګه په ۲۲ ولایتونو کی د څارنوالانو ، قاضیانو او د پولیسو افسرانو لخوا دښځو پر علیه د خشونت دمنع د قانون د عملی کولو او د خشونت سره د مبارزی د ولایتي کمیسسونونو د کارونو د وضعیت په هکله احصائیوی اواساسی معلومات راغونډ کړي دي.[3]

همدارنګه یوناما د ۲۰۰ نه زیات ملاقاتونه او مرکی د تاوتریخوالي د قربانی ښځو ، د هغوی د خپلوانو او د تاوتریخوالی تورنو کسانو ، د دولتی روغتونونو ډاکټرانو ، د ښځو چارو ریاستونو د رئیسانو او نمایندګانو ، د عامی روغتیایي ریاستونو د نمایندګانو ، د افغان ملی پولیسو او د جنایې تحقیقاتو ریاست ، د افغانستان بشر د حقونوخپلواک کمیسون ، څارنوالانو ، د ابتدائی محکمو قاضیانو ، مدافع وکیلانو ، د حقوقی مرستو د ادارو نمایندګانو ، د غیردولتي ملی سازمانونو ، د ملګرو ملتونو د ادارو او د ژورنالستانو سره کړي دي.

دا راپور د دې دعوه نه کوي چې د ښځو پروړاندی د تاوتریخوالی ټولي پیښې د اکتوبر ۲۰۱۱ نه ترسپتمبر ۲۰۱۲ پورې په بشپړه توګه ترپوښښ لاندی راولي. له ډیرو مرکو او ملاقاتونو څخه لاس ته راغلی معلومات دا ښیی چې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي پیښې ترډیره حده پټې دي او څوک یې راپور نه ورکوي او هغه پیښې چې د قانون د تطبیقو کوونو او قضایي ارګانونو او یا هغه پیښې چې د وخامت له نظره د عامه خلکو پاملرنه د رسنیو له لاری جلبوي ، د افغانستان په سطحه د ښځو پر وړاندی د تاوتریخوالی د ډیرو کمو پیښو نمایندګي کوي. یوناما په دې نظر دی چې سختو ، دوامدارو ، اوسیستماتیکو معلوماتو راغونډولو ته ضرورت دی ترڅو د ښځو پر وړاندې

[3] ۱۶ ولایتونه بدخشان ، بادغیس ، بامیان ، دایکندی ، فراه ، غور ، جوزجان ، کاپیسا ، خوست ، کنړ ، لغمان ، ننګرهار ، پکتیکا ، پکتیا ، پروان ، او سمنګان دی.

د تاوتریخوالی د لاملونو ساحه ، ماهیت او اندازه معلومه شی او په ښه توګه د حل لارې چارې ورته پیدا شي.[4]

## *د معلوماتو په راغونډولو کې ستونزې*

سره له دې چې یوناما په دوامداره توګه د افغان چارواکو سره په تماس کې ده او له دوې سره د یوناما د ماموریت په اړه چې د بشري حقونو د سرغړونو څخه نظارت دی ، خبرې کړي خو بیا هم په ځینو سیمو کې چارواکي د معلوماتو په شریکولو کې د دوو دلایلو له مخی غلي وو: د دې نظریې شتون چې که چیرته معلومات شریک شی نو د قانون د حاکمیت اداري پورې تړلی یو شخص د کړنو په اړه به قضاوت وشي. او د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د پیښود ثبتولو د منظم سیستم نه شتون په ځانګړې توګه په هغو ادارو کې چې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي په پیښو کار کوي د پیښو د معیاری او سم مدیریت د سیستم نشتوالی.

په پایله کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د پیښو د ثبت او تعقیبولو او د ښځو پر علیه د خشونت د منع قانون د تطبیق په اړه د مربوطه ادارو لکه د ښځو چارو د ریاست ، افغان ملی پولیس ، څارنوالی ، او محکمو څخه دیوناما د د فتر سره په راز راز او جلا جلا سطحو کې همکاري ، دهرې اداري له خوا د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالی د پیښو راز راز طبقه بندي ، او د پیښو په ثبت او مدیریت کولو کې ستونزې د دې عمده دلایل دي چې یوناما و نه شوای کړای چې یوه هر اړخیزه کتنه تر لاسه کړي. د ځینو ابتدایه محاکمو څخه د مستقیمو معلوماتو ترلاسه کول هم ناممکن وو او په داسي حالاتو کې یوناما د معلوماتو په دوهمه درجه منابعو تکیه کړی ده.

د ښځو په وړاندې دتاوتریخوالی په احصاییو کی چې د اړوندو ادارو څخه ترلاسه شوي اکثرا مدنی قضیی د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د جرمونو سره شامل وو. د دولت په مربوطو ادارو کی د یو مناسب او په معیار برابر د قضایاوو د اداري سیستم نه پرته دا یو ستونزمن کارو ،چې د راپور شوی قضیې نتیجه تعقیب شی. د یوناما ارزیابي دا جوتوي چې د قضایی ارګانونو له خوا د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالی راپور شویو پیښو تعقیبول کله چې دا قضیې دیوې اداري څخه بلې ته

[4] دبشردحقونوخپلواک کمیسیون دشمسی کال په اولو ۹ میاشتو(مارچ نه ترسپتمبر۲۰۱۲) دښځوپروړاندی دتاوتریخوالی ۴۰۱۰ پیښې ثبتې کړي دي. دبشري حقونوخپلواک کمیسون دښځوپروړاندې دتاوتریخوالی قضیو د ثبتولو معیارونه د ملی پولیساو څارنوالۍ دثبتولو له معیارونو سره یو څه ورته والی لری خو یو له بل سره فرق لری. دبشري حقونوخپلواک کمیسون معلومات په لاندینی ادرس کې موجود دي:
http://www.8am.af/index.php?option=com_content&view=article&id=28666:---28--&catid=1:title&Itemid=553

انتقال کیږی ضعیف دي. دغه حالت د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د قربانیانو لپاره د حکومتي چاړواکو له لوري د پراخو، موثرو او کافی ځواب ویلو او د هغوي په حقوقي ساتنه کې غښه تشه منعکسوي.

د ۳۴ ولایتونو څخه د کره او معتبرو معلوماتو د لاس ته راوړلو لپاره یوناما د ګواښ سره مخامخ و، په دی راپور کی د ۲۲ ولایتونو څخه د معلوماتو تحلیل وړاندی کیږی. دا هم سخته وه چی په ټول هیواد کی د دولت له هر ارګان څخه یو شانته معلومات راټول شی دغه ستونزه د دی باعث شو چی د مقایسوی تحلیلونو او واضح معیارونو لپاره د پرمختګ د مشترکو شاخصونو ارزونه له ګواښ سره مخامخ شی.

د مثال په توګه، هغه ولایتونه چی یوناما د هغوی له پولیسو، څارنوالیو او محکمو څخه معلومات ترلاسه کړی دی، یو شانته نه دی. یوناما د پکتیا او کابل له څارنوالی څخه معلومات ترلاسه کړ لاکن د دغو ولایتونو له پولیسو څخه ترلاسه نه کړ. د نیمروز او کندهار ولایت څارنوالی د یوناما سره د معلوماتو د شریک کولو څخه ډه ډه وکړل، په داسی حال کی چی د دغو ولایتو له پولیسو څخه د ښځو پر وړاندی د تاوتریخوالی پیښبی ترلاسه شوی و. سره د دی چی د کابل او کندهار له ابتداییه محکمو څخه غوښتنه وشو، خو بیا هم له دوی څخه معلومات ترلاسه نه شو.

که څه هم د میتودلوژی څخه کار اخیستل شوی، په اوسنی او پخوانی راپور کی (په مخکی اوږده پرته لار، په افغانستان کی د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع د قانون تطبیق) کارول شوی موجود او دلاس رسی وړ معلومات او کارول شوی تحلیل په بشپړ ډول یوشانته نه دی چی په نتیجه کی د دوادو راپورونو د موندنو مقایسی له ستونزی سره مخامخ کړ. سره له دی هم یوناما وکولای شو چی د خپل موندنو پر بنسټ، چی د دغو دوه نیمو کلونو په موده کی تر پوښښ لاندی نیول شوی دی، د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع قانون تطبیق تر مقایسی او کتنی لاندی ونیسی.

د هغو 22 ولایتونو لست چی یوناما د پولیسو، څارنوالیو، او محکمو څخه معلومات راټول کړی دی په لاندی ډول دی:

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| پولیس | بدخشان | بادغیس | بلخ | بامیان | دایکندی | فراه | فاریاب | غزنی | غور | هرات | جوزجان | کندهار | **کابل** | کاپیسا | خوست | کنر | لغمان | ننگرهار | نیمروز | **پکتیکا** | پکتیا | پروان | سمنگان | تخار | |
| څارنوالی | بدخشان | بادغیس | بلخ | بامیان | دایکندی | فراه | فاریاب | غزنی | غور | هرات | جوزجان | **کندهار** | کابل | کاپیسا | خوست | کنر | لغمان | ننگرهار | **نیمروز** | پکتیکا | پکتیا | پروان | سمنگان | تخار | |
| محکمی | بدخشان | بادغیس | بلخ | بامیان | دایکندی | فراه | فاریاب | غزنی | غور | هرات | جوزجان | **کندهار** | **کابل** | کاپیسا | خوست | کنر | لغمان | ننگرهار | نیمروز | پکتیکا | پکتیا | پروان | سمنگان | تخار | |

نوټ: دپه ګوته شویو ولایتونوکوم مالومات ندي ترلاسه شوي.

## ۱. د راپور لنډيز

*ما پنځه مياشتې مخکې د انجيل ولسوالۍ د ساوا کلي د يو سړي سره واده وکړ. زما خاوند او خسر زه څو وارې پرته له کوم سببه وهلې يم. پوليسو بد چلند دې ته اړه کړم چې شکايت وکړم او ټولې هڅې مې په دې بيهوده ولاړې چې ښارنوال زما په عريضه سترګې پټې کړې او اخطار يې راکړ ترڅو له خپلې دعوې تيره شم او يا بند قبول کړم.*

-- يوه ۱۵ کلنه ميړوښې جينۍ چې وهل او ټکول شوې وه او بيا وروسته د هرات په ولايت کې د ۲۰۱۲ کال د اګست په مياشت کې د جبري ځان سوزونې له امله مړه شوه.[5]

د ۲۰۰۹ کال د اګست په مياشت کې د افغانستان دولت د نورو تدابيرو په نيولو سره د ښځو د حقونو د خونديتوب او د قانون پر وړاندې د ښځو د برابرۍ څخه د ملاتړ په څرګندولو د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د منع قانون د منځته راوړلو له لارې خپلې قانوني ژمنې ترسره کړې.[6] په دغه تاريخي قانون کې د لومړي ځل لپاره په کم عمرۍ کې ودونه ، جبري ځان سوزونې او د جنسي تيري په شمول ۱۹ نور د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي کړنې جرم ګڼل شوي او د مرتکبينو لپاره يې مجازات وضع شوي دي.

د ښځو پر عليه د تاوتريخوالي د منع قانون د دوراني بدلونونو پرمختګ د ۲۰۱۲ کال د جون په مياشت کې د توکيو د دوه اړخيزو مسؤليتونو کاري چوکاټ په ترون کې تقويت وموند ، کوم چې په افغانستان کې د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د پراخه شتون او په افغاني ټولنه کې د ښځو د حقونو په بيلابيلو پړاوونو کې د مخنيوي په نظريې ټينګار کوي. زيانمنونکې دودونه او همدارنګه په افغانستان کې د ښځو پر وړاندې تاوتريخوالی د ښځو د ټولنيز ژوند مخنيوی کوي چې د

---

[5] سعادت يوه ۱۵کلنه ميړوښې جينۍ ده چې د پوليسو وهلو او ټکولو قرباني ده چې د ۲۰۱۲ کال د فبرورۍ په شپاړسمه نيټه ځان سوزونې ته اړه کړای شوې وه. هغه د درملنې لپاره د ترکيې هيواد ته يوړل شوه او په پای کې د ۲۰۱۲ کال د فبرورۍ په ۲۳ مه نيټه مړه شوه. د هغې قضيه د يوناما دفتر له خوا څارل کيده.

[6] د دولت نور تدابير يعنې د ۲۰۱۰ د جون په مياشت کې د ښځو پر عليه د تاوتريخوالي د منع قانون د کميسيون ايجاد او تنظيم او د دې کميسيون د ولايتي څانګې جوړول ، په ۲۰۱۰ کال د مارچ په مياشت کې په لوی څارنوالۍ کې د ځانګړې رياست جوړول ، د ۲۰۱۱ کال د سپتمبر په مياشت کې د ښځو لپاره د امن کور لايحه جوړول ، د دوی لپاره د تقنيني مرستو برابرول ، د ۲۰۱۲ کال د جولای په مياشت کې د اداري فساد ختمولو په اړه د جمهور رييس د ۴۵ نمبر فرمان ، د افغان ملي پوليسو په دفترونو کې د جندر د څانګې جوړيدل او همدارنګه په مختلفو وزارتونو او رياستونو کې د جندر د څانګې تشکيل.

تصاميمو په نیولو او په سیاسي غونډو کې یې د دوي د غږ اوچتولو مخه ډب کړې  ده. د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع د قانون په تطبیق کی پرمختګ کولای شی ښځې ته توان ورکړی چی د اوسنۍ سولی او پخلاینی په پروسه کی ارزښتناکه او اغیزناکه ونډه ولری. د دوامداری سولی او امنیت ، په تصمیم نیونو کی د ښځو د برخه اخیستنی د زیاتوالی او شخړو د له منځه وړلو او هوارولو په موخه ملګری ملتونه په کراتو په دی ټینګار کړی چی د ښځو مساوی ونډه اخیستنه تضمین شی.

دغه راپور د ۲۰۱۱ کال د اکتوبر څخه د ۲۰۱۲ کال تر سپتمبر  په موده کی د عدلي او د قانون د انفاذ کوونکو ادارو له خوا د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع د قانون تطبیق تر څیړنی لاندی نیسي او هغه ګواښونه په ډاګه کوی چې ښځې عدالت ته د لاس رسی لپاره لا هم ورسره مخامخ دی. د دی راپور تحلیلونه د هغو معلوماتو پر بنسټ لاندی ولاړ دی کوم چې د افغانستان د ۳۴ ولایتونو له جملی څخه له ۲۲ ولایتونو څخه راټول شوی دی او د نمونی په ډول د ښځو پر وړاندی د تاوتریخوالی د هغو پیښو راپور ورکول ، ثبتول او قضایی مراحل په ډاګه کوی چې د افغان ملي پولیسو ، څارنوالیو او ابتداییه محکمو له خوا د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع د قانون او جزا قانون له مخی ترسره شوی.[7] یوناما له ۱۶ ولایتونو څخه مفصل معلومات راټول او تحلیل کړی دی چیری چی د پولیسو ، څارنوالانو او محکمو له خوا پیښی د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع د قانون په کارولو سره پې ګیری شوی دی.[8] همدا راز دغه راپور د ښځوچارو د ریاستونو او د ښځو پر وړاندی د تاوتریخوالی د منع د کمیسیونو ارزښتناکه ونډه په نښه کوي. دغه راپور د یوناما د ۲۰۱۱ کال د نومبر په پخوانی راپور کی (چی د په مخکی اوږده پرته لار: د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع د قانون تطبیق تر عنوان لاندی دی) د دغی قانون د تطبیق په اړه د موندنو په باب نوی معلومات وړاندی کوی.

د ۱۲ میاشتو په موده کی اوسنی راپور دا وموندله چی د عدلی او د قانون د انفاذ کوونکې ادارې له خوا د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع د قانون په تطبیق کی هم مثبت پرمختګ او هم

---

[7] د افغانستان ځینو سیمو ته د لاس رسی د محدویتونو ، د قانون د انفاذ کوونکو ادارو له خوا د همکاری روحیی نشتوالی او د معلوماتو نه شتون او په راټولو کی د ستونزو له امله  د ۳۴ ولایتونو له جملی څخه یوازی د ۲۲ ولایتونو څخه یوناما معلومات ترلاسه کړ. دغه راپور په ټول آفغانستان کی د ښځو پر وړاندی د تاوتریخوالی ټولی پیښی تر پوښښ لاندی نه نیسی. د دی راپور میتودولوژی برخه وګورئ.

[8] ۱۶ ولایتونه بدخشان ، بادغیس ، بامیان ، دایکندی ، فراه ، غور ، جوزجان ، کاپیسا ، خوست ، کنړ ، لغمان ، ننګرهار ، پکتیکا ، پکتیا ، پروان ، او سمنګان دی.

دوامدارې تشي شتون لري. سره د دې چې ځارنوالانو او محکمو د ښځو پر وړاندی د تاوتریخوالی د یو شمیر زیاتو پیښو په مورد کی دغه قانون تر زیاته حده تطبیق کړی خو بیا هم د دی قانون په مجموعی ډول تیټه کارونه دا ښیي چی د دی قانون سره په استفادی سره د تاوتریخوالی څخه د ښځو او نجونو د ساتنی لپاره لا هم په مخکی اوږده لار پرته ده.

دخشونت قرباني میرمنې او نجونې لا هم نه غواړي د خپل حالت په اړه د قانون د انفاذ اړوندو عدلي موسسو ته د فرهنګي محدودیتونو ، ټولنیزو نورمونو او رواجونو ، دودیزو او مذهبي ګروپرنو له امله چې ښځې ماتحت حالت ته راولي ، د ټولنیزداغ ، استثنی کولو او ځینې وختونه حتی دوي ژوند ته د خطر له امله راپور ورکړي. په پایله کې د تاو تریخوالي ډیری پیښې چې د ښځو په وړاندې ترسره شوي د هغو راپور د قانون د تنفیذ ادارو او عدلي موسسو ته نه دی وړاندې شوی. دبیلګې په توګه د افغانستان د بشري حقونو دخپلواک کمیسیون د پکتیا د ولایت د ځانګې د اټکل له مخې نږدې ۸۰ سلنه دغه ډول قضیې ملي پولیسو او عدلیې ته نه دي راپورشوي.

د دی راپور په موده کی په ټولیز ډول د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي پیښې چی یو شمیر سازمانونو او ادارو[9] ته راپور شوي دي زیاتې شوي دي چی دا ښه پرمختګ دی. د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون د ۲۰۱۲ کال د مارچ له ۲۱ څخه د همدې کال د اکتوبر تر ۲۱ نېټې پورې په ټول افغانستان کی دا ډول ۴۰۱۰ قضیې ثبتې کړې دي. د دې په پرتله دې کمیسیون په ۲۰۱۱ ټول کال کې ۲۲۹۹ قضیې ثبتې کړي وي (د ۲۰۱۰ کال د مارچ له ۲۱ څخه د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۲۱ پورې).[10] د پیښو د راپور ورکونی د کچی دغه زیاتوالی ښایي له دې امله رامنځ ته شوي وي چې د مدني ټولنې ، حکومت او نړیوالو فعالینو له خوا له ښځو سره د تاوتریخوالي په ضد او د ناوړو او جزایی پایلو په هلکه د عامه پوهاوي زیات شوي وي. د دغو دلیلونو په اساس د پیښو په راپور ورکونه کی دغه زیاتوالی دا نه منعکس کو ی چی د ښځو پر وړاندی د تاوتریخوالی پیښی زیاتی شوی وی.

[9] په دی کی دغه اداری او سازمانونه شامل دی: د ښځو چارو ریاستونه ، د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون ، د حقوقی همکاریو سازمانونه ، روغتونونه او د مدنی ټولنی او د ښځو د حقونو یو شمیر سازمانونه.

[10] د افغانستان د بشری حقونو د خپلواک کمیسیون څخه لاس ته راغلی معلومات ، کابل ، د ۲۰۱۲ کال د ډسمبر ۶. همدارنګه دغه راپور هم وګورئ: په مخکی اوږده پرته لار ، په افغانستان کی د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع د قانون تطبیق ، http://unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/Documents/A%20Long%20Way%20to%20Go%20-%20Implementation%20of%20EVAW%20law%20UNAMA%20Nov%202011-Dari.pdf

د مشاهدو په ترڅ کې یوناما وموندله چې په ۲۲ ولایتونو کې څارنوالان د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي ۱۵۳۸ راپور شوي پیښې ثبتې کړي دي.[11] دغه شمیر د داسې قضیو په ثبت کې زیاتوالی څرګندوي که له هغه شمیر سره پرتله کړای شي چې د یوناما د تیرې دورې په موندو کې د دغو قضیو شمیر په دغو ۲۲ ولایتونو[12] کې یوازې ۵۲۹ قضیو ته رسیدلي و.[13] د اوسنۍ دورې له نیمايي څخه زیاتې راپور شوي قضیې د کابل (۶۷۰ پیښې) او هرات (۳۳۵ پیښې) له ولایتونو څخه وو چې د تیرې دورې له موندنو سره مطابقت لري.

د ۲۲ ولایتونو ښاري محکمو (له کابل څخه پرته) په مجموعي ډول ۳۷۸ قضیې په همدې موده کې ثبتې کړې چې د ۲۲۵ هغو په باب حکم صادر شوی. د ښاري محکمو له خوا د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د پیښو ثبتول د پخواني دورې په پرتله څلور برابره زیاتې شوي دي.[14]

د یوناما له خوا په ۱۶ ولایتونو کې چیرته چې په تفصیل سره د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د منع قانون د پلي کیدو په اړه د پولیسو، څارنوالۍ او ابتدایيه محکمو تفصیلي معلومات د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د پیښو اړوند راټول کړي، ۴۷۰ راپور شوي دوسیې د پولیسو او څارنوالۍ سره ثبت شوي. د هغې له ډلې څخه ۱۶۳ پیښو کې څارنوالۍ اقامه دعوی کړې ده، چې ۱۰۰ دوسیو کې محکمو فیصلې صادرې کړې دي (۶۱ سلنه).[15] د ۱۶۳ اقامه شوي قضیو له جملې څخه ۷۲ قضیې (۴۴ سلنه) د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون پر بنسټ ثبت شوي دي. البته د ۷۲ دوسیو له ډلې ۵۲ (۷۲ سلنه) یې د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي د منع قانون له مخې فیصله شوي دي.[16] کله چې څارنوالان په خپلو دوسیو کې په ټولیز یا نسبي ډول د ښځو پر

---

[11] ۱۶ ولایتونه بدخشان، بادغیس، بامیان، دایکندی، فراه، غور، جوزجان، کاپیسا، خوست، کنړ، لغمان، ننګرهار، پکتیکا، پکتیا، پروان، او سمنګان دی. په دی راپور کی د "پیښو" د اصطلاح څخه معنی دا چی ښځو پر وړاندی د تاوتریخوالی ادعا شوی جرمونه د څارنوالیو له خوا ثبتی شوی دی. ثبتول د دی معنی نه ورکوی چی څارنوال د هری ثبتی شوی قضیی په اړه تحقیقات شروع کړی، پیښه د تحقیقاتو لپاره پولیسو یا د ښځرو د هوارولو دودیزو میکانیزمونو ته راجع کړی او یا هم پیښه تر تحقیق لاندی نیولی دی. د پولیسو او څارنوالیو له خوا د راپور شوی پیښو د ثبتولو څخه مقصد دا دی چی دوسیه جوړه شوی خو د دی معنی نه لری چی پکی تحقیق شوی دی او یا بل عدلی اداری ته راجع شوی دی.

[12] د یوناما ساحوی څارنی، د ۲۰۱۱ کال سپتمبر.

[13] د یوناما د تیری دوری ساحوی څارنی د ښځو پر وړاندی د تاوتریخوالی ۸۴ پیښی چی د دغو ښاري محکمو له خوا ثبتی شوی وی، په نښه کړی.

[14] بامیان، دایکندی، پروان، کاپیسا، ننګرهار، کنړ، لغمان، بلخ، جوزجان، سمنګان، فریاب، تخار، بدخشان، خوست، پکتیا، پکتیکا، غزني، نیمروز، هرات، فراه، بادغیس، غور

[15] د یوناما د تیری دوری ساحوی څارنی د دغو ۲۲ ولایتونو څخه 727 پیښی ثبت کړی.

[16] د ۴۷۰ راپور شوی پیښو له جملی څخه د ۱۶۳ پیښو دعوی اقامه شوی او پاتی ۳۰۷ نوری پیښې د شخړو دودیزو میکانیزمونو او منځګړیتوب ته راجع شوی او یا هم بیرته اخیستل شوی.

عليه د تاوتريخوالی د منع په قانون استناد کړی دی ، دغه موندی دا ښيی چې د ښځو پر وړاندی د تاوتريخوالی د قضيو د تعقيب په نتيجه کی د محکوميت حکم صادر شوی دی.

د يوناما له خوا موندنې ښيي چې د تيرې دورې د راپور په پرتله د ښځو پر عليه د تاوتريخوالي د منع قانون په تطبيق کې د څارنوالانو او لومړنيو محکمو له خوا پرمختګ شوی دی.[17] څارنوالۍ د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي زياتې قضيې ثبت کړې دي او ښاري محکمو د ښځو پر عليه د تاوتريخوالي د منع قانون پر اساس زياتې فيصلې صادرې کړې دي. دغه يو ښه او د پام وړ پرمختګ دی. البته د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون له خوا چې د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي ۴۰۱۰ پيښې چې د ۲۰۱۲ کال د مارچ او سپتمبر مياشتو ترمنځ ثبت شوي دي ، خو په هغه ۱۶ ولايتونو کی چی ۲۰۱۱ کال د اکتوبر څخه د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر په موده کی د عدلي جريان په وخت کې ډيرې کمې پيښې د ښځو پر عليه د تاوتريخوالي د منع قانون پر اساس حل او فصل شوي دي.

يوناما له خوا د ښځو پر عليه د تاوتريخوالي د منع قانون له مخې د ناحقه وهلو او ټپي کولو جرمونه د تر ټولو زيات پيښيدونکي جرم په توګه پيژندل شوی دی ، دغه راز د ناموس په نوم د وژنې په جرم کې هم زياتوالی ليدل شوی دی. دغه راز په همدې موده کې څارنوالانو په غلطه توګه دې ته ادامه ورکړې چې ښځې او نجونې له کورونو څخه د تيښتې له امله چې زياتره د تاوتريخوالي څخه د خلاصون لپاره ترسره کيږي تر عدلي تعقيب لاندې نيسي. ملي پوليسو داسې ۶۲ د تيښتې قضيې ثبتې کړې ، څارنوالۍ ۳۱ او محکمو ۹ قضيې ثبتې کړې دي.[18] د افغانستان د قوانينو يا د اسلامي شريعت پر بنسټ ، له "کور څخه تيښته" جرم نه ګڼل کيږي ، خو سره له دې هم د قانون تطبيق کوونکي چارواکي ښځې او نجونې د "اخلاقي جرم" په تور توقيف کوي او دوي د زنا د عمل د قصد په تور نيسي. د ۲۰۱۲ کال په سپتمبر کې د عدليې وزير ، د ښځو چارو د وزيرې او د کورنيو چارو معين له خوا ددې عمل په ښکاره غندل د ښځو د حقونو د ملي او نړيوالو سازمانونو له خوا وستايل شول.[19] دا ډول رسمي ويناوې ډير ارزښت لري او کولای شي چې افغاني

---

[17] د تيری دوری راپور په موده کی په ۱۶ ولايتونو کی څارنوالانو او پوليسو د ښځو پر وړاندی د تاوتريخوالی ۳۳۷ قضيی ثبتی کړی چی پر ۵۶ يی د محکوميت حکم صادر شوی دی. د دغو ۵۶ قضيو له جملی څخه په ۱۹ (۳۴ سلنه) قضيو کی د ښځو پر عليه د تاوتريخوالی د منع له قانون څخه کار اخيستل شوی دی.

[18] د داخلی وزارت د کورنۍ غبرګون څانګی د احصاييو له مخی په ۳۳ ولايتونو کی (پرته له کابل څخه) د لمريز کال په تيرو ۸ مياشتو کی د کور څخه د تيښتي ۱۱۹ قضيی ثبتی شوی دی. احصاييی د يوناما سره شريکي شوې ، د ۲۰۱۲ کال نومبر.

[19] د پارلمان د ښځو چارو ، مدنی ټولنی او بشری حقونو د کميسيونونو اختصاصی مجلس ، کابل ، د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر ۱۶.

نجونې او ښځې له تاوتریخوالي څخه وژغوري خو دې ته اړتیا ده چې باید په بشپړ ډول عملي شي او سیاسی ملاتړ ولری.

همدارنګه راپور څرګندوي چې ملي پولیس او څارنوالي دې ته ادامه ورکوي چې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي پیښو کې ، د دې پر ځای چې قانوني اجراآت ترسره کړي د جدي جرمونو ډیرې قضیې جرګې او شورا ته راجع کوي ترڅو یې حل او فصل کړي او یا لازمې مشورې ورکړي چې د دوي دا چلند د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي د منع قانون ته زیان رسوي او یا هم د ډیر ځله د خطرناکو او ناوړه دودیزو عملونو او رواجونو د پیاوړتیا لامل ګرځي. راپورونو جوته کړې چې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي ډیرې قضیې چې د دودیزو میکانیزمونو ته د حل په موخه سپارل شوی دي د دودیز میکانیزم د پریکړو مشاهدې له مخې داسې فیصلې همیشه د محلي زور واکانو له خوا په محلي سطحه د مختلفو کړنلارو له مخې فیصلې د رسم او رواج ، د شریعي اصولو په بنسټ چې تعبیر او تشریح یې په هرځای کې جلا جلا شوې او د ځایي زورواکانو د تعلقاتو پر بنسټ یې ځینې د شریعت اصول او قانون سره په مغایرت کې واقع شوي ، فیصله شوي دي ، چې په نتیجه کې د ټولنې محرومه قشر یې ښځې او ماشومان تشکیلوي ، نوره هم پسې قرباني شوي دي. د مثال په ډول محکمه شاید یو کس د زنا بالجبر په تور په اوږده بند محکوم کړي ولې د دودیز میکانیزم د فیصلې پر بنسټ ښایي دغه تورن ته د زنا د فعل د قربانی سره د واده کولو او یا هم په بدو کې د بدل ورکولو فیصله وکړي.

یوناما وموندله چې دښځو په وړاندې دتاوتریخوالي ډیری قضیې چې د منځګړیتوب لپاره دودیزو میکانیزمونوته سپارل شوي دي په داسې ډول حل شوي چې د ښځو چارو ریاستونو ،ملي پولیسو او څارنوالۍ له دې پروسې څخه په مناسب ډول څارنه نه ده کړې چې په پایله کې ،چې کله ښځې دمنځګړو د فیصلو وروسته کورونوته ستنې شوې ، ډیر ځلې بیا د تاوتریخوالي له ګواښ سره مخامخ شوي دي .

یوناما پخپلو مشاهداتو کې داسې بیلګې موندلې دي چې دښځو په وړاندې د تاوتریخوالي هغه مجرمین نه نیول کیږي چې له وسله والو او حکومت ضد مخالفینو سره تړاو او اړیکي لري ،یاحکومتي ملیشاء ،اربکي ،افغان سیمه ایز پولیس اویاپه حکومت کې یاله حکومت څخه بهرد نفوذ خاوندان وي اویاهغه کسان چې چارواکوته بډې ورکوي. یوناما لیدلي دي چې ملي پولیس په ځینوبرخوکې دمجرمینوپه وړاندې کمزوري دي اویادهغوپلوي کوي ځکه چې بډې ترې اخلي یاهم دعدالت په پلي کولو کې بې پرې نه وي . دغه حالت چې دقانون دانفاذ دچارواکوله کم

ظرفيتي سره يوځای شي ، پايلې يې په دې ختميږي ،ترڅوپه ټول هيوادکې دښځوپه وړاندې دتاوتريخوالي مجرمين ډير ځلې دجزا څخه خلاصون اومعافيت مومي .

دپوليسودظرفيت مسله هم دښځوسره دتاوتريخوالي دقضيوپه څيړلوکې د يو خنډ په توګه ګڼل کيږي. ډيرې ښځې عدالت ته له دې امله هم لاس رسي نه لري چې په پوليسو کې ښځينه کدرونه چې صلاحيت ولري نشته .

يوناما وموندله چې له ښځو سره د راپورونو په اړه يوه مفصله رسمي احصائيه لا تر اوسه نشته. په دې برسيره ، د معيارونو يو لست چې د ښځو پر عليه د تاوتريخوالي د منع د قانون له مخې د تيريو يو لست وي او د قانون د انفاذ له ادارو ، د ښځو د چارو د رياستونو او د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کميسيون له خوا په مشترک ډول ومنل شي نشته. دغه حالت د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي د ماهيت ، لاملونو ، خنډونو او پراخوالی په هکله ډير ګواښونه رامنځ ته کوي چې کيدای شوای د چارو د حل لپاره يې ګټورې پايلې درلودلای.

يوناما وموندله چې د تاوتريخوالی د منع ولايتی کميسيونونه د خپلو صلاحيتونو او دندو په اجرا کې لا اوس هم ستونزې لري او په کابل کې د تاوتريخوالی د منع عالی کميسيون ، چې د ولايتي کميسيونونو د کړنو څارنه کوي ، له خوا نورو مرستو او د نظارت يوه ښه ميکانيزم ته اړتيا لري چې وکولای شي خپلې ور سپارل شوې دندې په ښه توګه تر سره کړي.

د ښځو پر عليه د تاوتريخوالي د منع د قانون د پلي کولو په وړاندې رواني ننګونې د هيواد د ښځو لپاره، د عمل د ملي پلان ۲۰۱۸-۲۰۰۸ (NAPWA) يو کليدي عنصر جوړوي ، دا د افغانستان د قانون جوړونې په چوکاټ او قضايي سيستم د بيا کتنې غږ کوي ، چې د ښځو لپاره د برابرۍ او نه توپير چې د افغانستان په اساسي قانون او د بشري حقونو په کنوانسيونونو کې ځای شوي ، تضمين کړي. په دې وروستيو کې ، د افغانستان حکومت د خپلو نړيوالو همکارانو په مرسته د توکيو د حساب ورکونې (TMAF) د دوه اړخيزه چوکاټ له لارې د ښځو د حقونو او د جنډر د برابرۍ د پلي کولو په هکله خپلې ژمنې بيا تاييد کړي. د توکيو د حساب ورکونې دوه اړخيزه چوکاټ په پنځو مهمو سکتورونو کې چې موخه يې د زياتې پراختيا د مرستې د چوکاټ په دننه کې په خپل ځان د يوه متکي افغانستان د پرمختګ او بهبود ملاتړ دی ، معيارونه په ګوته کړي دي. د افغان ميرمنو لپاره د عمل د ملي پلان او د ښځو پر عليه د تاوتريخوالي د منع د قانون پلي کول د څو راتلونکو کلونو په ترڅ کې د بشري حقونو او د قانون د حاکميت او حکومتدارۍ د

ښه کولو د یوې موخې د تر لاسه کولو په حیث د حکومت د کار د دوو کلیدي ساحو د شاخصونو په خیر پیژندل شوي.

د راپور موندنې دغه راز څرګندوي چې د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون په تطبیق کې د دې ډول پېښو د راپور ورکولو ، تحقیق کولو او ثبتولو په مراحلو کې ستونزې د عمده عواملو په څیر ګڼل کیږي. په ډیرو ولایتونو کې د ښځو د چارو ریاستونو ثابته کړې چې د تاوتریخوالي د قرباني ښځو لپاره یې اغیزناک میکانیزمونه برابر کړي څو هغوي خپل راپورونه ثبت کړي ، خو د ښځو لپاره په رسمي قضایي موسساتو کې عدالت ته لاس رسي د ستونزې په څیر په ځای پاتې دی.

په پایله کې ، د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون د پلي کولو په برخه کې ښه والی ، او د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د پیښو په شمیر کې ټیټوالي د ښې ساتنې لپاره لارې چارې برابرې کړي او د ښځو حقونو ته یی وده ورکړې او په ټولنه کې یی د هغوي مهم نقش او فعال ګډون او هغه هڅې چې پر مټ یې په هیواد کې سوله ، امنیت او سوکالي تر لاسه کیدای شي ، غښتلې کړي.

## مهمې سپارښتنې

### افغان حکومت ته

- په لوړه کچه ، د ولسمشر په ګډون ، باید په دې باندې خپل ټینګارته دوام ورکړي چې دښځودحقونو پرمختګ اوساتنه دسولې اوبیا پخلاینې د بهیر یوه مهمه برخه اوله لومړیتوبونو څخه او د هیواد د سیاسي ، اقتصادي او امنیتي ستراتیژیو د یوې مرکزي ستنې په توګه وګڼل شي .
- دنړیوالو مشارکینوسره په ټراوکې،دتوکیو داعلامیې اوجمهوري ریاست د۴۵ ګڼې فرمان[20] سره سم ، چې دجنډر دمساوي توب اوښځود پیاوړتیا په موخه او د ښځو پر علیه دتاوتریخوالي دمنع دقانون داغیزمن پلي کولو لپاره ځانګړې شوي دي ،دڅارنې اونظارت دوه اخیزه چوکاټ ته وده ورکړای شي .

---

[20] د فساد سره د مبارزې او حکومت داری مسالو ته د رسیدګی په اړه د جمهور رییس د ۲۰۱۲ کال د جولای فرمان چې ټولو کلیدی وزارتونو ، نهادونو او ریاستونو ته لارښوونه کوی.

**د ښځو چارو وزارت او دښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي لپاره عالي کمیسیون ته**

- د ولسوالیو په کچه د ارجاعي میکانیزمونو طرح او پلي کول ، د استازي د دفتر له خوا د هغوي د یوه غړي په واسطه د دغو ارجاعي میکانیزمونو همغږه کول ، ترڅو د ښځو پر علیه د خشوت د منع د قانون د ۱۶ مادې په اساس د روغتیایي پاملرنې ، حقوقي مرستې ، رواني- ټولنیز ملاتړ ، سرپناه په هکله د خدمت برابرولو یا قانون پلي کوونکو ادارو ته د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د قربانیانو ارجاع او تعقیب په موخه اسانتیاوې برابرې کړي.

- دښځوچارو وزارت باید دکورنیوچارو ،عدلیي وزارتونو اولوی څارنوال له دفترسره همغږه شي ترڅو د معیاري صنف بندي اوکتګوري رامنځته کړي چې ټولې قانون پلي کوونکې ادارې او دښځودچارو ریاستونه وکولی شي د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د ټولو بڼو د دوسیو او د هغو جرمونو په شمول چې د ښځو پر علیه دخشونت د منع د قانون لاندې جرم نه شمیرل کیږي ، د بیلګې په ډول د ناموس په نوم وژنې او په اصطلاح "اخلاقي جرمونه" د هغو ملکي جرمونو څخه کوم چې ښځو ته منسوب کیږي سره جلا کړي او دغه ادارې هغه دثبت لپاره په ګډه وکارولی شي.

**ستړې محکمې ته**

- عمومي جنایي څانګې او د پلټنې ریاست ته لارښوونه وکړي چې په ځانګړي ډول د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د دوسیو او د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون په هکله د محکمې له خوا د مناسبې کارونې څار وکړي.

**د لوي څارنوال دفتر ته**

- دجزا عمومي ریاست او د لوي څارنوالۍ دفتر او نورو اړوندو څانګو دڅارنې څخه ډاډ حاصل شي چې د تعقیب څانګې څنګه د ښځو پر علیه د تاوتریخوال دمنع قانون پلي کوي.

- د مناسبو سرچینو او وړتیا لرونکو کارکوونکو له لارې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د دوسیو د تعقیب په موخه د تعقیب په ولایتي دفترونو یا واحدونو کې د کمیسیونونو د جوړولو او ملاتړ دوام.

- د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي په هکله د ټولو ځانګړو واحدونو او د تعقیب د څانګو لپاره د یوه مرکزي ډیټابیس جوړول چې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د ټولو دوسیو د تعقیب د څانګو سره تړلې وي.

**د کورنیو چارو وزارت ته**

- د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون په مطابقت کې د قربانیانو د اړتیاوو د ځوابولو په برخه کې د پولیسو نقش او د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالی په هکله د پولیسو د اساسي روزنو په چوکاټ کی د حساسیت ځایول.

- د پولیسو د جنایي څیړنو د څانګې او د کورني غبرګون د واحد لپاره د لارښودونو جوړول ، د هغو جرمونو د نمونو وضاحت کوم چې باید وڅیړې شي ، او د تعقیب په موخه د هغوي وړاندې کول او هغه دوسیی چې ښایي منځګړیتوب یې د پولیسو له خوا تر سره شي ، او هغه ټولې قضیې چې منځګړیتوب یې د پولیسو له خوا ترسره شوي یا د پولیسو له خوا د منځګړیتوب په موخه ارجاع شوي ، په مناسب ډول ثبت او په رسمي توګه مستند شی ، ډاډ حاصل شي.

- د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د دوسیو د تعقیب او مناسب ثبت کولو لپاره موثر میکانیزم رامنځ ته شي ، او د قربانیانو د ساتنې په هکله چې کله هغوي بیرته خپلو کورنیو او ټولنو ته ستنیږی ، ډاډ حاصل شي.

- د جنایي څیړنو د ریاست ، د کورني غبرګون د واحد او د پولیسو د نورو اړوندو ریاستونو د غبرګونونو سره یو ځای د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د ټولو دوسیو په هکله د یوه مرکزي ډیټابیس جوړول.

**نړیوالو ډونرانو ته**

- دتوکیوداعلامیې د پلې کولو لپاره ،دجنډر د مساواتو ،دښځو د پیاوړتیا ،دښځوپر علیه دتاوتریخوالي دمنع قانون او دګډ نظارت کونکي دچوکاټ په جوړولو کې دحکومت دژمنو دپلې کولو څخه ملاتړ. ترڅو په دغو ساحو کې دپرمختګ داقداماتوڅارنه وکړي.
- دافغانستان له حکومت نه ملاتړ، ترڅود ۲۰۱۸-۲۰۰۸ دښځو لپاره دملي اقداماتو پلان (این ای پي ډبلیو ای) اوپه ځانګړې توګه دښځوپر علیه دتاوتریخوالي دمنع قانون دپلي کولولپاره ملي ستراتیژی او ملي لومړیتوبونو د پروګرام (قانون اوعدالت دټولولپاره ) اودظرفیت دلوړونې په برخه کې چې د ښځو دملي اقداماتو دپلان د ګړندي پلي کولو لپاره اقدام وشي .

## ۲. شرایط

*"یوه ښځه چې نوم یې ثریا وه د خپل میړه له خوا د کورنۍ تاوتریخوالی له امله ځکه تر ګاڼې ونیوله او ووژل شوه ، چې د هلک پر ځای یې نجلۍ زیږولې."*

-- د ولسوالۍ یو ځارنوال ، کندز ولایت ، جنوری ، ۲۰۱۲ کال.[21]

د ښځو او نجونو په وړاندې خشونت په ټولنه او جمعیتونو کې د هغې د ټیټ دریځ ، دوديز سخت چلند او نورو ضررناکو عملونو څخه راپیدا کیږي چې د ښځو نقش ته په سپکه سترګه ګوري او د نورو ناوړو کړنو لامل ګرځی.

د ۲۰۱۲ کال د جون په میاشت کې د پروان په ولایت کې د طالبانو له خوا د زنا په تور په عام محضر کې د یوې ښځې وژل او نور دې ته ورته راپورونه (۴. ۲. برخه وګورئ) چې د حکومت ضد عناصرو تر ولکې لاندې سیمو څخه را رسیدلي دي د ښځو د حقونو او د مدني ټولنې د سازمانونو سره دا اندیښنې راپید کړي چې په افغانستان کې محافظه کاره عناصر چې د ښځو له حقونو سره مخالفت کوي ، بیا ځواک تر لاسه کوي. د دې کال د جولای په ۱۳ د تعبیه شوي چاودیدونکي توکي په ذریعه په عمدي ډول د لغمان د ولایت د ښځو د چارو د مشرې وژل د دې پیښنو بله بیلګه ګڼل کیږي.[22]

د ښځو د چارو فعالانو ډیر ځلې دا خبره کړې ده چې د ښځو په وړاندې تاوتریخوالی سیستماتیکه بڼه لري ځکه دا ډول خشونت یوازې په کورنیو او جمعیتونو پورې نه محدودیږي ، بلکه له دې امله یوه همیشنۍ بڼه غوره کوي چې د قانون د انفاذ چارواکي د خشونت د قربانیانو شکایتونه نه

[21] د کندز ولایت د یوی ولسوالۍ له ځارنوال سره د یوناما مرکه ، جنوري ۲۰۱۲.

[22] که څه هم د وژنې مسوولیت طالبانو ته منسوب شوي ، د ښځو د ریاست مشرې دغه راز د اروزګان د سناتور له خوا هم تهدید تر لاسه کړی وروسته له هغه چې دې د هغې ښځې له تسلیمولو څخه انکار وکړ چې په خپله خوښه یې له یوه سړی سره د لغمان له ولایت څخه ازدواج وکړ. سناتور غوښتل چې پخپله له هغې سره واده وکړي او د ښځو د ریاست مشرې ته یې هدایت ورکړی و چې نجلۍ ده ته تسلیم کړي ، ځکه چې هغې ته د نجلۍ او د هغې د میړه د ځای پته وه. وروسته له هغه چې د ریاست مشرې له هدایت څخه انکار وکړ ، د راپورونو له مخې سناتور هغه تهدید کړه او څو ورځې وروسته د تعبیه شوی چاودیدونکی توکی په ذریعه چې د دې تر موټر لاندې ینبودل شوې و ، ووژل شوه. د ریاست د مشرې یوه نږدې خپل وویل: "هغې ته د دې د کار له امله له ډیرو خلکو له خوا تهدیدونه راتلل. طالبانو ، د قرباني د کورنۍ غړو او وروسته د اروزګان یوه سناتو ر دا په مرګ تهدید کړې وه. د پنجشنبې په ورځ موږ له دې سره د غرمې ډوډۍ خوړله چې هغې د ښځو چارو د وزارت معیین ته ټیلفون وکړ او لارښوونه یې ورڅخه وغوښته چې د سناتور له خوا د تهدید په وړاندې څه غبرګون ښکاره کړي. ځینو نورو حکومتي چارواکو او د ښځو چارو د ریاست پخوانۍ مشرې هم هڅې کولې چې هغه بدنامه کړي او یا یې تر هدف لاندې ونیسي. له هغه وروسته دوي بهر ته ووتل چې د کنړ ولایت ته ولاړ شي ، موټر وچاودیده او هغه ووژل شوه." د یوناما مصاحبه د ښځو د ریاست له یوه خپلوانو سره ، جلال اباد ، جولای ۱۶ ، ۲۰۱۲.

رفع کوي. د جنايي عدالت يا د قانون د انفاذ د چارواکو کمزوري يا په ډېرو کليوالو سيمو کې د امنيتي قواوو نشتوالی د دې سبب ګرځيدلی چې حکومتی چارواکی په دې کې پاتې راغلی چې د زرګونو افغان ښځو او نجونو په وړاندې د جرمونو تحقيق وکړي او هغه تعقيب کړي. دغه کمزوري د معافيت کلتور ته وده ورکوي او د ښځو د حقونو په پرمختګ کې خنډ ايجادوي.

ناوړه دودونه او د ښځو په وړاندې تاوتريخوالی ډيرې ښځې له دې څخه منع کړې دي چې په عامه ژوند کې ګډون وکړي او د پريکړو کولو په مجلسونو کې د دوي په نظرياتو غور نه کيږي. د ښځو پر عليه د خشونت د منع قانون په تطبيق کې پرمختګ کولای شي ښځو ته د دې توان ورکړي چې د هيواد د سولې او پخلاينې په اوسنۍ پروسه کې مهم نقش ولري.

که څه هم د ښځو لپاره د اسلام په دين کې ځينې حقونه تضمين شوي دي، خو د ټول افغانستان د علماوو د شورا په اعلاميه کې چې د ۲۰۱۲ د مارچ په ۲ خپره شوه هم د ښځو په وړاندې د چلند د داسې دريځ يادونه کړې ده چې د افراطی مسلمانانو له دريځ سره ورته دی. په دې اعلاميه کې د ښځو موقف د نارينه وو په وړاندې ټيټ ګڼل شوی او د دې خبرداري يې ورکړي چې دغه اصل بايد نقض نه شي.[23] سره د دې چې افغان مدني ټولنې او د ښځو د حقونو ګروپونو د دغې اعلاميې موقف په ډيرو سختو ټکو سره غندلی دی، خو د ولسمشر کرزی له خوا هيڅ رسمي دريځ ښکاره نه شو او دغه سند د ده په رسمي ويب پاڼه کې پروت دی.[24] ډيرو ښځو يوناما ته انديښنه څرګنده کړې چې دغو پيښو دوي ډيرې متاثره کړې دي او فکر کوي چې د تيرو لسيزو نيمګړې برياوې يې بيرته له لاسه و نه وځي. دوي ويره څرګنده کړه چې حکومت ښايي د افغانستان په ټولنه کې له محافظه کارو عناصرو سره د جوړ جاړي او سياسي برياوو په غرض د دوي حقونه قرباني کړي.

که څه هم د ۲۰۱۲ کال د نومبر په ۲۹ په يوه راډيويي وينا کې ولسمشر کرزي کورنی خشونت وغانده او له ديني پوهانو او قومي مشرانو څخه يې وغوښتل چې د دې "اجتماعي بدغونې حادثې"

---

[23] د سورت النساء د لومړی او څلور ديرشم اياتونو د څرګندوالی په نظر کې نيولو سره، سړی اصل او ښځې فرع دی، دغه راز نسب هم له سړی څخه راپيل کيږي. له دې امله د داسې کلمو او اصطلاحاتو کارول چې د مبارکو ايتونو سره په تضاد کې واقع کيږي، په جدي ډول منع دي.

http://afghanistananalysis.wordpress.com/2012/03/04/english-translation-of-*Ulema*-councils-declaration-about-women/.

[24] له يوه مطبوعاتی کنفرانس څخه وروسته افغان ولسمشر حامد کرزی وويل چې هغه د علماوو دشورا شرايطو ته ژمن دی او زياته يې کړه: "دا زموږ د ملت ديني نظر دی او په افغانستان کې ټول مسلمانان دې ته ژمن دي." د مارچ ۷، ۲۰۱۲ کابل.
*http://www.khaama.com/karzai-support-ulemas-declaration-on-gender-segregation-814*.

په ضد په تبليغ کې مرسته وکړي ، ځکه چې دغه پيښې د اسلامی لارښوونو او د هغو بشري حقونو او ارزښتونو سره مخالفت لري چې ښځو ته ورکړل شوي دي. ولسمشر په خبري رسنيو او راډيو غږ وکړ چې داسې پروګرامونه خپاره کړي چې د کورني خشونت په وړاندې پيغامونه خپروي.[25]

د افغاني مدني ټولنې سازمانونو ، د ښځو د حقونو غير حکومتي سازمانونو او د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کميسيون د ښځو په وړاندې له خشونت سره خپلې مجادلې ته ادامه ورکړې او د ښځو قربانيانو لپاره يې مناسب شرايط او چاپيريال برابر کړی چې د خپلو قضيو په اړه راپورونه ورکړي او عدالت ته لاس رسي ولري. د باميانو ولايت يوه بيلګه ده چيرې چې مدني ټولنې د ښځو په وړاندې د خشونت د پيښو په اړه د تحقيق او تعقيب غوښتنه يې کړې او په دې باب يې مهم نقش درلودلی دی. له باميانو څخه د يوه څارنوال تبديلی چې د تعصب او د پلوۍ پر بنياديې کار کاوه او په فساد اخته و، داسې يوه بيلګه ده چې د مدني ټولنې د دفاع او فعاليت اغيزې څرګندوي.[26] که څه هم باميان په نسبی ډول يو با ثباته ولايت دی او يوه فعاله مدني ټولنه هلته وه ، په کاپيسا کی هم د يوې يوازينی غير حکومتي موسسې فعاليتونه چې د ښځو د حقونو لپاره يې کار کاوه ، د ښځو په وړاندې د خشونت د قضيو د راپورونو او د هغوي د تعقيب په اړه ډير ارزښتناکه وو.[27]

افغان خبري رسنيو هم د ښځو په وړاندې د خشونت د پيښو په ښکاره کولو کې ډير ارزښتناک نقش درلودلی دی او دې خوا ته يې د خلکو ډير پام را اړولی دی. د خشونت د ښځينه قربانيانو په قضيو کې چې رسنيو خپرې کړي دي ، عدالت تامين شوی دی چې بې له خبري رسنيو به ممکن نه وای. د مثال په توګه د ۲۰۱۲ د نومبر په ۸ په کابل کې يوه قضايي هيئت په کندز کې څلور تنه پوليس افسران په يوې اتلس کلنې نجلۍباندې د جنسي تيري له امله مجرم وګڼل او هغوي ته د ۱۶ کلونو حبس د جرم حکم واوراوه.[28] د همدې کال په جولای کې د يوې پنځلس کلنې نجلۍ په قضيه کې ، چې د خپلې خوسرګنۍ له خوا شکنجه کيدله او تر ۵ مياشتو زياته په تشناب کې ساتل شوې وه ، د کابل ابتدائيه محکمې درې تنه مجرمان په لسو کلونو حبس محکوم

---

[25] د ولسمشر کرزي راډيويي وينا، ۲۹ نومبر ۲۰۱۲. د ولسمشر په رسمي ويب پاڼه کې پروت دی: http://president.gov.af/en/news/15111

[26] د باميانو لوي څارنوال له خپلې دندې څخه ايسته شو ، د يوناما ساحوي څارنې. ۷ اکتوبر ، ۲۰۱۲.

[27] د يوناما څارنې ، اکتوبر ۲۰۱۲.

[28] http://www.nytimes.com/2012/11/08/world/asia/afghan-militia-members-found-guilty-in-rape.html

کړل. د استیناف محکمې هم دغه حکم تایید کړی ، خو باید وویل شي چې د قرباني میړه ، چې اصلي تورن کس دی ، نه دی محکوم شوی.[29]

د یادونې وړ ده ، چې داسې مثبتې نتیجې ډېرې لږې دي. د ښځو په وړاندې د خشونت ډېرې قضیې د عامه پاملرنې وړ نه ګرځي ، چې کولای شي چارواکي د عدالت د تامینولو لپاره تر فشار لاندې راولي. په عین وخت کې ، ښځې قربانیانې نه باید د عدالت د تامین لپاره په دې تکیه وکړي چې قضیې یې په عام ډول خپرې شي. د عدالت تامینول د حکومت او د ځایي چارواکو مسوولیت دی او د هرې قضیی د حل کولو لپاره باید د ولسمشر یا وزیرانو فرمان ته معطل نه شي.

## ۲. ۱. قانوني چوکاټ

> *"د ښځو په وړاندې د خشونت مجرمین باید ونیول شي او د عدالت په مخ کې ودریږي ، ځکه چې نه اسلامی لارښوونې او نه د بشري حقونو قوانین خلکو ته د دې اجازه ورکوي چې د نورو انسانانو په وړاندې ، خاصتا د ښځو په وړاندې خشونت وکړي. مجرمین که هر څوک وي باید د قوانینو له مخې ونیول او عدالت ته ودرول شي."*
>
> -- حمید الله دانشي ، د کندز د والی مرستیال ، اګست ۲۰۱۲[30]

د افغانستان د اسلامي جمهوریت اساسي قانون (۲۰۰۴)د ښځو د حقونو په ګډون د بشري حقونو د ساتنې او پرمختیا لپاره احکام لري او دا اړتیا یې پیژندلې چې د اسلام د دین په خلاف دودونه باید محوه شي. د یوناما د ۲۰۱۰ کل د ډسمبر راپور "په افغانستان کی ناوړه دودونه او د ښځې پر علیه د تاوتریخوالی د منع د قانون تطبیق " چې له مذهبي پوهانو سره د مشورو پر بنیاد او تحلیل باندې جوړ شوی ، ویلی دي چې ډېره ناوړه دودونه نه یوازې د افغانستان د قوانینو او د بشري حقونو د نړیوالو قوانینو سره مخالفت لري ، بلکه له شرعي قوانینو سره هم مغایرت لري.

[29] د یوناما د ساحوي څارنې راپور ، اکتوبر ۲۰۱۲.

[30] د ښځو په وړاندې د خشونت د له منځه وړلو په اړه د ولایتي کمیسیون غونډه ، ۲۸ اګست ، ۲۰۱۲ کندز

### ۲. ۱. ۱. د ښځو پر علیه د خشونت د منع قانون

د ښځی پر علیه د تاوتریخوالی د منع د قانون نافذیدل د ۲۰۰۹ کال په اګست کې په افغانستان کې له ښځو سره د دودیزو زیانمنونکو کړنو او د خشونت د نورو شکلونو د له منځه وړلو په لار کې لومړنی مهم قانوني ګام دی. ددغه قانون په هدفونو کې "د هغو دودونو ، رواجونو او عادتونو او کړنو په ضد مبارزه چې د ښځو په وړاندې د اسلام د دین په خلاف د خشونت سبب ګرځي" او د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالی منع کول او تعقیبول شامل دي.[31]

د دې قانون ۵ ماده ۲۲ کارونه شمیرلي دي چې ارتکاب یې د ښځو په وړاندې خشونت جوړوي: جنسی تیری ؛ فحشاء ته مجبورول ؛ اور ورته کول یا د کیمیاوی ، زهری او یا نورو زیان رسوونکو موادو استعمالول ؛ د مجنی علیها د هویت ضبطول او ثبتول او د هغه خپرول په داسی توګه چې د هغی شخصیت ته زیان ورسوی ؛ ځان سوځولو یا ځان وژنی ته محبورول ؛ مجروحول یا معلولول ؛ وهل ټکول ؛ د واده په منظور یا بهانه پیرل او پلورل ؛ په بدو کی ورکول (د یوې کشالې د رفع کولو په موخه د ښځو ورکول)؛ اجباری نکاح ؛ د واده له حق او یا د زوج د غوره کولو له حق څخه منع کول ؛ د قانونی سن له بشپړیدو د مخه نکاح ؛ ښکنځلی ، تحقیر او تخویف ؛ ځورول یا تعقیبول ؛ اجباری یوازی پریښودل (انزوا)؛ د مخدره موادو اعتیاد ته د ښځی مجبورول ؛ په ارث کی له تصرف څخه منع کول ؛ د ښوونی ، تحصیل ، کار او روغتیایی خدمتونو ته د لاس رسۍ له حق څخه منع کول ؛ اجباری کار؛ او د مدنی قانون په ۸۶ ماده کی د درج شوی حکم له په پام کی نیولو پرته ، له یوی څخه له زیاتو ښځو سره واده کول.[32]

نوموړی قانون د هغو اشخاصو لپاره د جزا ورکول لازم ګڼي چې د دغو عملونو مرتکب ګرځي او محکمه او څارنوال ته لارښوونه کوي چې "د خشونت قضیې ته د لومړیتوب حق ورکړي او ډیر ژر په هغه عمل وکړي"[33] دغه قانون ملي پولیسو ته دنده ورکوي چې د تاوتریخوالی له قربانیانو سره مرسته وکړي ، د افرادو حقونه او ازادۍ خوندي وساتي او جرمونه کشف کړي ، له هغو سره مبارزه وکړي ، د هغو تحقیق وکړي او پولیس په دې مکلف کوي چې له ښځو سره  د خشونت شکایتونه

[31] د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون ۲ ماده.

[32] د مدني قانون ۸۶ ماده داسې تصریح کوي: ۱. کله چې د ښځو په منځ کې د بې عدالتۍ بیره نه وي ، ۲. کله چې شخص مالي توان ولري چې ښځې وساتي ، یاني که هغه غذا ، جامې ، مناسب کور ، او روغتیایي پاملرنه ورته برابرولی شي ، ۳. کله چې قانوني ضرورت موجود وي ، یانې کله چې لومړنۍ ښځه اولاد و نه لري او یا له داسې رنځ څخه ځوریږي چې درمنله یي ګرانه وي.

[33] د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون ۷ (۴) ماده.

واخلي او ثبت يې کړي ، له هغو سره د قانون په مطابق چلند وکړي او د ښځو چارو وزارت له خپلو فعالیتونو څخه خبر کړي.[34]

نوموړی قانون دغه راز حکومت ته دنده ورکوي چې د قربانیانو په ګټه محافظتي او مرستندویه اقدمات وکړي. قانون اووه وزارتونه په خاصو مسوولیتونو مکلف کړي او د ښځو په وړاندې د خشونت د محوه کولو لپاره یې په ملي کچه عالی کمیسیون ایجاد کړي چې د افغانستان په ۳۴ ولایتونو کې محلی حکومت ګمارلي چې په ولایتی کچه د ښځو پر علیه د خشونت د منع کمیسیونونه جوړ کړي.

## ۲. ۱. ۲. د ښځو پر علیه د خشونت د منع په قانون کې کمزورتیاوې

د ښځو د حقونو مدافعینو دغه قانون له دې امله تر نیوکې لاندې نیولی چې په دې نه دی توانیدلی چې د "عزت" تر نامه لاندې جرمونو لپاره بیله جزا وټاکي او نه یې څنې نور جرمونه په ښکاره ډول تعریف کړي ، لکه جنسي تیری او د اجبار مساله چې د خپلې خوښې له زنا (له ودګنې ژوند څخه بهر جنسي اړیکې) څخه توپیر لري. د انفرادي قضیو په څارنه کې ، یوناما د ډیرو نجونو او ښځو له قضیو سره مخامخ شوې چې د کورني تاوتریخوالی او یا د جبري ازدواج له وجې یې کورونه پرې ایښي او بیا نیول شوي دي او په معمول ډول د "زنا د قصد په تور" تورنې او محکومې شوي دي ، چې په عام ډول یو "اخلاقي جرم" ګڼل کیږي. له کورونو څخه تېښته د افغانستان په قانون کې کوم جرم نه دی. د جزا په قانون کې هیڅ داسې یو حکم نشته چې دغه کار جرم وګڼي او نه په شریعت کې جرم ورته ویل شوی. خو سره د دې هم د قانون د انفاذ چارواکي ډیر ځله نجونې د دې "اخلاقي جرم" تر نامه لاندې نیسي او تعقیبوي یې.

د ښځو پر علیه د خشونت د منع قانون د ښځې یا نجلۍ لپاره چې د اجباري ازدواج او یا کورني خشونت څخه د خلاصون لپاره له کورنو څخه تیښته کوي ، هیڅ مخافظت نه برابروي. دغه حالت د هغو زیات شمیر ښځو په حال کې لیدل کیږي چې د "اخلاقي جرمونو" په تور د افغانستان په محبسونو کې توقیف دي.

د ۲۰۱۲ د فبرورۍ په لومړۍ نېټه ولسمشر کرزي د اسلام د پیغمبر د زیږیدو په ویاړ یو فرمان صادر کړ چې له مخې یې زیات شمیر بندیان له بند څخه خوشې شول او په دې کې ښځینه

[34] د پولیسو د قانون ۵ او ۲۶ مادې ، د جزایي اجرااتو د مؤقت قانون ۲۹ (۲) ماده او د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون ۱۳ ماده وګورئ.

بندیناني هم شاملې وې چې له کورونو څخه د "تیښتې" له امله بندیانې شوې وې. بل فرمان چې په خاص ډول د ښځو بندیانو د بند د کمولو او بخښلو په اړه و هم د ښځو د نړیوالې ورځې په ویاړ د ۲۰۱۲ کال د مارچ په ۸ صادر شو چې په خاص ډول وایي: "هغه ښځې چې د خپلو والدینو کورونه یې د دې لپاره پرې ایښې چې د خپلې خوښې سړي سره ازدواج وکړي او یا یې د خپلې خوښې له سړی سره ازدواج کړی وی باید بې له شرط څخه خوشې شي." [35]

سره له دې هم ، لکه څنګه چې وویل شول او که څه هم افغان چارواکو په وروستیو وختونو کې دغه عمل غندلی دی بیا هم ښځې د کورونو د پرېښودلو له امله نیولې کیږي او توقیف کیږي.

د دې قانون په اړه بله اندیښنه دا ده چې قانون له قرباني څخه یا د هغې له خپلوانو څخه غواړي چې شکایت وکړي ، پخوا له دې چې دولتي موسسې اقدام وکړي. د دې مانا دا ده چې که چیرې یو قرباني خپل شکایت بیرته اخلي او یا د کورني فشار یا ویرې له امله شکایت و نه کړي ،حکومت په دې مکلف نه دی چې د ښځو په وړاندې د خشونت جرم تعقیب کړي او په اړه یې تحقیقات وکړي. د ښځو پر علیه د خشونت د منع قانون ۳۹ ماده (۲) بند شکایت کوونکی ته اجازه ورکوي چې د قضایي پروسې په هره محله کې خپل شکایت بېرته واخلي. دغه لاندې جرمونه په دې اړه استثنی ګڼل شوي لکه جنسي تیری ، اجباري ځان سوځونه یا ځان وژنه او اجباري فاحشه ګري ، د قرباني د هویت افشاء کول ، د کیمیاوي موادو سوځول یا کارول چې د دولت له خوا باید تعقیب او عملي شي ، بې له دې چې د جرم قرباني د هغه په ثبتولو کې بیرته پاتې شي او یا خپل شکایت واخلي. د یوناما څارنې ښودلې ده چې د ۳۹ مادې (۲) بند د دې قانون تر ټولو زیات هغه حکم دی چې له امله یې ډیری شکایتونه ، د هغو جرمونو په ګډون بېرته اخیستلو څخه مستثنی دی ، او ډېر ځله ښځې د کورني او ټولنیز فشار تابع ګرځوي.

په داسې حال کې چې د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون بیا کتنه ضروري ده څو د ښځو حقونه په بشپړ ډول تضمین شي ، یوناما او د ښځو ګروپونه په دې باور دي چې که چیرې اوسنی قانون په اغیزناک ډول تطبیق شي کولای شي چې د ښځو حقونه وساتي او هغو ته لوړتیا ورکړي او په هغو عملونو کې کمولای راولي چې میلیونونو افغان ښځو او نجونو ته زیان رسوي.

---

[35] د محبسونو د عمومي ریاست په وینا ۳۸ ښځینه بندیاني خوشې شوي دي او ۴۰۳ تنو د دې فرمان له امله د دوي د بند په موده کې کموالی راغلی.

### ۲. ۱. ۳. نړیوالې قانوني ژمنې او مسوولیتونه

د افغان حکومت د بشري حقونو د نړیوال تړون له مخې[36] مکلفیت لري چې د قانون په وړاندې د ښځو لپاره برابر حقونه تضمین کړي او ښځې په برابر ډول د قانون تر ساتنې لاندې ونیسي. د نړیوال قانون له مخې حکومت باید له ښځو سره د خشونت په وړاندې جدي غبرګون وښیې او د هغې مخنیوي وکړي ، که دا خشونت د دولت د استازو ، یا انفرادي اشخاصو او سازمانونو له خوا کیږي.[37]

حکومت په مختلفو تړونونو کې دا ژمنه تایید کړې ده چې د ښځو حقونه ساتي او هغو ته پراختیا ورکوي او په سیاسي ساحه کې او د سولې په اوسنیو خبرو کې د هغوي ګډون به تضمینوي. د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون تطبیق د افغانستان د ښځو لپاره د عمل د ملي پلان یوه کلیدي برخه ده ، چې په قضایي سیستم او قانوني چوکاټ کې د ژورو بدلونونو غوښتنه کوي څو په اساسي قانون او د بشري حقونو په نړیوالو تړونونو کې عدم تبعیض ، برابري او سنجول شوي حقونه تضمین کړي. حکومت د ۲۰۱۰ کال د کابل په کنفرانس کې ژمنه کړې ده چې د جنډر په اساس به د برابرۍ حقونه تضمینوي او د څو ملي لومړیتوبونو په څیر لکه "د ښځو لپاره د عمل د ملي پلان د تطبیق لپاره د ظرفیت لوړول" به دغه ژمنې عملي کوي چې هدف یې د اړونده حکومتي موسساتو د ظرفیت لوړول دي څو د ښځو لپاره د عمل د ملي پلان د تطبیق د پالیسۍ په جوړولو ، پلانولو ، طرح کولو ، تمویلولو ، څارنې ، راپور ورکولو او د ارزونې په پروسه کې شامل کړي.[38]

---

[36] افغانستان د لاندنیو بشري حقونو د تړونونو غړی هیواد دی: د سیاسي او مدني حقونو بین الملی تړون ، د اقتصادي ، ټولنیز او کلتوري حقونو نړیوال تړون ، د نژادي تبعیض د ټولو شکلونو د محوه کولو تړون ، د ښځو په وړاندې د تبعیض د ټولو شکلونو محوه کولو تړون ، د شکنجې او نورو ظالمانه ، غیر انساني او توهینونکو چلند او سزا ګانو په ضد تړون ، او د ماشوم د حقونو تړون.

[37] وګورئ د سیدا د کمیټې عمومي تبصره ، ۱۹ ، ۱۹۹۲. دغه راز وګورئ د عمومي اسامبلې اعلامیه له ښځو سره د خشونت په ضد ، ۱۹۹۳ ، A/RES/48/104 ۴ (ج) ماده چې دولتونه باید "پوره هڅې وکړي چې د ښځو په ضد د ملي قوانینو په مطابق د خشونت د عملونو مخنیوی وشي ، د هغو تحقیق وشي او جزا و ویني ، که څه دغه جرم د دولت له خوا او یا د انفرادي کسانو له خوا اجراء شوی وي."

[38] د ملي لومړیتوبونو پروګرامونه ، د افغانستان د ملي پرمختیایي ستراتیژۍ په چوکاټ کې شامل د افغانستان د حکومت د لومړیتوبونو پروګرامونه دي چې د ۲۰۱۰ کال د کابل کنفرانس ژمني پلي کړي ، د همغږۍ او څارنې د ګډ بورډ د ملي لومړیتوب پروګرام ( این پي پي پروګرام) د افغانستان د ښځو لپاره د عمل ملي پلان دتطبیق په موخه د ۲۰۱۱ داکتوبر په ۱۹ نیټه تصویب کړ.

په وروستیو وختونو کې د توکیو د دوه اړخیزې حساب ورکونې په چوکاټ کې د افغان حکومت له نړیوالو همکارانو سره په همغږۍ کې په پنځو اساسي سکتورونو کې هدفونه په ګوته کړل چې د مرستو د عمومي چوکاټ په دننه کې د په خپل ځان متکي افغنستان لپاره د بیا ودانونې او پرمختګ پروګرامونه پلي کوي. دوي د افغان ښځو لپاره د عمل د ملي پلان او د ښځو پر علیه د خشونت د منع قانون په تطبیق باندې ټینګار کړی. دغه هدفونه په افغانستان کې د ښې حکومتدارۍ ، د قانون د واکمنۍ او د بشري حقونو د ساتنې په لار کې د حکومت د اجرااتو په اړه کلیدي شاخصونه ګڼل شوي.[39]

# ۳. د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون د تطبیق په اړه موندنې

## ۳. ۱. د ښځو په وړاندې د خشونت د قضیو ثبتول

په عمومي ډول د ښځو په وړاندې د خشونت د قضیو شمیر چې راپور یې ورکړل شوی دی د ۲۰۱۱ له اکتوبر څخه د ۲۰۱۲ تر سپتمبر پورې زیات شوی دی. د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون د اوو میاشتو په موده کې د ۲۰۱۲ د مارچ له ۲۱ څخه د همدې کال د اکتوبر تر ۳۱ پورې ۴۰۱۰ پیښې د دې ډول ثبتې کړې دي. دغه شمیر د تیر کال په ټوله موده کې (د ۲۰۱۰ د مارچ له ۲۱ څخه د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۲۱ پورې) ۲۲۹۹ پیښې وې.[40] د راپورونو په شمیر کې زیاتوالی ښایي له دې امله وي چې په عام ډول د مدني ټولنې او حکومت له خوا له ښځو سره د خشونت او د زیانمنو کړنو د پایلو او په عموم ډول د ښځو د حقونو په اړه لوړه شوې وي. د همدې دلیلونو په وجه د قضیو په شمیر کې زیاتوالی ښایي د دې څرګندوی و نه اوسي چې په حقیقي ډول د قضیو په شمیر کې زیاتوالی راغلی وي.

یوناما وموندله چې د ښځو په وړاندې د خشونت د قضیو د ثبت په باب معلومات یا نه و موجود او یا په ځینو سیمو کې لاس ته نه راتلل او یا په غیر منظم ډول د لاس رسي وړ و. د نورستان ، زابل ، هلمند او اروزګان په ولایتونو کې د محدود لاس رسي او یا د حکومتي موسساتو د نشتوالی له کبله معلومات لاس ته را نه غلل. په خو نورو ولایتونو کې یوناما د هغو معلوماتو د ریښتینوالی

---

[39] د توکیو د ژمنو د تطبیق پلان ، د افغانستان حکومت ، اګست ۲۰۱۲-۲۰۱۵.

[40] د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون څخه لاس ته راغلي معلومات ، کابل د ډسمبر ۶ ، ۲۰۱۲. دغه راز وګورئ ، په مخ کې اورېده پرته لار ، په افغانستان کې د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون تطبیق http://unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/human%20rights/November%2023_UNAMA-OHCHR-Joint-Report-on Implementation-of-EVAW-law_ENG.pdf.

د ارزونې په برخه کې ستونزې درلودې چې د قانون د انفاذ له چارواکو څخه يې لاس ته کړي وو ، ځکه چې له حقيقي وضعې سره يې مغايرت درلود. د مثال په ډول په لوګر او ميدان وردګ ولايتونو کې د پوليس او د څارنوالۍ چارواکو يوناما ته ويلي دي چې دوي د ۲۰۱۱ د اکتوبر څخه د ۲۰۱۲ تر سپتمبر پورې د ښځو په وړاندې د خشونت يوه قضيه هم نه ده ثبته کړې. د ښځو چارو رياستونو په دواړو ولايتونو کې ويلي دي چې دوي د ښځو په وړاندې د خشونت قضيې ثبتې کړي دي.[41]

د پنجشير په ولايت کې ټولو اړوندو چارواکو لکه د ښځو چارو رياست ، ملي پوليس او څارنوالانو له يوناما سره په ناستو کې ويلی دي چې هيڅ يوې قضايي موسسې دغه ډول يوه قضيه هم نه ده ثبته کړې. خو يوناما له نورو سرچينو څخه خبر تر لاسه کړی چې دغه ډول پيښې رامنځ ته شوي او بې له دې چې قضايي موسسه يا د ښځو چارو وزارت په کې ګډون کړی وي هغه د جرګې له لارې حل شوې دي.

د موجوده معلوماتو پر بنسټ يوناما دا نتيجه تر لاسه کړې چې له ۲۲ ولايتونو[42] څخه ملي پوليس په ټوليز ډول د ښځو په وړاندې د خشونت ۷۴۰ قضيې د ۲۰۱۱ له اکتوبر څخه د ۲۰۱۲ تر سپتمبر پورې ثبتې کړي دي (د کابل ولايت څخه پرته). دا حقيقت څرګندوي چې له ښځو سره د خشونت د قضيو ثبتول د پوليسو له خوا په ټيټه کچه کې وي او د يوناما له پخوانيو موندنو سره يو شانته وختې (له همدې ۲۲ ولايتونو څخه پوليس د ښځو په وړاندې د خشونت ۷۲۷ قضيې ثبتې کړې دي).

ملي پوليسو ۴۰۱ دا ډول قضيې (۵۴ ٪) څارنوالۍ ته معرفي کړې دي. ۳۱۲ قضيې چې راپورېې ورکړل شوی و يا (۴۳ ٪) يا بيرته اخيستل شوي يا د شخړو د حل دوديزو ميکانيزمونو ته راجع شوې او يا د عدليې وزارت حقوقي څانګې ته ليږل شوي دي ، يا يې منځګړيتوب شوی او تر

---

[41] د ښځو چارو رياست په ميدان وردک ولايت کې يوناما ته ويلي دي چې د ۲۰۱۲ له مارچ څخه تر سپتمبر پورې پنځه د ښځو په وړاندې د خشونت قضيې ورته رسيدلې دي او يوه قضيه يې پوليسو ته راجع کړې چې د جلريز په ولسوالۍ کې د خپل ميړه له خوا ، چې د ملي پوليسو افسر دی ، د ښځې د وهلو قضيه وه. د دې قضيې تحقيق د پوليسو له خوا معطل شوی. د لوګر په ولايت کې د ښځو د چارو رياست خبر ورکړ چې ۱۷ داسې قضيې ورته رسيدلې دي ، چې ۹ يې د وهلو او جسماني بدې استفادې قضيې دي او دوه نورې يې د اجباري ازدواج قضيې دي چې د ښځو پر عليه دخشونت د منع د قانون لاندې راځي. دې رياست په اوو قضيو کې منځګړيتوب ، څلور قضيې يې د حقوقو څانګې ته حواله کړي څو منځګړيتوب يې وکړي ، يوه قضيه يې پوليسو ته حواله کړې ې په دوستانه ډول حل شوې او پنځه نورې قضيې له دې رياست سره پاتې دي.

[42] ۲۲ ولايتونه دا دي: بدخشان ، بادغيس ، باميان ، بلخ ، دايکندي ، فراه ، فارياب ، غزنی ، غور ، هرات ، جوزجان ، کندهار ، کاپيسا ، خوست ، کنړ ، لغمان ، ننګرهار ، نيمروز ، پکتيا ، پروان ، سمنګان او تخار.

پروسس لاندې وي. د پاتې ۲۷ قضيو په اړه چې راپور يې ورکړل شوی و (۳ ٪) د پوليسو له خوا د اقدام په اړه معلومات موجود نه و. (لاندې ګراف وګورئ).




د يادونې وړ ده چې د کورنيو چارو په وزارت کې د کورنۍ د غبرګون څانګې په کابل کې له ښځو سره د خشونت ۸۵۲ قضيې ثبتې کړې دي چې د ۳۳ ولايتونو له مرکزونو څخه يې راغونډې کړې دي (د کابل څخه پرته) او د ۲۰۱۲ له مارچ څخه تر اکتوبر پورې موده رانغاړي. د کورنيو چارو د وزارت د بشري حقونو او جنډر رياست له ۳۴ ولايتونو څخه د ښځو په وړاندې د خشونت ۷۳۸ راپورنه د ۲۰۱۲ له مارچ څخه د دې کال تر اکتوبر پورې ورکړی دي. دا حقيقت په احصائيو کې يوه بله بې نظمي ښيې چې د يوه رياست له بيلا بيلو څانګو څخه را ټول شوي دي.

د ۲۲ ولايتونو[43] څارنوالي ۱۵۳۸ قضيې د خشونت راپور ورکړی. دغه رقم د دې ډول قضيو په ثبت کې د يوناما د پخوانيو موندنو په پرتله زياتوالی ښيې ، چيرې چې څارنوالۍ په همدې ۲۲

[43] بدخشان ، بادغيس ، باميان ، بلخ ، دايکندي ، فراه ، فارياب ، غزني ، غور ، هرات ، جوزجان ، کابل ، کاپيسا خوست ، کنړ ، لغمان ، ننګرهار ، پکتيکا ، پکتيا ، پروان ، سمنګان ، تخار.

ولایتونو کې ۵۲۹ دا ډول قضیې ثبتې کړي وي.[44] د اوسنۍ دورې لپاره تر نیمایي زیاتې قضیې له کابل څخه وې (۶۷۰ قضیې) او په هرات کې (۳۳۵ پېښې) چې له پخوانیو نتیجو سره یې سمون درلود ځکه د ۵۲۹ قضیو څخه ۳۵۳ یې یوازې کابل او هرات ته منسوب شوې وې.

د مجموعي ثبتو شویو ۱۵۳۸ قضیو له ډلې څخه د ۱۹۹ هغو په اړه د څارنوالۍ د اقداماتو په باب هیڅ معلومات نه دي تر لاسه شوي. له ۱۵۳۸ پېښو څخه ۷۰۰ (۴۶ ٪) یې له محکمې سره ثبتې وي ۳۴۲ (۲۲ ٪) یې بیرته اخیستل شوي ، او په ډیری قضیو کې د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون له ۳۹ مادې ګټه پورته شوې. پاتې ۱۴۷ قضیې (۱۰ ٪) تر پروسس لاندې وي او نورې ۱۴۶ هغې( ۹،۵ ٪) د عدلیې وزارت د حقوقو مدیریت ته راجع شوي. یوازې په یوه قضیه کې څارنوالۍ منځګړیتوب کړی او له ۲۲ ولایتونو څخه درې قضیې دودیزې جرګې ته حواله شوي دي. یوناما په دې باور ده چې زیاتې قضیې چې راپور یې ورکړل شوی و یا د منځګړیتوب په ذریعه او یا دودیزو جرګو ته د راجع کولو په ذریعه حل شوي. څارنې څرګنده کړې چې دا یو عام روش ګرځیدلی دی.

د ۲۲ ولایتونو[45] ښاري محکمو (له کابل څخه پرته) په مجموعي ډول ۳۷۸ قضیې په همدې موده کې ثبتې کړي چې د ۲۲۵ هغو په باب حکم صادر شوی (۵۹ ٪)، اوه قضیې بیرته څارنوالۍ ته راجع شوي (٪۲)،۴۳ قضیې (۱۱ ٪) خلاصې شوې دي ، ۳۶ قضیې (۹،۵ ٪) بیرته اخیستل شوي او ۳۳ قضیې (۹ ٪) تر پروسس لاندې وي. یوناما و نه شو کولای چې د پاتې ۳۳ (۹ ٪) قضیو په هکله معلومات ترلاسه کړي.

د پخوانی راپور د مودی په پرتله چی د ښځو په وړاندی د خشونت یوازی ۸۴ قضیی ثبتی شوي وي د اوسنی راپور مودی په بهیر کی د ښاري محکمو له خوا د قضیو ثبتول څلور برابره شوی دی (لاندې ګراف وګورئ).

---

[44] د یوناما ساحوي څارنه ، سپتمبر ، ۲۰۱۱.

[45] بامیان ، بدخشان ، بادغیس ، بلخ ، دایکندی ، فراه ، غزني ، غور ، هرات ، جوزجان ، کاپیسا ، خوست ، کنړ ، لغمان ، ننګرهار ، نیمروز ، پکتیکا ، پروان ، سمنګان او تخار.




د یوناما مشاهده څرګندوي چې په عمومي ډول د ښځو په وړاندې د خشونت د قضیو راپور ، او تحقیق کولو شمیر د دغو قضیو د هغه شمیر په پرتله کم وخوت چې د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون په پاتې موده کې ترسره کړی و ، خاصتآ د ملي پولیسو په اړه. دا حقیقت څرګندوي چې سره د دې چې د څارنوالۍ له خوا د قانون په تطبیق کې ښه والی لیدل کیږي ، خو زیاتې ننګونې لا اوس هم د قضیو د ثبتولو او راپور ورکولو په برخه کې د قانون د انفاذ په موسساتو کې شته (د لا زیات تفصیل لپاره د دې راپور ۴ برخه وګوئ).

## ۳. ۲. د څارنوالانو او ښاري محکمو له خوا د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون تطبیق

په ۱۶ ولایتونو کې یوناما په تفصیل سره د څارنوالۍ له دفترونو او لومړنیو محکمو څخه احصایې راغونډې کړي دي څو د دغو قضایي ادارو له خوا د دې قانون د تطبیق په اړه مفصل معلومات برابر کړي.[46]

د یوناما موندنو ښودلې چې د تیرې دورې په پرتله د څارنوالۍ او لومړنیو محکمو له خوا د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون په تطبیق کې پرمختګ شوي دی.[47]

له ۱۶ ولایتونو څخه چیرې چې یوناما له پولیس ، څارنوالانو او ښاري محکمو څخه د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون د تطبیق په اړه تفصیلي معلومات راغونډ کړل ، پولیسو او څارنوالیو ۴۷۰ د داسې حادثو راپورونه ورکړل چې له ښځو سره خشونت په کې شوی و. د ۴۷۰ قضیو له ډلې څخه څارنوالانو د ۱۶۳ هغو لپاره صورت دعواوې برابرې کړي دي چې د هغو له جملې څخه سل صورت دعواوې په محکمه کې په جرم محکومې شوي دي (۶۱ ٪). د ۱۶۳ صورت دعواوو څخه چې دوسیې جوړې شوې وي ۷۲ یې د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون پر بنیاد ترتیب شوې وې. د دغو ۷۲ صورت دعواوو څخه ۵۲ (۷۲ ٪) یې په محکمه کې د یاد شوي قانون د حکمونو پر بنیاد په جرم محکومې شوې دي.

دغه موندنې د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون په تطبیق کې د څارنوالۍ او لومړنیو محکمو له خوا د تیرې مودې د راپور په پرتله پرمختګ شوی دی.[48] نور راپورونه څرګندوي چې د څارنوالانو له خوا جوړې شوې صورت دعواوې د دې قانون پر بنیاد په محکومیت باندې ختمې شوي دي. خو که چیرې هغه ټول شمیر د قضیو په نظر کې ونیول شي چې د افغانستان د بشري

---

[46] بدخشان ، بادغیس ، بامیان ، دایکندی ، فراه ، غور ، جوزجان ، کاپیسا ، خوست ، کنړ ، لغمان ، ننګرهار ، پکتیکا ، پکتیا ، پروان او سمنګان.

[47] د یوناما راپور وګورئ: په مخ کې اوږده پرته لار: په افغانستان کې د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون تطبیق ، نومبر ۲۰۱۱. که څه هم میتودولوژي ، موجوده معلومات او تحلیل چې یوناما په دوو راپورونو کې ورڅخه کار اخیستي دی یو شانته نه دي او له دې امله مقایسه کول یې امکان نه لري ، خو یوناما وکولای شو چې د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون عمومي مقایسه او مشاهده وکړي چې د دې دفتر د دوو نیمو کلونو په موده کې په لاس ته راغلو موندنو باندې ولاړه ده.

[48] له همدې ۱۶ ولایتونو څخه په پخوانیو راپورنو کې څارنوالانو او پولیس ۳۳۷ قضیې له ښځو سره د خشونت په اړه ثبتې کړي دي چې ۵۶ (۳۴ ٪) د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون پر اساس محکومې شوي دي.

حقونو د خپلواک کمسیون له خوا د ۲۰۱۲ له مارچ څخه تر اکتوبر پورې ۴۰۱۰ دا ډول قضيې ثبتې شوي وي چې له ښځو سره خشونت په کې څرګندو ، موند

نې دې نتیجې ته رسیږي چې د دغو پیښو یو ډیر کم شمیر یې پروسس ، ثبتې ، تحقیق او تعقیب شوي او د محکمو له خوا په جرم محکومې شوي دي.




نوټ: له تکرار څخه د مخنیوی لپاره ، د پولیسو له خوا څارنوالي ته راجع شوي ۱۷۰ صورت دعواوې د هغه مجموعي شمیر له حادثو څخه را وتلي دي چې د ۲۰۱۱ د اکتوبر او ۲۰۱۲ د سپتمبر تر منځ موده کې د پولیسو او څارنوالانو په ذریعه ثبتې شوي دي.

## نور مثالونه

د هرات ولایت په هغو ۱۶ ولایتونو کې نه دی شامل چې یوناما په کې د نمونې په ډول د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون د تطبیق په اړه معلومات راغونډ کړي دي. دغه ولایت یوه استثناء ده ، ځکه چې څارنوالۍ د ۳۳۵ ثبت شویو قضیو څخه ۱۴۴ هغې تعقیب کړې دي (۴۳ ٪) چې ټولې یې د دې قانون د احکامو پر بنیاد ترسره شوې دي. دغه راز د فاریاب له ولایت څخه خبرونه ښیې چې د دې قانون پر بنسټ ډیرې قضیې تعقیب شوي دي: د ۳۲ ثبت شویو قضیو څخه ۲۷ هغې یې تعقیب شوې دي.

دغه تمایل په نورو ولایتونو کې نه دی لیدل شوي. د بامیانو ولایت یو مثال دی چیرې چې د ښځو په وړاندې د خشونت ۵۳ قضیې د څارنوالي له خوا ثبتې شوې او تر کار لاندې نیول شوي دي د هغو له جملې څخه ۴۴ قضیې د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون لاندې پیژندل شوي دي. په دې کې وهل (ژوبلیدل یا معیوب کیدل او وهل) په بدو کې ورکول، په بدو کې ورکړل شوې قضیې، جنسي تیری، ډله ییز جنسي تیری، جبري ځان سوځونې، بیرول او د لفظي تیري قضیې شاملې دي. خو باید وویل شي، چې یوازې شپږ قضیې[49] تعقیب کړای شوي او په ابتدائیه محکمه کې د نوموړي قانون لاندې راغلې دي.

د ننګرهار په ولایت کې د ۸۵ قضیو له جملې څخه چې پولیسو ته راپور ورکړل شوی یوازې څلور قضیې د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون پر بنسټ فیصله شوې دي. غیر رسمی عدالت میکانیزم ته د قضیو راجع کول، د دې قانون د ۳۹ مادې پر بنسټ د قربانیانو له خوا د شکایتونو بیرته اخیستل، د مجرمینو په نیولو کې د ملي پولیسو ناتواني یا نه غوښتل د یوناما په نظر هغه عمده لاملونه دي چې د دې قانون د نیمګړي تطبیق شاته پراته دي.

### *د جزا د قانون تطبیق*

موندنو دا هم څرګنده کړې چې د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون تطبیق کول د دې مانا نه لري چې محکمو تل د ښځو قربانیانو په ګټه فیصلې کړې دي.[50] په ځینو قضیو کې، د جزا له قانون څخه د قربانیانو په ګټه کار اخیستل شوی دی، خاصتاً د جنسي تیري په قضیه کې، ځکه چې دغه جرم د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون په پرتله د جزا په قانون کې ښه تعریف شوي دی. دغه راز د وهلو د جرم (د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون د ۲۲ مادې لاندې

[49] یوناما په دې باور ده چې حقیقي شمیر ښایي له دې څخه لوړ وي، ځکه چې د همکارۍ لپاره ستونزې شته، او دغه راز دقیق معلومات نه ساتل کیږي او د دقیقو معلوماتو لاس ته راوړل ګران کار و.

[50] د ډله ییز جنسي تیري په قضیه کې په بامیانو ولایت کې چې د یکاولنګ له ولسوالي څخه د لسم ټولګي په یوه نجلۍ باندې د دوو تنو تورنو تیري کوونکو (د څارنوالي له خوا د تنکیو ځوانانو په ډول لیدل شوي) له خوا ترسره شوي او یوه بله ښځه چې مرسته یې ورسره کړې ده، توقیف شوې او صورت دعواوې یې د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون پر بنسټ د جنسي تیري کوونکو او له تیري کوونکو سره د مرستیال په توګه برابرې شوي. ابتدائیه محکمې درې واړه د ۲۰۱۲ د سپتمبر په ۱۸ خوشي کړل. اندیښنې له دې امله زیاتې وې چې ښايي په محکمه کې بدې اخیستلو د محکمې په فیصله باندې اغیزه کړې وي، ځکه چې یوه قاضي، چې په اقلیت کې و، تورن کسان مجرم ګڼلي دي. د سپتمبر په ۳۰ یوناما د قرباني له پلا څخه یو غوښتنلیک تر لاسه کړ او وایي چې: "دغو کسانو جنسي تیری کړی دی او د دې غیر اسلامي او غیر قانوني کار په مقابل کې د ابتدائیه محکمې په مرسته ازاد ګرځي. موږ غواړو چې افغاني او شرعي قانون پلی شي او که نه وي موږ به دغه ځای پریږدو." د یوناما ساحوي څارنه، سپتمبر، ۲۰۱۲.

چې ژوبله یا معیوبیت رامنځ ته کوي یا تر ۲۳ مادې لاندې چې وهل او ټکول يې منع کړي)[51] په اړه هم ښه څرګند احکام لري ، خاصتا کله چې په ژوبلیدو باندې تمام شي.

په ځینو نورو قضیو کې ، د جزا له قانون څخه استفاد د قربانیانو په زیان تمامه شوې. د ښځو په ضد د خشونت ځینې مجرمین چې د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون لاندې مجرمین پیژندل شوي ، کله چې د جزا تر قانون لاندې صورت دعوا ورته جوړه شوې ، هغوي یا خوشي شوي ، یا په معمولی جرم تورن ګڼل شوي ، لږه سزا یې لیدلې او/یا قربانیان د "اخلاقي جرم" په ارتکاب تورن شوي.[52]

یوناما همدارنګه داسې راپورونه تر لاسه کړي دي چې دهغو له مخې څارنوالان دې ته ترجیح ورکوي چې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي عاملان د افغانستان د جزا د قانون د لاندې محاکمه کړي نه داچې د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون د لاندې ؛ څو چې په دې توګه دوي وکړای شي هغوي ته دا امکان برابر کړي چې د جمهور رییس د عفوې څخه برخمن شي. دا کار په داسې حال کې او د دې حقیقت د شتون سره تر سره کیږي چې سترې محکمې د ۲۰۱۱ کال په جولای کې د ښځو پر علیه خشونت د منع د قانون ۴۲ ماده[53] لغو کړه چې ټولې هغه معافیانې او جزا کمونې چې د دغه قانون له مخې وضع شوي وې ممنوع کوي او د دې لپاره په دې استناد کوي چې دا د جمهور رییس د اساسي قانون له مخې د عفوې د ورکولو د امتیازي صلاحیت سره په ټکر کې ده.[54] د قضایي چارواکو دغه بیخبری او لیږ معلومات د دغه تشې بله بیلګه ده چی د

---

[51] د ښځو پر علیه د خشونت د منع قانون: **د ټپ او معلولیت سبب ګرځیدل** ، ۲۲ ماده (۱) هغه شخص چی ښځه تر ضرب او جرحی لاندی ونیسی ، له احوالو سره سم او د جرم د شدت او خفت له په پام کی نیولو سره د جزاء د قانون په (۴۰۷ څخه تر ۴۱۰) مادو کی د درج شوو حکمونو مطابق مجازاتیږی. (۲) که چیری د دی مادی په ۱ فقره کی درج شوی اعمال ، د مجنی علیها په مړینه تمام شی ، مرتکب له احوالو سره سم د جزا د قانون په (۳۹۶ څخه تر ۳۹۹) مادو کی درج په اتکل شوی جزاء محکومیږی. **وهل او ټکول** ، ۲۳ ماده: هغه شخص چی ښځه تر وهلو او ټکولو لاندی ونیسی خو پر ټپی کیدو یا معلولیت یی تمام نشی ، له احوالو سره سم په لنډ حبس چی له دری میاشتو څخه زیات نه وی ، محکومیږی.

[52] د یوناما له خوا د انفرادي قضیو څارنه چې د ښځو په وړاندې له خشونت سره تړاو لري د ۲۰۱۰ کال له مارچ څخه د ۲۰۱۱ تر سپتمبر پورې.

[53] ۴۲ ماده د مجازاتو دعفوې او کمښت په اړه: "دهغو جرمونو سزا چې د مجرمانو له خوا د تاوتریخوالي په برخه کې ترسره شوي دي نه شی کیدلای چې په څنډ کې راشي عفوه او یا هم کمه کړای شي. "

[54] د سترې محکمې د ۲۰۱۱ کال د جولای د میاشتې د ۲۷ نیټې تصویب (۱۳۹۰/۵/۵) . " [..] د هغې غوښتنې له مخې چې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د منع د قانون د ۴۲ مادې په اړه شوې ده هغه د جمهوررییس د عفوې او د مجازاتو د تخفیف د فرمانونو د تطبیق په برخه کې ستونزې رامنځته کوي نو ځکه د سترې محکمې عالي شورا د دې وضاحت کوي چې د بندیانو عفوه او دهغوي د مجازاتو تخفیف د جمهور رییس د اساسي قانون له مخې د ورکړل شوو صلاحیتونو څخه دي او هغه یې په هره توګه تطبیقولای شي. له همدې امله د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د منع د قانون دغه ماده د افغانستان داساسي قانون سره په تناقض کې ده. د قانون په توګه هغه نه شي کولای د اساسي قانون پورته و اوسي نو ځکه هغه ملغی ده او د پلی کولو وړ نه ده. "

کابل او د ولسوالی قضایی ادارو تر منځ د حقوقی پالیسی او بیا کنتی اقداماتو په هلکه ارتباط شتون نه لری.

یو ناما په دې نظر ده چې په پراخه پیمانه د جزا د قانون پلي کول او د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون کمه کارونه به د دې لامل شي چې په پای کې د دغه قانون د پلي کولو په لاره کې خنډ را منځته شي. د دغو دواړو قوانینو همغږه کول په دې موخه اړین دي چې په کې د ښځو تحفظ تر اعظمی بریده شي. لکه چې د یوناما په پخوانیو راپورونو کې یې وړاندیز شوی دی ، په کار ده چې په زیاته پیمانه د څارنوالانو روزنه د ولسوالیو په کچه تر سره شي او د لویې څارنوالۍ له خوا په پرلپسې توګه نظارت او څارنه وشي چې په دې توګه د ښځو پرعلیه د خشونت د منع قانون پلي کول زیات شي ، په تیره بیا د ښځو په وړاندې د جدي او سختو جرایمو د سرته رسونکو او عاملانو په وړاندې ( همدارنګه ددې راپور ۳.۴ (ج) برخه وګورئ).

## ۳.۳. دښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د پیښو جریانونه ، نمونې او ډولونه

د هغو ساحوي پلټنو له مخې چې یوناما د ۲۰۱۱ کال د اکتوبر څخه د ۲۰۱۲ کال تر سپتمبره پورې کړي دي او همدارنګه د نورو هغو اسنادو له مخې چې د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون له اړخه دي داسې لیدل کیږي چې تاو تریخوالی د ښځو په وړاندې همدارنګه په پراخه کچه پاتې دي.هغه د تاوتریخوالي پراخ ډولونه چې د ښځو په وړاندې شتون لري په هغو کې وهل ټکول ،د غږو پریکونې ، جنسي تاوتریخوالی او زیان رسوونکي عملونه او کړنې لکه په تنکي عمر کې ودول چې زیاتره د ځان سوځونې لامل ګرځي ،په بدو کې ورکول ( د شخړو د هوارۍ لپاره د نجونو واده کول)، د کور څخه دتیښتې " جرم" او په اصطلاح د " عزت او ویاړ" په نوم وژنه چې د ښځو په وړاندې د تاو تریخوالي په قانون کې نه دي راغلي ، شامل دي.

### *وهل ټکول او دتیپی کول*

*زما میړه زما وینښته وویستل ، زه یې په تسمه ووهلم ، زه یې په یوه خونه کې بنده کړم او ماته یې د ژوندي پاتې کیدو لپاره یوه کوچنۍ ټوټه د ډوډۍ راکوله.*

-- ..... د بدخشان د ولایت د... ولسوالۍ څخه د یوه خوځنده روغتیایی ټیم له خوا په یوه بنده خونه کې ومیندل شوه او فیض آباد ته د څیړنې او درملنې په موخه ولیږدول شوه. اکتوبر ۲۰۱۲.[55]

د تیریو او تاوتریخوالي د هغو پیښو څخه چې د ښځو په علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون له مخې دجرم په توګه ثبت شوي دي یوناما دې پایلې ته رسیدلې چې د وهلو ټکولو ، د بدن د غړو د پریکونې موارد په هغو قضیو کې چې پولیسو او څارنوالیو ته یې راپور ورکړل شوی دی او ۸۹۶ هغه شکایتونه چې د څارنوالانو سره ثبت شوي دي ترټولو زیات دي (د هغو احصایو په شمول چې په کابل کی د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی سره د مبارزی لپاره د اختصاصی څارنوالی څخه تر لاسه شوي دي) .

## د ناموس په نوم وژنې

*پولیس په دې کې پاتې راغلل چې تورن مجرم .... چا چې خپله میرمن د ۲۰۱۲ کال د اپریل په ۲۹ نیټه د نوي بغلان په ولسوالۍ کې د دې له امله په ډزو و وژله چې ورته و ویل شو چې د ده لور دخپل نامزد سره د ده دمیرمنې په همکارۍ په پټه وتښتیدله. پولیس وایي چې مجرم ورک دی په داسې حال کې چې ما هغه بله ورځ د ولسوال دفتر ته نږدې ولیده.*

-- دبغلان د ولایت یو څارنوال ، د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر میاشت.[56]

دافغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون د هیواد په کچه ۶۰ پیښې د ۲۰۱۲ کال د مارچ او اګست د میاشتو ترمنځ ثبتې کړي دي چې دا د راپورونو ډیر زیاتوالی او د دغه ډول پیښو د رامنځته کیدو ډیروالی جوتوي – چې د ۲۰۱۱ کال د همدغه مودې په پرتله چې ټولې ۲۰ دغه ډول پیښې په کې راپور شوې وې ، دی.[57] هغه معلومات چې یوناما ته د قانون د نافذ کوونکو ادارو له خوا د ۲۰۱۱ کال د سپتمبر څخه د ۲۰۱۲ کال تر اکتوبره پورې را رسیدلي دي د دې ښکارندوي دي چې د افغانستان د ملي پولیسو سره ټولې ۲۹ پیښې د ناموسي وژنو ثبتې شوې دي ( په دې کې یواځې ۱۵ پیښې د فاریاب د ولایت څخه دي)، ۳۹ نورې پیښې په څارنوالیو کې

---

[55] د بدخشان د ولایت د فیض اباد د ښار په یوه روغتون کې د یوه قرباني سره د یوناما مرکه ، د ۲۰۱۲ کال د اکتوبر ۱۴ نیټه.
[56] د بغلان په ولایت کې د یو څارنوال سره د یوناما د ټیلیفون د لارې مرکه ، د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر ۵ نیټه.
[57] د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د ښځود حقونو ، تحفظ او انکشاف په برخه کې د کمیشنرسره د یوناما غونډه ، د ۲۰۱۲کال د سپتمبر میاشت ، کابل.

ثبتې شوې دي ( ۱۲ پیښې د پکتیا په ولایت کې او ۱۵ په هرات کې)،او ۲۷ پیښې د محکمو سره ثبتې شوې دي.

## جنسي تیری

*زه د دریو تېوپک والو له خوا د قوماندان .... د ورور .... په شمول د نومبر په ۲۴ نیته هغه مهال د ډله ییز جنسي تیري لاندې راغلم چې زه یې یو نامعلوم ځای ته بوتلم او د مجرمانو له خوا په یو ه تېکسي کې کښینول شوم او هغوي [ مجرمان] زما لغړ عکسونه واخیستل او بیایی د تېکسي ډریور دې ته اړ کړ چې زما ترڅنګ و دریږي او بیا هغوي زما تصویرونه د تېکسي د ډریور سره هم واخیستل. ترديې وروسته یې زه هلته دتېکسي ډریور سره پریښودلم او بیا د هغه سره بیرته خپل کلي ته راغلم. زه غواړم چې دغه مجرمان ژر تر ژره محاکمه شي ، ترديې پرته زه به خپل ځان و وژنم.*

-- د بغلان د ولایت د .... ولسوالۍ څخه د ډله ییزجنسي تیري قرباني ، نومبر ۲۰۱۱.[58]

د جنسي تیري پیښې چې په کې ډله ییز جنسي تجاوز او اجباري فحاشی هم شامل دي ، زیاتې دي. د دغو قضیو په اړه د ملي او نړیوالو رسنیو له خوا توجه شوې ده او په پایله کې یې مجرمان اوعاملان تر عدلي تعقیب لاندې راغلي دي. د کندز د ولایت څخه د لعل بي بي قضیه یوه له دغو قضیو څخه ده چې د تښتونې او جنسي تیري په اړه ور په کې عدلي تعقیب تر سره شوی دی. یوناما دا مشاهده کړې ده چې د دغه ډول ډیرو قضیو یا خو تحقیق نه دی شوی او یا هم د عدلي تعقیب د بیلابیلو لاملونو له مخې چې د دې راپور په لومړیو کې یې یادونه شوې ده شاته غورځول شوی دی.

ملي پولیسو او دلویې څارنوالۍدفترونو په ۲۲ ولایتونو کې په ترتیب سره ۶۳ او ۹۳ د جنسي تیري قضیې ثبتې کړي دي ، په داسې حال کې چې د ۲۲ ولایتونو په محکمو کې د راپور ورکونې د دغه مهال لپاره د جنسي تیري ۶۴ قضیې ترکار لاندې نیولي او دوسیه کړي دي. د جنسي تیري یو شمیر قضیې د زنا په قضیو اړول شوي ، په ځانګړي ډول د محکمې په کچه او دا هم زیاتره د لازم

---

[58] د بغلان په ولایت کې د یو قرباني سره د یوناما مرکه ، د ۲۰۱۱ کال د نوومبر ۲۸ نیته.

ثبوت د نشتوالي ، دودیزو باورونو ، د قانون نا سم پلي کولو او همدارنګه د مجرمانو او یا دهغوي د پلویانو د ځواک او اغیزې له امله ترسره کیږي.[59]

## *"اخلاقي جرمونه"*

*زه د... سره مینه لرم خو زما کورنۍ زه د کلي د یو بل شخص سره نامزده کړم . ... هغه او ما پریکړه وکړه چې د[ خپلې] ولسوالۍ څخه [ بل] ولایت ته وتښتو. پولیسو موږ په [دغه] ولایت کې د ۲۰۱۲ کال د جون په ۶ نیټه ونیولو او څارنوال زه د طبي آزموینې لپاره دعامې روغتیا [ ډاکټر] ته واستولم. ما ډاکټر ته وویل چې زه معصومه او بې ګناه یم او ما هیڅ ډول ګناه نه ده کړې. خو ډاکټر زما غوښتنه رد کړه او زه یې معاینه کړم او دې نتیجې ته ورسید چې زما وینا سمه وه او د جنسي جماع هیڅ ډول نښې نه وې.*

-- د بدخشان د ولایت څخه ۱۷ کلنه نجلۍ چې وروسته د ابتدایه محکمې له خوا د ۲۰۱۲ کال د اګست په میاشت کې خوشې شوه.[60]

دښځو او نجونو دغیر قانوني نیونې او عدلي تعقیب دود او کړنې چې هغوي د خپلو کورونو څخه د کورني تاو تریخوالي اویا نورو زیان رسوونکو اعمالو په نتیجه کې تښتیدلي دي ، همغه شان ادامه لري. ملي پو لیسو د" تښتیدنې " ۶۲ قضیې ، څارنوالانو ۳۱ قضیې او محکمو ۹ قضیې ثبتې کړې دي.

دیادونې وړه ده چې د ۲۰۱۲کال د اپریل په ۴ نیټه د لوي څارنوالی عالی شورا د ښځو په وړاندې د خشونت سره د مبارزی لپاره اختصاصی څارنوالی ته حکم او لار ښود صادر کړ او په هغه کې یې هدایت ورکړ خو چې څارنوالانو ته لاندنۍ لارښوونې ورسوي:

یو متحدالمال باید ترتیب او د ټولو اړوندو د څارنوالیو د دفترونو سره په مرکز او ولایتونو کې شریک کړای شي او په هغه کې څارنوالانو ته لارښوونه وشي چې د کور څخه د تیښتې تر نامه لاندې غیر مشروعې دوسیې چې هغه د افغانستان د قوانینو له مخې جرم نه بلل کیږي او په محکمو کې د هغو استماع نه کیږي ترتیب نه کړي او د بې اساسه تحقیقاتو د

---

[59] د یوناما ساحوي څارنه ، اکتوبر ۲۰۱۱- سپتمبر ۲۰۱۲.

[60] د بدخشان په ولایت کې د قرباني سره د یوناما مرکه ، د ۲۰۱۲ کال د جون ۹ نیټه. دغه قرباني د راپور له مخې د ابتدایه محکمې له خوا د ۲۰۱۲ کال د جولای په میاشت کې خوشې شو. د یوناما ساحوي نظارت ، سپتمبر۲۰۱۲.

سرته رسولو شخه دې ډډه وکړي. نورحالات او شرايط چې په هغو کې اشخاص د کوره تښتي او هربل ډول جرم او جنايت تر سره کوي د دې لارښود د لاندې نه راځي.

دغه موضوع تاسو سره په تفاهم کې راغله ځو چې تاسو د افغانستان د اسلامي جمهوريت د لويې څارنوالۍ د دفتر دعالي شورا د لارښوونې له مخې اقدامات وکړئ.[61]

دا واضحه نه ده چې تر کومه بريده د لويې څارنوالۍد دفتر د ښځو په وړاندې د خشونت سره د مبارزې لپاره اختصاصی څارنوالی د دغه لارښود د تطبيق لپاره کار کړی دی او ايا هغوي په دې اړوند د شکايتونو نظارت تر سره کړی دی. د ځينو سرچينو[62] په حواله په کابل ، ننګر هار ، بلخ ، هرات[63] او پروان کې د څارنواليو دفترونو دغه سند تر لاسه کړی ولې ورسره نور لارښود شتون نه لري.

"تيښته" او " د کوره تښتيدنه" د افغانستان د قانون له مخې جرم نه دی. د جزا د قانون هيڅ حکم دغه مسله تر غور لاندې نه نيسي او نه هم هغه د شريعت د قانون له مخې کوم جرم دی ؛ خو بيا هم د قانون د انفاذ ادارې اکثره وخت نجونې د دغه "جرم" تر نامه لاندې نيسي اوهغه تر عدلي تعقيب او محاکمې دلاندې راولي.

په رسمي عدلي سيستم کې ښځې اونجونې چې د کورونو شخه تښتي ، ځينې وختونه په دې تور چې د زنا کولو "اراده او قصد" يې ګواکې درلود او ياهم د "وړاندې شخه دزنا قصد" په تور تونې کيږي [زنا يو جرم دی چې د اسلامي قانون له مخې دحدودو په چوکاټ کې راځي او که چيرې د حدودو د جرم په توګه ثابت نه شي نو بيا د افغانستان د جزا د قانون له مخې د تعزيری جرم په توګه ور سره معامله کيږي ، داد واده شخه د باندې د جنسي جماع جرم دی].

د زنا قصد نه د افغانستان د جزا د قانون او نه هم د شرعي قانون له مخې يو واضح جرم دی. يوناما په دې باورده چې د "تيښتې" د استدلال دلاندې او د قانونيت پرته د تيښتې د عمل شخه د قصدي زنا د جرم د ثابتولو لپاره کار اخيستل پخپله د جزا د قانون او شرعي قانون غلطه او ناسمه کارونه ده.

---

[61] د افغانستان د لويې څارنوالۍ د دفتردلارښود انګليسي ژباړه چې دغه لارښود د کوره د تيښتې د قضيو په اړه دی چې د افغانستان د قوانينو له مخې بايد جرم ونه ګڼل شي. د ۲۰۱۲ کال د اپريل مياشت.

[62] د قانون د انکشاف نړيوال سازمان (IDLO) له خوا شريک کړای شوي معلومات ، کابل د ۲۰۱۲ کال داګست مياشت.

[63] هرات د کوره د تيښتې له امله د ښځو د بندي کيدنې لوړه سلنه لري. د هرات د ولايت په اناثيه محبس کې د ۱۳۷ ښځو شخه ۹۶ يې د افغانستان د جزا د قانون د ۴۲۷ مادې ، څېرکی ( زنا ،لواط اود ناموس پايملول) له مخې محکومې شوي دي. د يوناما ساحوي څارنه ، اکتوبر ۲۰۱۲.

د ۲۰۱۰ کال داگست په میاشت کې د سترې محکمې عالي شورا د اساسي قانون د ۱۳۰ مادې په استناد پخپله ۵۷۲ گڼه پریکړه[64] کې څارنوالانو ته لارښوونه وکړه چې څه ډول "د کوره د تیښتې" دوسیې او قضیې وڅیړي. د دغه لارښود مطابق محکمې باید دا و ارزوي چې د کوره تښتیدونکې میرمن مجرده وه او که واده شوې ، د تیښتې لامل او انگیزه او هغه ځای چې ورته دغه ښځه ورغلې ده (د خپلوانو کور او که پردی کور). که چیرې یوه میرمن د دې لپاره تښتي چې د کورنۍ د غړو د ازار اواذیت څخه د ځان ژغورلو په موخه وي او د کوره وځي او دخپلوانو کور ته چې مشروع محرم دی ورځي ( یو نږدې د وینې له مخې نارینه محرم او یا هم بل مشروع بدرگه کوونکی) او یا هم عدلی مقام او موسسې ته ځي ، نو په دې صورت کې باید دغه عمل له شرعی لحاظه جرم و نه گڼل شي. د دې پرته که چیرې دغه میرمن پردي کورته ورځي که څه هم د کوره د تیښتې لامل د ناوړه سلوک او اذیت څخه تیښته ده په دې صورت کې لارښود د دې وضاحت کوي چې هغه په دې کار سره ځان د نورو جرمونو سره لکه "زنا او ورسره اړوند نور تجاوزونه" مخامخ کوي چې دا د عالی شورا په باور د شریعت له مخې غیر مشروع او ناروا دي نو ځکه هغه ممنوع او دمجازاتو وړدي.

دغه لارښود په لومړي سرکې داسې وښودل شو چې د هغه له مخې د هغو نجونو د توقیفولو او نیولو د روش عام شوی عمل پای ته ورسیږي چې هغوي د کوره تښتي ؛ په دې مانا چې که یوه میرمن د خپلوانو کور ، عدلي موسسې او یاهم بل ځای ته تښتي باید بندي نه شي او داچې د پولیسو له خوا دغه ډول نیونې به محدودې شي.

په عمل کې دغه لارښود د دې لپاره کارول کیږي چې دودیز عمل ته لا مشروعیت ورکړي او د ښځو پرخوځښت او حرکت باندې محدودیتونه راولي او ازادي یې محدوده شي. که چیرې لا هم پخپل سر او یا هم د پولیسو او څارنوالانو له خوا د قانون انتخابي تطبیق په داسې توگه وشي نو دا به د ښځو اونجونو هغه بنسټیز حقونه چې د افغانستان او نړیوالو قوانینو له مخې تضمین شوي دي چې په کې د ژوند کولو حق ، فردی او شخصي مصوونیت ، د نقل او حرکت ازادي ، د روغتیا حق شامل دي هغه به د دوي په خصوصي ژوند ، کورنۍ او کور کې د پخپل سره او نا قانونه مداخلوله امله تر پښو لاندې اونقض شي.

---

[64] د " کوره د تیښتې" دجرم د عدلي تعقیب په اړه د قانون د انکشاف د نړیوال سازمان (IDLO) د مفاهمې په څواب کې د افغانستان د سترې محکمې عالي شورا د ۲۰۱۰ کال د اگست د لومړۍ نیټې په لیک کې د ۵۷۲ گڼې مصوبې یا لارښود وضاحت شوی دی. دغه رسیدلی ځواب د یوناما سره شریک کړای شوی دی. دغه متحدالمال همدارنگه د اصلاح په ورځپانه کې په ۲۰۱۰ کال د اگست په ۲۵ نیټه نشر شوی دی.

په یوه غونډه کې چې په هغې کې د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر په ۱۶ نېټه د عدلیې وزیرحبیب الله غالب ، د ښځو چارو وزیره حسن بانوغضنفر ، او د کورنیو چارو د وزیر مرستیال مرزا محمد یارمند ګډون درلود ټولو په کلکه په غلط ډول د" کوره د تیښتې ،[65] په نوم د ښځو او نجونو بندي کول وغندل. یوناما په دې باور ده چې دغه ډول د رسمی چارواکو وضاحت د دې لپاره خورا ډېر اهمیت لري چې د ډېرو هغو افغانو میرمنو او نجونو تحفظ او ژغورنه باوري شي چې دې ته اړې دي چې د تاو تریخوالي او خشونت څخه وتښتي. خو دغه ډول بیانونه باید د هیواد په کچه د ټولو رسمي چار واکو له خوا په بشپړ او د پولیسو او عدلي ارګانونو له خوا په عمل کې پلي شي او د دې سره باید په بشپړ ډول د لوړې کچې سیاسي ملاتړ شتون ولري.

***په اجباري او تحمیلي ډول د ځان سوځونې*** پیښې د هغو ښځو ترمنځ تر ټولو په لوړه کچه کې دي چې هغوي د ډېر وحشیانه تاو تریخوالي سره مخ شوي دي. ملي پولیسو دغه ډول ۳۴ قضیې ،څارنوالیو ۳۴ قضیی ، ښاري محکمو ۱۷ قضیې ثبتې کړي دي.

### ***اجباري او د کم عمر ودونه***

> *زما تره غواړي چې ما خپل زوي ته واده کړي او دا زما دهغه ملکیت د لاسته را وړلوپه موخه چې ماته دخپل مرحوم پلار څخه را پاتې دی ، خو زه واده نه غواړم ، بلکې زه غواړم چې خپلو زده کړو ته ادامه ورکړم او دخپلې مور سره و اوسیږم.*
>
> -- د بغلان په ولایت کې د دربیم ټولګي ۹ کلنه زده کوونکې ، اپریل ۲۰۱۲ کال.[66]

لکه چې یوناما ته یې راپور ورکړل شوی دی ، اجباری او د کوچني عمر ودونه چې یو له ډېرو ژورو او سترو منفی او زیانمنونکو دودونو او کړنو څخه دی همدارنګه د ښځو او نجونو په وړاندې هغه تاوتریخوالی دی چې لا په پراخه پیمانه دوام لري. که څه هم دغه جریان په هغو احصاییو کې نه دی راغلی چې د قانون دانفاذ د ادارو او نورو سرچینو ، د ښځو د چارو د ریاستونو او د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون په شمول ورکول کیږي ، خو راپورونه داجوتوي چې دغه ډول تاو تریخوالي او سرغړونې زیاتې پراخې دي. د دغه ډول سرغړونو لږ راپور ورکول د فرهنګي او د دودیزو عواملو له امله دي ، د نه راپور ورکولو ستونزه د انتقام اخیستنې ، ژوند ته د ګواښ او

---

[65] هغه ځانګړې غونډه چې د ملي شورا د ښځو ، بشري حقونو او مدني ټولنې د کمیسیون له خوا په کابل کې د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر په ۱۶ نېټه جوړه شوه.

[66] د بغلان په ولایت کې د قرباني سره د یوناما مرکه ، د ۲۰۱۲ کال د اکتوبر۱۴ نېټه.

ددې ډار له امله دي چې هغوي به د " کورڅخه د تيښتې" او زنا د جرمونو په تور تر اتهام لاندې راشي.

### *په بدو کې ورکول او د بدل ودونه*

يوناما په بدو کې او دبدل لپاره په واده کې د ورکولو پيښې ثبتې کړي دي او دا په داسې حال کې چې د ښځو پر عليه د تاوتريخوالی د منع د قانون د ۲۵ مادې له مخې دغه ډول کړنې جرم ګڼل کيږي. دا د يادونې وړ ده چې د ۲۰۱۲ کال د فبرورۍ په مياشت کې د لوي څارنوال دفتر يو لارښود صادر کړی دی چې د زيانمنونکو کړنو ؛ لکه په بدو کې ورکول او اجباري ودونو عاملين او تسهيل کوونکي تر عدلي تعقيب لاندې ونيسي چې په دې ډول د ښځو پر عليه د تاوتريخوالی د منع د قانون تطبيق او تنفيذ تر سره شي.[67] که څه هم دا واضحه نه ده چې د دې د تعقيب لپاره به څه ډول ميکانيزم د صادرونکي مقام له خوا وضع شي ، او دا باوري کړای شي چې دغه ډول لارښودونه د ولسواليو او په ليرې پرتو سيمو کې توزيع او د کښتنيو مقاماتو له خوا عملي کړای شي.

[67] " اجباري ودونه او په بدو کې ورکول " ، چې دا اکثره وخت د کورنۍ په راتلونکې کې د تاو تريخوالي لامل کيږي لکه چې د اوس مهال هغه خواشينونکې پيښې چې د هيواد په بيلا بيلو برخو کې رامنځته شوي او په پراخه پيمانه د رسنيو له خوا تر پوښښ لاندې راغلي دي چې هغه د شريعت او نورو نافذه قوانينو له مخې ممنوع دي. **نو څکه د دې لارښوونه شوې ده چې په دغو پيښو کې ښکيل کسان ( منځګړي ، شاهد اود نکاح صادرونکی) بايد تر پوښتنې اود ښځو پر عليه د خشونت د منع دقانون د ( ۲۵ ، ۲۶ ، او ۲۸ ) مادو له مخې تر عدلي تعقيب د لاندې راشي** ، د لويې څارنوالۍ لارښود ، د ۲۰۱ ۲کال د جنورۍ ۲۴ نيټه.




نوټ: د تناسب د نه لرلو له امله د وهلو او ټکولو د قضيو شمير په دغه ګراف کی شامل شوی نه دی.

## ۴. د ښځينه قربانيانو عدالت ته رسيدنه

> *زه د ښځينه قربانيانو په وړاندې د خشونت څخه ډېر خواشينی يم چې هغوی روغتون ته د درملنې لپاره راځي. که څه هم هغوی په دې پوهيږي چې د کورني تاوتريخوالي قربانياني دي خو هغوی يواځې دا وايي چې له زينو پريوتلي دي او يا يې پښه بنده شوې ده او پريوتې دي ، او داسې نور ، او دا ځکه چې هغوی نه غواړي خو د عاملانو هويت څرګند کړي او نه غواړي کورنۍ اړيکې يې ويجاړې شي.*
>
> -- د تخار د روغتون ډاکتر ، جنوري ۲۰۱۲.[68]

د يوناما موندنې دا جوتوي چې د خشونت ښځې اونجونې قربانيانې همغه شان د بيلابيلو عواملو له کبله عدالت ته د رسيدنې په لار کې د ننګونو سره مخ دي. دخشونت قرباني ډېری ميرمنې او

[68] د تخار په ولايت کې د محلي ډاکتر سره د يوناما د ټيليفون له لارې مرکه ، تخار د ۲۰۱۲ کال د جون ۱۶ نيټه.

نجونې نه غواړي د خپل حالت په اړه د قانون د انفاذ اړوندو عدلي موسسو ته د فرهنګي محدودیتونو ، ټولنیزو نورمونو او رواجونو ، دودیزو او مذهبي ګروپېرنو له امله چې ښځې ماتحت حالت ته راولي ، د ټولنیزداغ ، استثنی کولو او ځینې وختونه حتی د دوي ژوند ته د خطر له امله راپور ورکړي. په پایله کې د تاو تریخوالي ډیری پیښې چې د ښځو په وړاندې ترسره شوي د هغو راپور د قانون د تنفیذ ادارو او عدلي موسسو ته نه دی وړاندې شوی. دبیلګې په توګه د افغانستان د بشري حقونو دخپلواک کمیسیون د پکتیا د ولایت د څانګې د اټکل له مخې نږدې ۸۰ سلنه دغه ډول قضیې ملي پولیسو او عدلي ادارو ته نه دي راپور شوي.

نور عوامل چې د دې لامل ګرځي چې قربانیان او د هغوي کورنۍ عدالت ته د رسیدنې څخه منع کوي هغو کې پر ملي پولیسو ، څارنوالانو ، د ښځو د چارو په ریاستونو باندې د باور نشتوالی ، او په ځینو ځانګړو سیمو کې د امن د خونو ، مدني ټولنې د موسسو ، او یا هم د افغانستان د بشري حقونو دکمیسیون د دفتر نه شتون ، او د قانوني تحفظ (د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع قانون) په اړه د پوهاوي نشتوالی او د ښځو په وړاندې د خشونت د قربانیانو د ملاتړ د میکانیزمونو (د ښځو د چارو ریاستونه ، د امن خونې) څخه نا خبرتیا شامل دي.

د ښځو لپاره دامن خونې په افغانستان کې نسبتاً نوی انکشاف دی او اکثره وخت د تاو تریخوالي قربانیانو ښځو د لندمهاله کوربتوب د لارې د هغوي د ژوند په ژغورلو کې مرسته کوي. د افغانستان د وزیرانوشورا د ۲۰۱۱ کال د سپتمبر په ۵ نیټه د ښځو د ژغورنې او تحفظ دمرکزونو په اړه د لومړي ځل لپاره یوه مقرره تصویب کړه. نوموړې مقرره د دغه ډول خدمت د برابرولو پر اهمیت ټینګار کوي چې د امن خونې یې یا د دولت اویا هم نا دولتي موسسو له خوا برابروي او په دې موخه دهغو د فعالیت لپاره معیارونه ټاکي چې د هغو د اوسیدونکو د حقوقو او ویاړ ساتنه وکړي. که څه هم دا د تاو تریخوالي دښځینه قربانیانو لپاره یو دایمي او همیشنی حل نه دی خو د دغه مقرراتو انفاذ او په هغو سیمو کې د امن د خونو جوړول چیرته چې هغه شتون نه لري کیدلای شي چې ډیری ښځو ته د دې امکان برابرکړي چې د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع د قانون له مخې زیات تحفظ ،په تیره بیا د کورني تاوتریخوالی څخه مصوونیت تر لاسه کړي.

دغه ننګونې چې د خشونت د جرمونو په لړ کې عدالت ته د رسیدنې په لارکې ورسره ښځې مخامخې دي لا نورو قضیو په اړوند هم په لاندنیو برخو کې د توضیحي قضیو سره یوځای تفصیل ورکړل شوی دی.

## ۴. ۱. د دودیزو عدالتي میکانیزمونو ځواکمنی

په اکثره کلیوالو سیموکې په تیره بیا د هیواد په جنوب ختیز ، جنوب اوختیزو برخو کې د عدالت دودیز میکانیزمونه ( شورا ګانې او جرګې ) درسمي محاکمو پرځای زیات ځواکمن دي او د شخړو د حل او عدالت ته د رسیدنې په لار کې د زیاتو وګړو لپاره اساسي نقش لوبوي.[69] په لیرې پرتو هغو سیمو کې چې په کې اکثریت وګړي پښتانه دي ټولنه د فرهنګي نورمونو له مخې اداره کیږي چې د دې سره د ښځې نقش حاشیې ته ځي او په دې توګه هغوی نه شي کولای چې د خپلو ټولو قانوني حقونو څخه ګټه واخلي. یوناما دا مشاهده کړې ده چې عنعنوي او دودیز قانون په دغو سیمو کې اساسي نقش لوبوي ، اکثره وخت د شریعت د اصولو څخه هم پورته ځي. په دغو سیمو کې ټولنه او د رسمی ادارو استازي داسې جوتیږي دي ته اړ دي چې په تحمیلي توګه د دغو مقرراتو له مخې عمل وکړي چې په ځینو مواردو کې د ښځو حقونو ته د شریعت او د افغانستان د نورو قوانینو په پرتله لږ محافظت او تحفظ برابروي. دغه ډول حالت د دې زمینه برابروي چې په عمومي ډول د محلي ادارو له خوا د نافذه قوانینو د پلي کولو څخه ډډه وشي.

د یوناما د پلټنو او نظارت له مخې دا جوته شوې ده چې د ښځو په وړاندې د تاو تریخوالي په ډیری پیښو کې ملي پولیسو ، څارنوالانو ، د ښځو د چارو ریاستونو او د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون هم د دودیزو میکانیزمونو له مخې مشورې کړې دي. د دغو میکانیزمونو پریکړې لکه چې لیدل شوي دي ډیری وخت په محل کې د با نفوذه نارینه وو له خوا ترتیب شوي دي چې په کې بیلا بیل طرزالعملونه کارول شوي دي چې په هغو کې دودونه ، د اسلامي قانون تفسیرونه او محلي ځواکمنې اړیکي شامل دي. یوناما ته جوته شوې ده چې اکثره پریکړې د قانون سره په سمون کې نه وې او یا هم دا چې د دیني اصولو سره په مخالفت او تناقض کې وې. په پایله کې د ټولنې زیانمنونکي قشرونه لکه ښځې او ماشومان اکثره وخت لا زیات د قربانۍ سره مخ کیږي. د بیلګې په ډول یوه محکمه کولای شي چې یو تن جنسي تیری کوونکی د بند په سزا محکوم کړي او په عین وخت کې ټولنیز میکانیزم کیدلای شي پریکړه وکړي چې جنسي تیری کوونکی باید د قرباني سره واده وکړي او یا هم دا چې د بدو د بدل لپاره غږ پورته کړي.

[69] د ننګر هار په ولایت کې د ښځو د چارو د ریاست سره ۵۲ قضیې ثبتې شوي دي چې د هغو څخه ۱۷ یې د جرګود لارې حل شوي دي. هغه احصایې چې د ملي پولیسو ، د ښځو چارو د ریاست ، او د افغانستان دبشري حقونودخپلواک کمیسیون ،څخه د یوناما له خوا د ۲۰۱۲ کال د اګست په میاشت کې راټول شوي دي.

د دودیزو عدالتي میکانیزمونو زیاتره کارول له دې امله کیږي چې ټولنو ته د نږدې شخه رسیدنه کیږی او دا ګروپرنه چې د دغه میکانیزم له مخې په اسانۍ ، چټکۍ ، ارزانۍ او په فرهنګي لحاظ د منلو وړ چارو او پریکړو ته رسیدنه کیدلای شي.

## ۲.۴. په ځینو سیمو کې د شورشیانو د کنترول او ناامنۍ زیاتوالی

که چیرې د افغانستان موسسې د خپل ځان دفاع نه شي کولای نوهغوي څنګه زما ساتنه کولای شي ؟[70]

پراخه نا امني ، د حکومتي کنترول نشتوالی او یا هم کمزوري ، د قانون کمزوری حاکمیت او د فعالو محکمو نشتوالی لا هم د دې لامل شول چې ځینې ټولنې د عدالت پر دودیزو میکانیزمونو باندې تکیه وکړي چې هغه اکثره د محافظه کارو مذهبی مشرانو له خوا اداره کیږي چې هغوي په ټولنه کې د ښځو د دریځ پرخلاف د وروسته پاتې روشونو څخه کار اخلي. یوناما ته معلومه شوې ده چې دغه جریان په هغو ولایتونو او ولسوالیو کې شتون لري چې د دولت د ضد عناصرو له خوا هلته کنترول زیاتیږي لکه نورستان ، پکتیکا [71] پکتیا[72] غزنی ، خوست ، زابل ، اروزګان ، کنړ ، پروان (سیاګرد ، شینواري[73] او دکوه صافي په ولسوالیو کې) لوګر ، میدان وردک ، او فراه[74] کې. د دغو ولایتونو په ځینو ولسوالیوکې د طالبانو متوازي محکمې ، جرګې او دودیز میکانیزمونه یواځیني چارواکي دي چې حکومتداري او د قانون حاکمیت برابروي.

---

[70] په ختیزواو سهیل ختیزو سیمو کې د ښځو سره د یوناما غونډې. د یوناما ساحوي نظارت ، اکتوبر ۲۰۱۱ او سپتمبر ۲۰۱۲.

[71] د یوناما سره په یوه غونډه کې چې د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر په ۵ نیټه د پکتیکا په ولایت کې د استیناف د محکمې د رییس سره وشوه هغه وویل چې د محکمې او څارنوالۍ دفترونه ۱۰ سلنه د تشکیل له مخې بشپړدي او دا هم د دولت د کمزوري کنترول له امله دي چې په کې د دغه ولایت مرکز د ښرنې ښار هم شامل دی. په یوه بله غونډه کې چې د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر د میاشتې په ۶ نیټه وشوه د پکتیکا د ولایت د ولایتي شورا یو غړي داسې وویل: " رسمي عدالتي سیستم په ډیرو محدودو وسایلو کار کوي او محلي چارواکو وییلي دي چې د شورشیانو زیاتیدل او د کمو معاشونو شتون هغه دوه لوی خنډونه دي چې د پکتیکا په ولایت کې عدلي سیستم ورسره مخامخ دی. وکړي د شورشیانو له خواد ګواښونو سره مخ دي چې دا په مستقیم ډول په دې اغیزه کوي چې خلک د عدالت د رسمي لارو څخه کار واخلي ، چې اکثره هغوي په فساد کې ښکیل کڼل شوي دي ".

[72] د پکتیا د ولایت د بشري حقونو دخپلواک کمیسیون د ښځو د چارود څانګې دمشرې په وینا لږ تر لږه ۸۰ سلنه اړوندې قضیې ملي پولیسو او عدلي مقامونو ته نه دي راپور شوي. د یوناما سره د پکتیا په ولایت کې غونډه ، سپتمبر ۲۰۱۲.

[73] د نامعلومو سرچینو له خوا د۲۰۱۲ کال د جولای په ۸ نیټه د پروان ولایت د شینوارو په ولسوالۍ کې د زنا په تور د طالبانو له خوا د یوې میرمنې د اعدام د موبایل ټیلیفون کلیپ .

[74] دفراه په ولایت کې عدلي مقامونه یواځې د ۲۰ څخه تر ۵۰ سلنې ډک دي. عدلي چارواکي د فراه د ولایت د مرکز څخه فعالیت کوي او هلته فعالې محکمې شتون نه لري. د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر لپاره د یوناما د ساحوي دفتر راپور.

د بیلګې په توګه د ۲۰۱۲ کال د مئ په میاشت په پکتیا ولایت کې طالبانو په عامه محضر کې یوه میرمن د زنا په تور سنګ باران کړه. هغوي د هغه سړي په لټه کې شول چې ګواکې هغه په دغه جرم کې ملوث و او هغه هم باید دغه ډول مجازات او سنګ باران شوی وای خو نوموړی تښتیدلی و. دولتي چارواکو په دغه ولایت کې د دغې پیښې په اړه نا خبري وښودله.[75]

په نورو سیمو کې چیرته چې د خشونت ښځینه قربانیانو وکولای شول چې د رسمي موسسو د لارې عدالت ته رسیدنه ولري ، د دولتي ضد عناصرو د فعالیتونو زیاتوالي د ملکي وګړو د نقل او حرکت په وړاندې ستونزې رامنځته کړي دي او د ولسوالیو اولیرې پرتو سیمو د ښځو په وړاندې یې خورا زیات مشکلات رامخې ته کړي دي چې په دې ډول هغوي دولتي دفترونو ته لاس رسی نه شي درلودلای. د بیلګې په ډول یوناما ته د دې معلومات رسیدلي چې وروسته له هغې پیښې چې په کې د لغمان د ولایت د ښځو چارو رییسه و وژل شوه یواځې دوو قربانیانو په مهترلام کې د ښځو چارو ریاست ته د۲۰۱۲ کال د جولای د میاشتې څخه وروسته مراجعه کړې ده اوخپل شکایت یې وړاندې کړی دی.[76] دا د دې ښکارندوي ده چې ښځینه قربانیانې د دې څخه اندیښنه لري چې په دغه دفتر پورې اړوندې به وګڼلې شي او تر هدف د لاندې به راشي.

ښځینه قربانیانو یوناما ته وویل:" کله چې افغاني موسسې خپل ځانونه نه شي ساتلای نو هغوي به ما څنګه وساتي؟" همدا ډول د لغمان د ولایت د ښځو د چارو ریاست کارکوونکو یوناما ته وویل چې هغوي د خپلو کارونو د سرته رسولو پر مهال ځانونه ارام نه احساسوي او د تیرو څلورو میاشتو راهیسې د دغه ریاست د دفتر چارې ډیرې زیاتې اغیزمنې شوي دي.[77]

د دې څخه ویره چې هغوي به د ملي پولیسو له خوا د زنا په تور ونیول شي او بیا به د " زنا د قصددرلودلو"او د نا محرم سره "د کور څخه د تیښتې" په تور تر عدلي تعقیب او محاکمې لاندې راشي دا یو بل تهدید دی چې ښځینه قربانیانې د هغه په اړه اندیښنې لري او دا د دې پریکړې کولو لپاره یو عامل ګڼل کیږي چې ایا هغوي د شکایت کولو لپاره د خپل کوره ووځي او کنه.

---

[75] هغه قضیه چې د ۲۰۱۲ کال د اکتوبر په میاشت کې یې یوناما ته راپور ورکړل شوی دی.

[76] د لغمان په ولایت کې د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر په میاشت کې د ښځو د چارو په ریاست کې د یوناما غونډه.

[77] پورتنی مرجع.

## ۳.۴ د ملي پوليسو ، عدلي تعقيب او محکمې سره ننګونې

د تماس او اړيکو د لومړنۍ سرچينې په توګه ملي پوليس او څارنوالان د خشونت د ښځينه قربانيانو د ژغورنې او د ښځو پر عليه د تاوتريخوالی د منع د قانون د سمې پلي کونې لپاره کليدي نقش لوبوي. که څه هم د يوناما پلټنې د افغانستان د ملي پوليسو د تحقيقانو د کچې سره د بې کفايتۍ ، فساد او نيمګړتياوو شتون او تشه په نښه کوي چې د هغه له امله د ډيرو جدي قضيو عدلي تعقيب مختل کيږي او هغه پړاو ته دغه تعقيب نه رسيږي چې له مخې يې د ښځو پر عليه د تاوتريخوالی د منع قانون پلی شی.

هغه عمومي ننګونې چې د افغانستان د ملي پوليسو او عدالت ته د رسيدنې په برخه کې شتون لري هغه د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کميسيون له خوا د باميانو په ولايت کې په يو کنفرانس کې د ۲۰۱۲ کال د جولای دمياشتې په ۱۸ نيټه په تو‌ليز ډول بيان شولې.[78] د يوناما مشاهداتو وښودله چې هغه ننګونې چې د افغانستان دبشري حقونو د خپلواک کميسيون له خوا ښودل شوي دي د ټولو ولايتونو لپاره يوه نمونه ده: د قضيو د دوسيو دڅيړلو پرمهال د شفافيت د اصل په پام کې نه نيول - د قضيو د اوږدې مودې لپاره د څيړلو ځنډتياوې چې په کې زيات وخت کليدي اسناد لا درکه کيږي او د ډيرو اوږدو طرزالعملونو موجوديت ، کمزوري تحقيقات ، د شهودو څخه د نيمګړو بيانونو راټولول چې په دوسيو کې ځای کيږي ، په عين قضيو کې د مظنونينو او تورنو کسانو په وړاندې نا مرتبطه روش ، په تيره بيا په هغو قضيو کې چې په کې با نفوذه او لوړ پوړي کسان د تورنو کسانو په توګه شامل وي ، د پوليسو د جوړښتونو تر منځ د احتساب نه شتون او په تيره بيا د ښځو سره د پوليسو تبعيضي سلوک دغه ډول ننګونې دي.

نورې ځانګړې اندېښنې په لاندې ډول طرح شوې دي:

### الف. منځګړيتوب اود شکايت بيرته اخيستل

د يوناما د وړاندنيو موندونو سره په تړاو کې د افغانستان ملي پوليس او څارنوالان د قانون په پلي کولو کې بې پرې او بې طرفه عمل نه کوي او دود دستور تعقيبوي چې د قانون د حاکميت سره په مخالفت کې د ښځو په وړاندې د تاو تريخوالي قضيې څيري. لکه چې پورته وويل شول په ځينو حالاتو کې ملي پوليس او څارنوالان دوسيې جرګو او شورا ګانو ته استوي څو چې په کې د هغوی

[78] د باميانو ولايت د بشري حقونو د خپلواک کميسيون دسيمه ييز دفتر مطبوعاتي بيانيه، دري: http://www.aihrc.org.af/fa/press-release/1105/press-release-bamian-office-html,18 July2012

مشورې واخلي چې اکثره وخت د دې سره زيان رسونکې کړنې تر سره کيږي چې په هغو کې جدي جرمونه هم شامل وي او دا د دې پرځای چې په دغه شان حا لاتو کې قانوني طرزالعملونه تعقيب کړای شي.[79]

په ټو لو ولايتونو کې منځګړيتوب هميشه د اقداماتو د پيل نقطه وي. کليدي موسساتي فعالينو دا واضحه کړې ده چې منځګړيتوب د ښځې او ميړه د خپل منځي کورنيو لانجو او شخړو د حل لپاره يو مناسب ميکانيزم او وسيله ده. ډيری قضيې چې د ښځو د چارو رياستونو او افغان ملي پوليسو ته يې راپور ورکړل شوی دی ، وړاندې له دې چې څارنواليو او محکمو ته و رسيږي د منځګړيتوب له مخې د شکايتونو د بيرته اخيستو سره د ښځو پر عليه د تاوتريخوالی د منع د قانون د ۳۹ مادې پر بنسټ پاي ته رسيدلي دي. د جوزجان په ولايت کې که څه هم دڅارنوالۍ دفتر د دې وضاحت کوي چې هغه د قربانيانو له خوا د دوسيو بيرته اخيستل نه هڅوي خو د استيناف د څارنوالۍ مشر دا مني چې د عدلي تعقيب پر مهال د دوسيې او قضيې خارجول ډير عام دي.[80]

يو ناما ته دا جوته شوې ده چې د ښځو پر عليه د خشونت زياتره قضيې چې هغه دوديزو او عنعنوي ميکانيزمونو ته ارجاع شوي دي هغه پرته له دې چې د ارجاع کوونکي مرجع لکه د ښځو د چارو رياست ، ملي پوليسو او څارنواليو له خوايې نظارت او څارنه وشي حل او فصل شوي دي. په پايله کې کله چې يوه ميرمن بيرته خپلې کورنۍ ته د بريالي (منځګړيتوب) په صورت کې

[79] د يوناما له خوا د ننګرهار په ولايت کې د يوې ۱۸ کلنې نجلۍ قضيه پلټل شوې چې د اجباري نامزدۍ له امله د يو سړي سره تښتيدلې چې هغه هم ددې نجلۍ سره يوځای و. د افغانستان سرحدي پوليسو وړاندې تر دې چې هغوي پاکستان ته ورسيږي دغه جوړه ونيوله. دغه نجلۍ د امن يوې خونې او سړي جيل ته واستول شو. دغه قضيه يوې جرګې ته حواله شوه چې هغې پريکړه وکړه چې دغه سړي چې قرباني نجلۍ يې د ځان سره بولې ده بايد يوه نجلۍ د دې ښځې کورنۍ ته او يوه نجلۍ هغه بل سړي ته په بدو کې ورکړي. د دې سربيره د دغه سړي کورنۍ بايد ۶۰۰۰۰۰ کلدارې چې نږدې ۶۰۰۰ امريکايي ډالره کيږي بايد د هغه سړي کورنۍ ته چې دغه نجلۍ يې غوره کړې وه ورکړي. د ولسوالۍ پوليسو په دې کې مداخله وکړه ځکه چې د هغوي د جرګې پريکړه غير قانوني بلله. که څه هم ټول تورن کسان جې دخيل وو ونيول شول خو بيا هم ملي پوليسو د بلې جرګې د راغوښتلو پريکړه وکړه. نوې پريکړه دا وه چې د ښځې کورنۍ بايد د هغه سړي کورنۍ ته چې دغه نجلۍ يې غوره کړې وه بله نجلۍ او مبلغ ۳۰۰۰۰۰ کلدارې ( نږدې ۳۰۰۰ امريکايي ډالره) د جبران په توګه ورکړي. د نجلۍ کورنۍ دا اراده څرګنده کړه چې خپله لور ووژني. که څه هم جرګې پريکړه وکړه چې دغه نجلۍ بايد هغه سړي سره چې ورسره تښتيدلې وه واده وکړي او د دې تضمين يې د کورنۍ څخه غوښتی و چې هغې ته به تاوان نه رسوي. ملي پوليسو تر اوسه هغوي نه دي ګرفتار کړي . د يوناما د بشري حقونوڅانګې ته قرباني داسې راپور ورکړي دی:

*" کله چې زه پنځه کلنه وم زما کورنۍ زه د يوهلک سره چې د همدغه کلي څخه دی نامزده کړم. خو ما د هغه سره واده کول نه غوښتل... په پای کې هلته دکلي د ۱۰۰ سپين ګيرو يوه جرګه وشوه . هغوي پريکړه وکړه چې د دغه سړي کورنۍ بايد زما د بلې نهه کلنې خور سره په بدو کې واده وکړي. او زما کورنۍ د دې سربيره بايد يو څه پيسې هم ورکړي. اوس زه دلته د ښځو د امن په خونه کې يم او نږدې وخت به کور ته ځم. د دې وروسته به هغه سړی چې زما خوښ دی په رسمي ډول زما د واده کولو غوښتنه وکړي او په پای کې به زه د هغه سره واده وکړم. په دې توګه دا به زما د کورنۍ لپاره د شرم خبره نه وي."*

[80] د جوزجان په ولايت کې د استيناف د محکمې د رييس سره د يوناما مرکه ، د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر مياشت.

راستنه شوې ده نو هغه بیرته د تاو تریخوالي سره د مخامخ کیدو د خطر سره مخ ده. په داسې حالاتو کې چیرته چې د ښځو امن خونې په دې کې دخیلې وې او چیرته چې د ښځو چارو ریاستونه فعال وو نوځینې محافظتونه د نظارت او څارنې د منظمو لیدنو کتنو له لارې د هغو ښځو لپاره رامنځته شوي دي چې بیرته خپلو کورونو ته استولې شوې دي. یوناما ته دا معلومه شوې ده چې دغه ډول څارنې او کړنې ډیرې نادرې او د دې لپاره نا کافي وې چې د هغوی بشپړ تحفظ تامین کړي.

ځینې وختونه هغه منځګړیتوب چې د ښځو د چارو د ریاستونو او ملي پولیسو له خوا یې هڅه شوې ده د عدلي پروسې د ځنډتیا لامل ګرځیدلي او په پایله کې ښځې اړې شوي دي چې داوږد مهال لپاره په امن خونو کې پاتې شي. که څه هم ډیرى میرمنې قربانیانې دخپلو ماشومانو څخه جلا کړاى شوي دي او هغوي یو محدود ژوند ته تللې دي ، امن خونې د هغوي لپاره د پناه میندنې یواځینى انتخاب و او کله چې هغوي بیرته خپلو کورونو اوتولنو ته راستنیږي نو هغوي بیا د زیاتو ستونزو سره چې د دوي مصوونیت او ځینې وخت د دوي ژوند ورسره تړلى دى ، مخ دي.

## ب. د ځواک عدم تعادل او هغه فساد چې د معافیت لامل کیږي

یوناما د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د عاملانو او مجرمینو د نیولو په برخه کې د عمل نه کولو نمونې مشاهده کړي دي چې دغه عاملان د وسله والو نا قانونه ډلو سره تړلي دي اویا هم د دولت ضد عناصرو ، د دولت پلوه ملیشاء ګانو ، اربکیانو ، د افغانستان د محلي پولیسو ، د دولت دننه او یا د باندې د با نفوذه اشخاصو سره په تړاو کې دي ، او یا هم هغه کسان دي چې کولاى شي رشوت ورکړي. یوناما دا هم مشاهده کړې ده چې په ځینو سیمو کې د افغانستان ملي پولیس د عاملانو او مجرمانو په وړاندې بې توانه دي اوپه داسې حال کې چې په ځینو نورو سیمو کې داسې جوتیږي چې هغوی د عاملانو سره د فساد او د عدالت د پلې کولو په برخه کې د نه بې پرې توب له کبله یو ځاى کیږي او دهغوي پلوي کوي. دغه پدیده د ظرفیت د کمښت له امله د دې شرایط برابروي چې د ښځو په وړاندې د تاو تریخوالي د مجرمانو لپاره د هیواد په کچه معافیت خورا پراخ شي.

دغه مسله دهغې قضیې له مخې واضحه شوې چې د یوناما له خوا د فراه په ولایت کې تعقیب شوې ده. د ۲۰۱۲ کال داپریل په میاشت کې دافغانستان ملي پولیسو د یوې میرمنې د پلار څخه شکایت تر لاسه کړ چې لور یې دخپل میړه له اړخه بندي شوې او ورسره ناوړه سلوک شوى

و. د سرچينو په حواله دغې ميرمنې د خپل ميړه د لومړني واده څخه د پاتې لور سره کور پرې ايښی ځو چې د خپلې سخرانې د ظلمونو څخه ځان وژغوري. ملي پوليسو په دې برخه کې کوم اقدام ونه کړ او د هغې پلار ته يې مشوره ورکړه چې قضيه سپين ږيرو ته راجع کړي ، دغه پيښه په هغه کلي کې پيښه شوې وه چې د شورشيانو په کنترول کې و. د راپورونو له مخې يو څه موده وروسته ښځه دهغه مجرم د لور سره يوځاي و وژل شوه او مجرم همغه شان ازاد دی.[81]

په بله پيښه کې چې يوناما مستنده کړې ده يوه ۲۱ کلنه ميرمن د بلخ په ولايت کې د خپل ميړه له خوا چې اربکی پوليس و و وژل شوه او دغه مجرم نه دی نيول شوی. دهغه ناوړه سلوک له امله چې د دې ميرمنې سره يې دوام درلود دغه ميرمن اړه شوه چې د کوره وتښتي او د خپل پلار کورته ولاړه شي. د هغې ميړه د ميرمنې د پلار کورته ورغی او هغه يې د خپلې کورنۍ د غړو سره په ډزو و ويشتله ( دهغې پلار مړشو او مور يې ټپي شوه). د راپور له مخې دغه ميرمن د ټپونو له امله نوره نه شي کولای اولاد ولري او د رواني خفقان او پريشانۍ څخه ځوريږي. مجرم تښتيدلی او سرچينو وييلي دي چې د هغه سره ملي پوليسو مرسته کړې ده.[82]

يوناما داهم مشاهده کړې چې سستي او نه اقدام کول په هغو حالاتو کې خورا پراخه دي چيرته چې د ښځو په وړاندې د تاو تريخوالي تورن مجرمين او عاملان پخپله دملي پوليسو غړي دي.[83]

فساد او بې کفايتي هم هغه عوامل دي چې د قانون د حاکميت په لاره کې زيات نقش لري. يوناما دا مستنده کړې ده چې د ډيری ميرمنو او کورنيو شکايتونه چې هغوي بې وزله دي او نه شي کولای چې چارواکو ته رشوت ورکړي نو ځکه يې دوسيې د عدلي چارواکو له خوا په سمه توګه نه دي څيړل شوي. د دې يوه بيلګه د باميانو د ولايت د يکاولنګ په ولسوالۍ کې د ۲۰۱۲ کال د جولای دمياشتې پيښه ده چې په هغې کې څارنوال د جنسي تيري د يوې قرباني د کورنۍ څخه د قضيې د تحقيق ، دمجرمانو د عدلي تعقيب او مجازات کولو لپاره د رشوت غوښتنه کړې وه. دغه څارنوال د رشوت د دغې قضيې سره د ۲۰۱۲ کال د اګست په مياشت کې د ملي امنيت او دعامه امنيت د څارنوالۍ له خوا ونيول شو ، خو د رشوت غوښتنې د نورو قضيو په اړه راپورونه نه شته.

---

[81] هغه قضيه چې د يوناما له خوا د فراه په ولايت کې د ۲۰۱۲ کال د اپريل په مياشت کې پلټل شوې ده.

[82] دغه قضيه د بلخ په ولايت کې د جندر پر بنسټ د تاو تريخوالي د ډلې غونډې ته چې د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر په ۱۶ نيټه جوړه شوه راپور شوې ده.

[83] د يوناما ساحوي نظارت د ۲۰۱۱ کال د اکتوبر څخه د ۲۰۱۲ کال ترسپتمبره پورې.

دغه ډول نورې موندنې د شمالي سيمو څخه تر لاسه شوي دي. دمحلي سرچينو په وينا د سرپل او جوزجان په ولايتونو کې د ښځو په وړاندې د تاو تريخوالي د قضيو ځيړل دلوړې کچې د فساد د شتون له امله عملي جنبه نه لري. د بيلګې په ډول د سرپل د ولايت په يوه کلي کې د مفسد ښارنوال له خوا يوه قضيه ځيړل شوې چې په کې هغه د ميرمنې د کورنۍ څخه رشوت تر لاسه کړی او هغه يې د زنا په جرم تورنه کړې دا چې د هغې کورنۍ نوموړې پر فحاشۍ تورنه کړې وه. محکمې که څه هم د ښځې په ګټه هغه مهال پريکړه وکړه چې د هغه ولايت د ښځو د چارو رياست مداخله وکړه (د هغې طلاق يې د ميړه څخه واخيست او ميړه يې پر يو کال بند محکوم کړ).[84]

د سمنګانو د ولايت د ښارنوالۍ دفتر د مشر د وينا له مخې هلته اکثره وخت زورواکان د ښارنوالۍ په چارو کې مداخله کوي. خو د دې سره د هغه د وينا له مخې د ښارنوالۍ رياست د اصلاحاتو په پلان کار کوي څو چې د فساد سره د مبارزې لپاره د جمهوري رياست د وروستني ۴۵ ګڼه فرمان د تطبيق زمينه مساعده شي.[85]

يوناما دا هم ارزولې ده چې په ډيرو ښارل شوو قضيو کې د افغانستان ملي پو ليسو په سمه توګه تورن کسان نه دي نيولي او د هغوي څخه يې سم تحقيق نه دی کړی. د قربانيانو او نورو دخيلو خواوو سره مرکو وښودله چې که څه هم هغوي په وار وار د ملي پوليسو څخه غوښتنه کړې ده چې هغوي د ښځو په وړاندې د تاو تريخوالي قضيې وڅيړي ، ملي پوليسو دتحقيقاتو د نوعيت او څرنګوالي په اړه چې د هغوي له مخې يې د تورنو کسانو د ځای د معلوملو او نيولو په هکله وي ، معلومات نه دي ورکړي. د دې سربيره يو شمير قضيې لا هم د ملي پوليسو د تحقيق د لاندې دي که څه هم د هغو د پيښيدو څو مياشتې پرته له دې چې په قضيه کې لازم پرمختګ شوی وي ، تيرې شوي دي. ځينو قربانينانو او دهغوي ملګرو يوناما ته د دې راپور ورکړی دی چې د ملي پوليسو تر منځ فساد د نه عمل کولو د اساسي لاملونو څخه دی. خو يوناما په دې ونه توانيدله چې دغه ادعاګانی د وړاندې شوو مدرکونو څخه پرته ثابت کړي.

---

[84] دغه قضيه د سرپل د ولايت د ښځو د چارو د رييسې له خوا د يوناما سره شريکه کړای شوې ده ، د ۲۰۱۲ کال دسپتمبر ۱۲ نيټه

[85] دسمنګان ولايت د ښارنوالی د رييس سره د يوناما غونډه ، د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر ۱۲.

## ج. د مهارتونو ، ظرفیت او صلاحیت نشتوالی

یوناما ته جوته شوې ده چې د تاو تریخوالي سره د مخ کیدونکو ښځو لپاره د هغوي د حقونو د تحفظ او ساتنې په موخه د شکایت وړاندې کول ستونزمن کاردی. اکثره وخت قربانیان هغو دفترونو ته راجع شوي دي چیرته چې هغوي بې واکه وو او نه یې شوای کولای چې د ښځو په وړاندې د تاو تریخوالي دجنایي قضیو په لړ کې د پریکړې صلاحیت ولري لکه کورنۍ محکمې. د بیلګې په ډول د ننګر هار په ولایت کې د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون د ښځو په وړاندې د تاو تریخوالي ۴۵ قضیې کورنۍ محکمې ته راجع کړي دي. د هغو څخه یواځې د ۱۵ قربانیانو قضیې چې ډیری یې جنايي قضیې وې ثبتې کړې چې دهغو لپاره هم دغې محکمې د دې صلاحیت نه درلود چې په کې لازم تصمیم ونیسي. کورنۍ محکمې باقي قضیې د څارنوالۍ دفتر ته محولې کړې.[86] په دې توګه یوناما ته دا معلومه شوې ده چې ښځینه قربانیانې په پرلپسې ډول بیلا بیلو مراجعو ته د راجع کیدنو څخه نا هیلې شوي او د دې ارداه یې پرې ایښې چې د عدالت موندنې په هڅه کې شي.

د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع د قانون لپاره په ځانګړي ډول د با صلاحیته څارنوالانو د ټاکنې موضوع څرګنده شوې چې د دې سره د قضیو د راجع کولو په برخه کې زیات مغشوش والی راغلی دی.[87]

د یوناما موندنې دا هم په ډاګه کوي چې د پولیسو ، څارنوالیو او د ښځو د چارو د ریاست له خوا د قضیو د سیستماتیک ثبت د یو شان او معیاري سیستم او دیوې عدلي اداري څخه بلې ته د قضیو د راجع کولو لپاره د دغو موسسو له خوا د قضیې د لازم تعقیب هیڅ ډول باوري میکانیزم نشته. نږدې په ټولو هغو ولایتونو کې چې د پلټنې تر پوښښ لاندې راغلي دي د قضیو دشمیر لنډې احصایې ، د جرمونو نوعیت ، او د هغوي د اړوندو فعالیتونو پایلې شتون نه لري. دغو موسسو ارقام او احصایې تیتې کړې دي او یواځې دهغه شخص او یا چارواکي په تاریخي حافظه باندې تکیه کوي چې د دغو قضیو دوسیې یې څیړلې دي.

---

[86] د کورنۍ محکمې د مشر سره د یوناما د بشري حقونو دڅانګې غونډه ، د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر میاشت.

[87] دهغو معلوماتو له مخې چې د قانون د پرمختیا د نړیوال سازمان(IDLO) له خوا تر لاسه شوي دی د ښځو په وړاندې د ځانګړی تاو تریخوالی واحدونه چې د (ILDO ) له خوا یې ملاتړ کیږي د کابل ، بلخ ، هرات ، بدخشان او ننګر هار په ولایتونو کې د څارنوالیو د دفترونو سره یوځای کړای شوي او په تشکیل کې دي او د کاپیسا ، پروان ، او بامیانو لپاره د غور د لاندې دي. د دې سربیره د کندهار او کندز په ولایتونو کې د ښځو په وړاندې د تاو تریخوالي کمیسیونونه په تشکیل کې دي خو د ILDO له خوا نه ملاتړ کیږي. د ILDO سره د یوناما مفاهمه د ۲۰۱۲ کال د نومبر ۱۲ نیټه.

ددې سربیره مدني قضیې چې په ښځو پورې اړوندې دي لکه دطلاق او نفقې قضیی هم د ښځو په وړاندې د تاو تریخوالي د قضیو په توګه ډله بندي شوي دي. په ځینو ولایتونو کې لکه بامیان ، نږدې ټولې قضیې چې په کې ښځې شاملې وې د قانون د تنفیذ د ادارو د چارواکو ، دښځو د چارو د ریاستونو او د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون له خوا دښځو په وړاندې د تاو تریخوالي د پراخې کتګورۍ په لړ کې ثبتې شوي دي. د یوناما له خوا د غوره شوو قضیو د ځانګړو شرایطو ارزونه د دغې کتګورۍ د لاندې د هغوي د ثبتولو او راوستلو ملاتړ نه کوي. د مثال په توګه د بامیانو په ولایت کې د وهلو ټکولو هغه قضیې چې په کې نارینه او ښځې قربانیانې شاملې وې او هغه د مدني او ځمکې د شخړو د خپریدا په پایله کې رامنځته شوې وې هغه هم د ښځو په وړاندې د تاو تریخوالي د لاندې ثبتې شوې وې.

یوناما دا یادداښت کړې ده چې که څه هم د ښځو پر عیله د تاوتریخوالی د منع قانون پخپل ذات کې ځانګړي حالات او د جرم لپاره نیت او اراده د جرم لپاره د یوجز په توګه په پام کې نه نیسي چې دا د استدلال له مخې په دغه قانون کې یو محدودیت دی. د مثال په ډول د افغانستان د بشری حقونو د خپلواک کمیسیون او د ښځو چارو د ریاستونو له خوا بیلا بیلې د ډیرو سرغړونو او تاوتریخوالو کتګورۍ چې د ښځو په وړاندې د تاو تریخوالي په لړ کې ثبتې شوي دي د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع د قانون د لاندې د جرمونو په لړ کې نه دي راغلي لکه د ناموس تر نامه لاندې وژنې ، تاو تریخوالي او اجباري ودونو څخه د خلاصون په موخه د کوره تیښته او د ښځو او نجونو په غلطه توګه قرباني ګرځول. دغه ډول حالت د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع د قانون د لاندې د تاو تریخوالي د پیښو او جرمونو د ثبت او ډله بندۍ د عام منل شوي او شریک کړای شوي سیستم د ودې او پرمختیا په لار کې پیچلتیا را پیدا کوي.

د پولیسو د ظرفیت موضوع لا هم د یوې ستونزې په توګه چې باید ورته توجه وشي پاتې ده. د ځواکمنو او پیاوړو ښځینه پولیسو کار مندانو نه شتون چې باید د تفتیش د برخې د کار کوونکو په حیث په کار وګمالې شي په زیاتو ارزونو او راپورونو کې ذکر شوی دی. د نړیوالو همکارانو په مرسته د کورني غبرګون واحدونه د هیواد په کچه ځواکمن اوپراخه شوي دي. خو بیا هم د لیرې پرتو سیمو پوښښ محدود پاتې دی او د دوي عملي ظرفیت د ښځو په وړاندې د هر ډول تاو تریخوالي د قضیو چې په کې ستر جرمونه هم شامل دي د حل لپاره لاهم جوړیدل غواړي.

د ښځو په وړاندې د تاو تریخوالي شکایتونو ته د رسیدنې په موخه د ښځینه پولیسو نقش دافغانستان په شرایطو کې له پامه غورځیدای نه شي چیرته چې ښځې دې ته ترجیح ورکوي چې د

خپل شخصي ژوندانه د اړوندو مسلو او ستونزو په برخه کې د ښځو سره خبرې وکړي. د کورنیو چارو وزارت ستراتیژۍ کې د ۲۰۱۴ کال لپاره د ۵۰۰۰ ښځینه پولیسو دجزوتام لپاره غوښتنه شوې ده خوپه دې لړ کې هم یو شمیر ستونزې شتون لري چې د دغې موخې په لاره خنډ دي. هغه خنډونه چې د ښځینه پولیسو د استخدام او ساتنې په لړ کې موجود دي په دې ډول دي:

هغه دودونه او رواجونه چې د پولیسو په ځواک کې د ښځو د ګډون سره مرسته نه کوي ، د سواد د کچې ټیټوالی ؛ د امنیت نشتوالی ؛ د ماشومانو د مراقبت ستونزه ؛ د دولتي ضد عناصرو له خوا تهدیدونه او د انتقام اخیستنې ویره او تر ټولو مهم د پولیسو په صفوفو کې په پراخه پیمانه د جنسي اذیت او ازار ادعاګانی.[88]

په عمومي صورت د تفتیش او تحقیقاتو د سرته رسولو لپاره د لازمو مهارتونو نه شتون همدارنګه د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د قضیو په حرفوي ډول د حل او فصل په لار کې خنډونه راوستي دي. دا په واضحه توګه داجباری ځان سوځونې په قضیو کې مشاهده کیږي چې په هغو کې د عدلي طب د لازمو کتنو ، د جرم د صحنې تحقیق او د مدارکو د ټولو د نشتوالي له کبله اکثره وخت دغه قضیې دځان وژنې د عادي پیښو په توګه څیړل شوي دي.[89]

## د. تبعیضي روشونه او په لومړیتوب کې وروسته والی

*څارنوال د.... د قضیې دوسیه په چا چې برید ترسره شوی ورکه کړې. څارنوال مرتکب تبریه کړي. دا د اسنادو د ساتلو او د ښځو په وړاندې د خشونت د دقضیو د محاکمې په برخه کې بې تفاوتی څرګندوي.*

-- دافغان ملی پولیسو کارکونکی ، دچاه اب ولسوالي ، تخار ولایت ،اګست ۲۰۱۲ کال[90]

یوناما موندلې چې د قانون پلي کونکي چارواکي کله نا کله د ښځو په وړاندې د خشونت دوسیې جدي نه نیسی او د هغو په هکله ډیر ورو عمل کوي. د چارواکو په هکله راپور موجود دی چې

[88] وګورئ په مخ کې اوږده لار ؛ په افغانستان کې د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع د قانون پلي کول. http://unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/human%20rights/November%2023_UNAMA-OHCHR-Joint-Report-on Implementation-of-EVAW-law_ENG.pdf.

[89] د یوناما ساحوی نظارت ، اکتوبر ۲۰۱۱- سپتمبر ۲۰۱۲

[90] د تخار د ولایت د چاه اب د ولسوالۍ د جنایی تحقیقاتو د ریاست د یوه کارکونکي سره د یوناما ټیلفوني مرکه ، د ۲۰۱۲ کال د اګست ۵.

ویلی یی دي چې دا ډول قضیی په کورنیو مسایلو پورې تړلي مسالې دي او دې مسلو ته باید د کورنۍ او ټولنې په کچه ځواب وویل شي. د ښځو په وړاندې د خشونت د قضیو د مرتکبینو تعقیب اکثرا د قضایی چاروا کو لپاره یو لومړیتوب نه وي. د بیلګی په توګه ، د بلخ په ولایت کې ، چارواکو ویلی چې په بندي خانو کې د زیاتی ګڼې ګوڼې له امله دوي نه شي کولای نوي توقیف شوي کسان په بند کې وساتی. په دې ترتیب ، په ځینو مواردو کې ، د څارنوالی ریاست د ښځو په وړاندې د خشونت سره د مبارزی واحد پریکړه کړې چې د ښځو په وړاندې د خشونت مرتکبین توقیف نه کړي.[91] یوناما ته په مکرر ډول ویل شوي چې د متهم شخص بندي کول ښایی د هغوي کورنۍ په اقتصادي لحاظ د ستونزو سره مخ کړي.

په میمنه کې د یوناما له خوا په یوې ترسره شوې مرکه کې یوه څارنوال ویلي چې د ښځو پیاوړي کول ښایی د زیات طلاق اخیستلو لپاره لار هواره کړي. نوموړي د خپل موټر چلونکي د ښځې قضیی ته اشاره وکړه چیری چې نوموړې ښځې د یوې کوچنۍ شخړې پر سر چې په سختۍ بدله نه شوه خپل میړه پریښود. نوموړي همدارنګه وویل چې ښځې هڅه کوي څو د ځان په ګټه د قانون څخه ناوړه ګټه پورته کړي او شکایت کوي چې قانون د هغو نارینه وو د ساتنی لپاره چې د ښځو له خوا ترټل کیږي تحفظ نه دی برابر کړي.[92]

## ه. د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع د قانون او د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالی په هکله کمزوری درک

یوناما مشاهده کړې چې د ښځو د چارو ریاست ، افغان ملی پولیسو ، څارنوالانو او قاضیانو د نقشونو او مسولیتونو نه روښانه درک کوم چې د ښځو په وړاندې د خشونت د دوسیو سره معامله کوي ، او همدارنګه د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع د قانون نه مناسب درک عدالت ته د ښځو لاسرسی له ستونزو سره مخ کوي.

یوناما مشاهده کړي هغه چارواکي چې د ښځو پرعلیه د تاوتریخوالی د منع د قانون د مقررو څخه خبر نه وو ځینی هغه موارد چې د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع د قانون لاندې جرم شمیرل کیږي او د ښځو په وړاندې د خشونت لامل کیږي په پام کې نه دي نیولي ، او د دې په نتیجه کې

---

[91] د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالی سره د مبارزی لپاره اختصاصی څارنوالی د مشر سره د یوناما مرکه ، د ۲۰۱۲ کال د اکتوبر په ۲۱

[92] د یو څارنوال سره د یوناما مرکه ، میمنه ، ۲۰۱۲ کال اګسټ ۸.

د دې عملونو مرتکیبین نه دي محاکمه شوي. یوناما تشخیص کړې چې ځینو جرمونو ته د بیلګی په توګه د وهلو ، د کورني خشونت ، اجباری او د بدل د ودونو او د ماشومانو د ودونو په شمول د چارواکو له خوا د جدي جرمونو په سترګه نه کتل کیږي او لکه څنګه چې د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع د قانون لاندې په کار ده د عدلي تعقیب په موخه اړوندو ادارو ته نه سپارل کیږي. د اجرا وړ حقوقي چوکاټ محدود درک د اجرا وړ قانون لاندې د یوه جرم د تعقیب اوڅیړنی په چارو کې د هغوي توان د خطر سره مخ کوي او دا د ښځو په وړاندې د خشونت دوسیو ته لار هواره وی کومې چې د پیژندل شوي جزا قانون لاندې معامله کیږي.

د فاریاب په ولایت کې سرچینو یوناما ته ویلی چې یو شمیر هغه متهمین چې د ولسوالۍ په کچه د ښځو په وړاندې د خشونت په دوسیو کې ښکیل دي اکثرا څارنوالانو ته د پیسو د ورکولو وړاندیز کوي څو د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع د قانون پر ځای هغوی د جزا د قانون لاندې متهم کړي څو په راتلونکی کې د ولسمشر د عفوې څخه برخمن شي.[93]

د څارنوالانو او قاضیانو سره د مرکو پر بنسټ ، یوناما مشاهده کړې چې دا مسله د دوو لاملونو لپاره واقع کیږي: د پارلمان له خوا د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع د قانون نه تصویب او بله دا چې د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع د قانون لاندې یو شمیر جرمونه د جزا په قانون کې هم شامل دي. ځکه نو قاضیان او څارنوالان د ځانګړتیاوو پرځای عمومیاتو ته ترجیح ورکوي. د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع د قانون او جزا قانون کې د ورته مقررو ګډ موجودیت مغشوشوالی رامنځ ته کړي او کیدای شي په قضایی سیستم کې د ښځو د حقونو د ساتنی او د نا تکمیل او دقیق تحلیل لپاره لار هواره کړي. د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع د قانون لاندې لیږ شمیر دوسیو په هکله پریکړه حتمی په دې مانا نه ده چې په یوه ځانګړی قضیه کې د ښځو د حقونو څخه ساتنه نه ده شوې ، کیدای شي د جزا د قانون لاندې هم د ځینو قضیو په هکله پریکړه وشي. لکه څنګه چې په دې راپور کې یې د مخه یادونه وشوه د ښځو په وړاندې د خشونت په دوسیو کې باید د ښځو پرعلیه د تاوتریخوالی د منع د قانون او د جزا قانون په کار اچونه کې همغږي په نظر کې ونیوله شي څو وکولای شي په دې توګه د ښځو او د هغوي د حقونو ساتنه وشي ، د خشونت څخه وژغورلې شي او عدالت ته لاسرسی پیدا کړي.

---

[93] د فاریاب ولایت د څارنوالی د ریاست د څیړنو د واحد د یوه غړی سره د یوناما مرکه ، میمنه ، د ۲۰۱۲ کال جون.

## ۵. د ښځو پر علیه د خشونت د منع کمیسیونونه

*د ښځو پر علیه د خشونت د منع د کمیسیون زیاتره غړي چې په سمبولیک ډول په ناستو کې حضور لري د ښځو په حقونو باور نه لري. هغوي یواځې د دې لپاره سره یو ځای کیږي څو یو بل ته ځانونه وښیي او خپل وخت تیر کړي. ځکه نو د ښځو په وړاندې د خشونت د کچې د کمولو په برخه کې د سیاسی ارادې شتون یو حتمی کار دی او د ولایت په کچه دا د والي مسوولیت دی چې خپل ټول اړوند ریاستونه مسوول وګڼي.*

-- د بغلان د ښځو د چارو د ریاست یو کارکونکی.[94]

د ښځو پر علیه د خشونت د منع عالی کمیسیون ، د ۲۰۰۹ کال د اګسټ په میاشت کې د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع د قانون لاندې تنظیم او په ۲۰۰۹ کال کې تاسیس شو او د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع د قانون د ټولو اړخونو د ودې لپاره د یوه جامع میکانیزم په حیث دنده ترسره کوي. د عالی کمیسیون مشري د ښځو د چارو د وزیرې له خوا کیږي او د خپلو اختیاراتو په دننه کې یې په مهمو مسایلو کې فعاله برخه اخیستې ده. په دې وروستیو کې دغه عالی کمیسیون د خپل او د اړوندو ولایتی کمیسیونونو د دندو او وظیفو لایحه نهایي کړل.

له بلی خوا ولایتي کمیسیونونه یو متنوع انځور وړاندې کوي. د افغانستان د ۳۴ ولایتونو له جملی څخه په ۲۸ ولایتونو کې کمیسیونونه جوړ شوي دي.[95] د یوناما وروستۍ ارزیابي ښيي چې د هیواد په اکثرو ولایتونو کې یا خو دغه کمیسیونونه فعال نه دي او یا خو په موثره توګه فعالیت نه کوي. د ریاست د څوکۍ د نقش په هکله ورته والی موجود نه دی ، په یو شمیر ولایتونو کې د ښځو پر علیه د خشونت د منع د عالی کمیسیون د سکرتریت له خوا د ۲۰۱۰ کال په وروستیو کې د صادر شویو لارښودونو سربیره د څوکۍ ریاست د ښځو چارو د ریاست له خوا ترسره کیده ، حال دا چې دغه مشرتابه باید د والي په غاړه وای. د ښځو پر علیه د خشونت د مخنیوی او غبرګون په برخه کې د ولایتي کمیسیونونو نقش د اړوندو ریسانو له خوا د انفرادي علاقې ، حمایت او فعال ملاتړ له امله په زیاته اندازه مشروط پاتی شوی. د بیلګی په توګه د بامیانو په ولایت کې د کمیسیون مشري د والي له خوا ترسره کیږي او د ښځو په وړاندې د خشونت د دوسیو د څوابولو

---

[94] د ښځو د چارو د ریاست د یوه کارکونکی سره د یوناما مرکه ، بغلان ، د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر ۱۶.

[95] په هغو ۶ ولایتونو کې چیری چې کمیسیونونه نه دي فعال شوي هغه د هلمند ، کابل ، کندهار ،نورستان ، پکتیکا او زابل ولایتونه دي.

او د قانون د رعایت په برخه کې د یوې موثرې وسیلې په حیث ثابته شوې. یوناما مشاهده کړې چې کله والي په غونډو کې برخه اخیست ، کمیسیون زیات وړاندیزونه وړاندې کړي او د عمل ټکی یی په فعال ډول تعقیب کړي.

نور ولایتي کمیسیونونه چې مشري یې د میدان وردګو ،غزنی ، فاریاب ، کندز او سرپل د ولایتونو د والیانو له خوا ترسره شوې هغوي منظمی غونډې نه دي ترتیب کړي او کارونه یی منظم نه دي. په نورو سیمو ، دبیلګی په توګه په خوست ،غزنی او پکتیا ولایتونو کې ولایتي کمیسیونونه د اسلام په دننه کې د ښځو د حقونو په هکله د پوهاوي د لوړولو په برخه کې زیاته ونډه اخیستې او د ښځو هغو مسلو ته چې جنجال یی کم دی توجه اړولې. په یو شمیر زیاتو ولایتونو کې کمیسیونونه تر اوسه هم د دندو یوه منظمه لایحه او کاري پلان نه لري او منظمې ناستې هم نه ترسره کوي. چیری چې ناستی دایرې شوې د هغوي د انفرادي غړیو څخه د هغوي د فعالیتونو په هکله معلومات غوښتي او په هغه یی تمرکز کړی او د ښځو په وړاندې د خشونت د موثره مخنیوي او غبرګون لپاره د اړتیا وړ د پالیسۍ مسایلو او د جوړښت مسالو ته ځواب نه دی ویلی او نه هم د ښځو په وړاندې د خشونت د پیښو د تعقیب په موخه د هغو قضیو په هکله کومې چې د دوي توجه ته راغلي کوم میکانیزم نه لري.

یوناما یادونه کړې چې ولایتي کمیسیونونه د ښځو پر علیه د خشونت د منع د عالی کمیسیون له اړخه زیات ملاتړ او د نظارت ښو میکانیزمونو ته ضرورت لري څو په دې توګه هغوي په دې وتوانیږي چې د خپل ستونزمن ماموریت د پلي کولو او اجرا په برخه کې موثر ثابت شي.[96]

## ۱.۵. د ښځو چارو ریاستونه

د ښځو د چارو د ریاستونو د بیلابیلو ریسانو سره د یوناما غونډې د ښځو په وړاندې د خشونت د قربانیانو لپاره د ساتنې او خدمتونو دبرابرولو په برخه کې د هغوی د دوامداره مبارزې او ننګونو څرګندونه کوي. د مرکزی جګو سیمو ، شمالی ، شمال ختیځ ،جنوب ختیځ او لویدځو سیمو په یو شمیر ولایتونو کی د ښځو چارو ریاستونه په فعال ډول د ښځو د حقونو ، د ښځو په وړاندې د

[96] د ښځو په وړاندې د تاوتریخوال د منع قانون ۱۶ ماده د کمیسیون دندې بیانوی ، د خشونت د دوسیو څیړنه او د مخه نیونکو تدبیرونو ترون هم په کې شامل دي ، د خشونت ضد اشتهار شرح اود عامه پوهاوي پروګرامونه ، د خشونت سره د مبارزې په موخه د دولتی او نا دولتی فعالیتونو همغږي ، د احصایی او د خشونت د دوسیو په اړه د مالوماتو راغونډول ، د پولیسو ، څارنوالانو او محکمو په شمول ، او د ښځو په وړاندې د خشونت د له منځه وړلو د قانون د ښه تطبیق لپاره د طرزالعملونو منل او د مقرراتو وړاندې کول.

خشونت د له منځه وړلو او د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع د قانون په هکله د پوهاوي د لوړولو په برخه کې ښکیل دي. په هغو ځینو ولایتونو کې چیرې چې د اړوندو کسانو سره مرکې ترسره شوي هغوي ویلي چې د پوهاوي د لوړولو هڅو د ښځو په وړاندې د خشونت د پیښو د لا زیاتو ثبت او راپور ورکولو د هڅو سره مرسته کړې.

چیری چې یوناما د ښځو په وړاندې د خشونت د پیښو د ځوابولو په برخه کې د ښځو چارو د ریاستونو د نقش په برخه کې ډیرې مثبتې بیلګې مشاهده کړي ، هلته یوناما همدارنګه د دې یادونه کړې چې د ښځو د چارو د ریاستونو موثریت تر ډیره بریده د هغو کسانو په شخصي ژمنو پورې تړاو لري څوک چې د دغو بیلابیلو دفترونو مشرتابه پر مخ بیایی. په یو شمیر زیاتو سیمو کې ، د ښځو چارو ریاستونو چیرې چې قربانیان د لا زیات راحت او د خپل غمجن حالت د شریکولو په برخه کې د خوندیتوب احساس کوي ، په ځینو مواردو کې د ښځو د چارو ریاستونه توانیدلي چې د ځینو سرغړونو مخنیوی وکړي. د بیلګې په توګه د بغلان په ولایت کې یوې ۹ کلنې نجلۍ د یاد ولایت د ښځو چارو د ریاست سره تماس نیولی څو مالومات ورکړي چې د نوموړې تره پلان لري څو د نوموړې د میراثي ځمکې د ترلاسه کولو لپاره هغې خپل زوی ته واده کړي.[97] د ښځو چارو ریاست د هغې سره په ولایتي محکمی کې د حقوقي اقدامونو په برخه کې مرسته وکړه او محکمی د هغې په ګټه د میراث پریکړه وکړه او مور یې د هغې د سرپرست په توګه وټاکله. محکمې د نوموړې تره ته هم حکم وکړ څو د اجباری او ماشوم د واده په هکله پلانونه د سر نه وباسي.

په یو شمیر نورو مواردو کې ، د ښځو چارو د ریاستونو رئیسان د فساد په ادعاګانو کې ښکیل وو او په هغوي تور دی چې د خشونت د ښځینه قربانیانو ژوند لا په خطر کې اچوي. د ښځو چارو د ریاست د مشر د ادعا شوي فساد یوه پیښه چې د یوه قرباني په مړینه پای ته ورسیده د داسې مهمو او اساسو څوکیو لپاره د نوماندانو د مناسبې بررسۍ د اړتیا غوښتنه کوي.[98]

---

[97] *"زما تره غواړي چې ما خپل زوي ته واده کړي او دا زما د هغه ملکیت د لاسته را وړلو په موخه ده چې ما ته د خپل مرحوم پلار څخه را پاتې دی ، خو زه واده نه غواړم ، بلکې زه غواړم چې خپلو زده کړو ته ادامه ورکړم او دخپلې مور سره و اوسیږم".*
*-- ر.ا. ، په پل خمری کی د بغلان ولایت د خنجان له ولسوالۍ څخه د یوې ۹ کلنې نجلۍ او د دریم ټولګی زده کوونکې سره د یوناما مرکه د ۲۰۱۲ کال د اپریل ۱۴.*

[98] د ۲۰۱۲ کال د فبرورۍ په ۱۸ ، د پکتیا د ولایت د احمد اباد په ولسوالۍ کې یوه ۲۰ کلنه ښځه د خپل میړه له خوا د ادعاء په توګه ویشتل او وژل کیږي. د راپورونو له مخې قرباني د کورني خشونت څخه د مخه تښتیدلې او د خپل خسر له خوا پرې جنسی تیری شوی او نوموړې په پکتیا کې د ښځو د چارو د ریاست د مشرې څخه د مرستې غوښتنه کړې ، د ښځو د چارو د ریاست مشرې نوموړې هغه په خپل کور کې ۶ ورځې ساتلې او د ادعاء په توګه یې د قربانی ښځی کورنۍ ته اطلاع ورکړې چې ګویا

د ښځو چارو د رياستونو د دفترونو له خوا د ښځو په وړاندې د خشونت د دوسيو ثبت او مناسب ريکارډ جوړول د يوې ننګونې په حيث په خپل ځای پاتې دي. د بيلګې په توګه په بغلان کې د ښځو چارو د رياست دفتر د ښځو په وړاندې د خشونت د دوسيو يو منظم ريکارډ نه دی جوړ کړي چې په دې هکله يوناما ته راپور ورکړي. د ښځو چارو رياست د جدي جرمونو په شمول ، د شخړو د حل د دوديزو مکانيزمونو په مقابل کې د منځګړيتوب يا ارجاع کارونې ته دوام ورکړی. په نيمروز کې د ښځو چارو رياست يوناما ته ويلي چې د تيرکال په ترڅ کې چې کومې دوسيې دغه دفتر ته رسيدلي ، د قتل ، جنسی تيري ، اجباری ځان سوځونې او زنا په شمول يا خو ځايی مشرانو ته راجع شوي او يا يې د هغوي له خوا وساطت شوی او دا د ښځو پر عليه د تاوتريخوالی د منع د قانون لاندې موازينو سره په تناقض کې دي.

## ۶. پايلې

يوناما د ښځو په وړاندې د خشونت د له منځه وړلو او د ښځو پر عليه د تاوتريخوالی د منع د قانون د ښه تطبيق په برخه کې د ا فغانستان حکومت د ژمنو ستاينه کوي . په عين وخت کې يوناما په دی نظر هم دی چی ښځو پر وړاندی د تاوتريخوالی سره د مبارزی لپاره په قوانينو ، پاليسيو او دچارواکو په اقداماتو کی لاهم جدي انديښنې په خپل ځای کی پاتې دي.

د ښځو پر عليه د تاوتريخوالی د منع د قانون له نافذيدو راهيسې د لوي څارنوال دفتر د قانون د ښه تطبيق په اړه ؛ د هغو کسانو عدلي تعقيب په هکله چې په ناوړه دودونو (لکه جبری ودونه او په بدو کی روکول) ښکيل دي ؛ او د هغو ښځو د بی مورد عدلي تعقيب څخه مخنيوی په هکله چی د کور څخه د تيښتې پر مهال د زنا يا د زنا د نيت په تور تعقيب کيږی درې

---

د هغوي لور ياغيانو تښتولې او د خلاصون په بدل کې ۶۰۰،۰۰۰ پاکستانی روپۍ غواړي. ادعاء شوې چې په هغه ناسته کې چې د دې رياست په دفتر کې شوې د ښځو د چارو د رياست مشرې د پيسو د ترلاسه کولو وروسته قربانی ښځه د هغی کورنۍ ته سپارلی. څو ورځې وروسته قرباني شخص د خپل ميړه له خوا وژل کيږي . په پکتيا کې پوليسو او د جنايی تحقيقاتو رياست په ډاګه کړې چې د ښځو د چارو د رياست مشره د قربانی شوی ښځی په وژلو کې ښکيله نه ده. پوليسو د نوموړې ميړه او خسر توقيف کړي او دوسيه ابتدايه محکمې ته سپارل شوې. د پکتيا د ولايت د والی مرستيال دا خبره تاييد کړ چی د ښځو چارو وزارت له خوا د يوه ليک په ترڅ کې چې د ملکي خدمتونو خپلواک کميسيون ته يې سپارلی د ښځو چارو رياست د مشرې د دندې څخه ګوښه کړای شوی. د سپتبر د مياشتې په ۱۴ نيټه ، نوي سرپرست مشر ددې دفتر د دندو مسوولیت په غاړه واخيست. د يوناما څارنه او د پوليسو د جنايی تحقيقاتو رياست ، د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کميسيون او د ولايتی شورا او د ښځو د شوراګانو د غړيو سره د يوناما ناستې.

لاربښودونه/حکمونه صادر کړي دي.[99] د هیواد په کچه د څارنوالانو له خوا د دغو لاربښودونو موثره تطبیق خال خال او تیت او پرک دي. دیوناما لاسته راړونې دا ښیي چې که څه هم څارنوالانو په خپلو صورت دعواوو کې د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع قانون په زیاته کچه پلی کوي ، خو بیاهم دغه شمیر د هغو ټولو قضیو یوه ټیټه سلنه جوړوی کوم چی د قانون د پلی کوونکو ادارو او د ښځو چارو د یاستونو له خوا لاس ته راغلی دی. په محکمو کې د ښځو پر عیله د تاوتریخوالی د منع د قانون د تطبیق کچه تر دې لا هم ټیټ دی.

همداراز د یوناما موندنې وړاندیز کوي چې د ښځو د حقونو او د مدني ټولنې سازمانونو او په ځینو ولایتونو کې د ښځو چارو د ریاستونو له خوا د پوهاوي د لوړولو نوښتونه د پیښو پر راپور ورکونه کی اغیزه کړی او د ښځو پر وړاندی د خشونت یو شمیر زیاتی قضیی د قانون د پلی کوونکو ادارو چارواکو ، د ښځو چارو ریاستونو او د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون دفترونو ته راپور ورکړل دي. د دې هڅو سربیره ، عدالت ته د قرباني شخص لاسرسی په زیاته اندازه محدود دی او دا د یو لړ فاکتورونو په واسطه چې ذکر یې په دې راپور کې شوی ، مانع کیږي. د څیړنو او تعقیب په پړاونو کې عدالت ته د لاسرسي په برخه کې ښځې د زیاتو ننګونو سره مخ کیږي ، دا هغه واقعیت دی چې د محکمو له خوا د بحث وړ ټکي په حیث د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع د قانون د پلي کولو په برخه کې اکثرا دا پوښتنه مطرح کوي. د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع د قانون د ښه تطبیق په موخه د پولیسو او څارنوالانو په کچه د ښځو په وړاندې د خشونت د دوسیو د څیړنو ، ثبت او لا ښه راپور ورکولو لپاره نورو هڅو ته ضرورت لیدل کیږي. د ښځو چارو د ریاستونو ، پولیسو ، څارنوالیو او ابتداییه محکمو په کچه د ښځو پر وړاندی د تاوتریخوالی د قضیو د راپوروړکولو ، ثبتولو او څیړلو د پرمختګ لپاره لا زیاتو هڅو ته اړتیا ده څو د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع د قانون په تطبیق کی ښه والی او پرمختګ راشي.

د ښځو پر وړاندی د خشونت د لاملونو د شدت ، ماهیت او پراخوالی د بهتر درک کولو لپاره چی کولای شی په آینده کی د اصلاحاتو او د حل لارو په لار کی اغیزمن ثابت شی ، د ښځو چارو د ریاستونو ، پولیسو ، څارنوالیو او محکمو له خوا د ښځو پر وړاندی د تاوتریخوالی د قضیو منظم او

[99] (۱) د ښځو په وړاندې د خشونت د له منځه وړلو د قانون د پلی کولو په هکله د لوی څارنوال د دفتر لاربښودونه- ۹۸-۱۰-۱۸ ، د صدور شمیره: ۵۳/۱۵۵

(۲) د انفرادي اشخاصو د تعقیب په اړه د لوی څارنوال د دفتر لاربښودونه-۲۴/۱۰/۲۹۱۲

(۳) د کورونو څخه د تیښتی د نه تعقیب په هکله کوم چې د افغان قوانینو لاندې حرم نه دی، د لوي څارنوال د دفتر لاربښودونه ،۲۰۱۲ کال د اپریل ۴ .

سیستماتیک ثبتول ډیر ضروری ګڼل کیږي. پر دی برسیره ، د قانون د پلی کوونکو ادارو د چارواکو د ظرفیتونو لوړول ، د ښځو پرعلیه د تاوتریخوالی د منع د قانون د تطبیق څخه د څارنی لپاره د مدني ټولنې د سازمانونو د پوهاوی توانمندیو لوړول او د عامو خلکو ته د دی قانون په هلکه روزنې د ټولو سطحو په کچه د یوه دوامداره تمرکز په حیث پاتې شي.

یوناما تمه لري چې د توکیو د حساب ورکونې د دوه اړخیزه چوکاټ لاندې د بیا نویو شویو ژمنو په نظر کې ساتلو سره به د افغانستان حکومت د نړیوالو شریکانو په ملاتړ د ښځو پر عیله د تاوتریخوالی د منع د قانون له طریقه د ښځو په وړاندې د خشونت د قربانیانو لپاره د ښې ساتنې او د ښځو د حقونو څخه د لا زیات درناوي د داد په خاطر زیاتي هڅې لارې ته واچوي. یوناما د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع د قانون د ښه تطبیق د ملاتړ په موخه او د خشونت څخه د خلاصون او د ښځو د ښې ساتنې په موخه د لاندې سپارښتنو وړاندیز کوي.

## ۷. سپارښتنې

**افغان حکومت ته**

- په لوړو کچو ، د ولسمشر په شمول ، په عام ډول په دې ټینګار چې د ښځو د حقونو ساتنه او وده د هیواد د سیاسي ،اقتصادي او امنیتي ستراتیژۍ ګانو یوه مرکزی ستنه او د هیواد په کچه د پخلاینې او سولې مهم لومړیتوب او یوه بشپړه کونکې برخه ده .
- د ولسمشر د دفتر له خوا والیانو ته د هغوي د مسوولیتونو د درک په هکله د لارښودونو صادرول څو د خشونت د د منع د ولایتي کمیسیونونو رهبري په غاړه واخلي ، څرنګه چې دغه موضوع د خشونت د منع د عالی کمیسیون په لارښودونو هم تصریح شوی دي.
- د نړیوالې ټولنې سره په نږدیوالي کې د توکیو په اعلامیه کې د ژمنو او د ولسمشر د ۴۵ فرمان چې د جنډر د تساوی ، د ښځو د غښتلتیا او د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع د قانون موثره پلي کولو ته ځانګړی شوی ، د یوه نظارتی چوکاټ جوړول.

**د ښځو چارو وزارت او د خشونت د منع عالي کميسيون ته**

- د ولايتي کميسيونونو له کار څخه د کنترول په موخه د نظارت د ميکانيزم جوړول او د هغوي سره د کاري پلانونو د جوړولو او د هغوي د مسوولیتونو د ترسره کولو لپاره د اړتيا وړ مهارتونو او پوهې ترلاسه کول.
- د عالي کميسيون غونډو ته د کتونکو په حيث د مدني ټولنې ، د ښځو د حقونو د انجوګانو ، د امن او سرپټونې د مرکزونو د مديرانو او نړيوالو شريکانو د ګډون بلنه ، څو په ځانګړو مسئلو راپور جوړ کړي او په فعاله توګه د کميسيون د کار څخه ملاتړ وکړي.
- د ولسواليو په کچه د ارجاعي ميکانيزمونو طرح او تطبيق ، د هغوي د غړو د جملې د يوه استازي د دفتر له طريقه همغږي ، او د ښځو پر عليه د تاوتريخوالی د منع د قانون د ۱۶ مادې پراساس د روغتيايی پاملرنې ، حقوقي مرستې ، رواني- ټولنيز ملاتړ او سر پناه په هکله د خدمتونو د وړاندې کونکو يا د قانون د تطبيق اړوندو نهادونو ته د ښځو په وړاندې د خشونت د قربانيانو ارجاع او د تعقيب په موخه د اسانتياوو برابرول.
- د منځګړيتوب د کارولو په منظور د يو لارښود د جوړولو په اړه بحث چې د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي سره د مبارزې لپاره د اختصاصي څارنواليو او د عدليې وزارت د حقوقو د رياست له خوا وکارول شي تر څو د تاوتريخوالي د قربانيانو بشپړه ساتنه وشي.
- د ښځو د چارو وزارت د داخلی او عدليې د وزارتونو او د لوي څارنوال د دفتر سره په همغږی کې د معياری صنفبندۍ او داسې معياري کتګوريو جوړول څو د ښځو په وړاندې د خشونت د ټولو ښو دثبت لپاره د ښځو چارو د رياستونو او د قانون د پلي کونکو ټولو ادارو له خوا ، د هغو په شمول چې د ښځو پر عليه د تاوتريخوالی د منع د قانون لاندې لکه د ناموس په نوم وژنې او يا د اخلاقی جرمونو د لاندې جرم نه شميرل کيږي ، د ښځو په تړاو د ملکي دوسيو څخه جلا شوي وي په ګډه وکارول شي.

**د عدليې وزارت ته**

- د خشونت د منع د عالي کميسيون او د حقوقي روزنو د داخلي مرکز سره ، د ښځو پر عليه د تاوتريخوالي د منع د قانون په هکله د قضايي چارواکو لپاره د روزنو

برابرول. هغه قاضیان او څارنوالان چې د یاد قانون په تطبیق کې بریالي وو باید نورو ته روزنه ورکړي.

- ډاډ حاصل شي چې د شخړو د حل لارو د موندلو لپاره هر قانون چې د رسمي عدالت د سیستم او عنعنوي میکانیزمونو(د جرګو او شوراګانو) ترمنځ اړیکې تعریفوي ، د ټولو داخلي قوانینو ، د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون په شمول په خپل اجابت کې ښه والی رامنځ ته کړي او د جدي جرمونو د ځوابولو څخه د هغوي مخنیوی وکړي.

## ستری محکمی ته

- د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون د مقررو او د افغان قوانینو سره په تړاو کې د هغوي د کارونې په شمول محکمو ته توضیحات او لارښودونه صادر کړي.
- ډاډ حاصل کړي چې قاضیانو د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون په هکله روزنه حاصله کړې وي او دا چې دغه قانون د دوي د روزنیزو پروګرامونو یو الزامی جزء وګڼل شي.
- د عمومي جزا دیوان او د قضایی تفتیش ریاست ته لارښوونه څو د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي په قضیو کې د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون په هکله د محاکمو د مناسبې کارونې څخه نظارت وکړي.
- د هیواد په کچه د ښاري او کورنۍ محکمو په دننه کې د ځانګو جوړول کومې چې د ښځو په وړاندې د خشونت جرمونو ته اختصاص شوي وي. په دغو محکمو کې به قاضیان تخصص ترلاسه کړي او دا به د جزا عمومي دیوان د حقوقي دعوو د ثبتولو د دفتر د ازدحام د له منځه وړلو په برخه کې مرسته وکړي.[100]

[100] د افغانستان د اسلامی جمهوریت د قضا د قانونی واک او جوړښت په هکله د قانون د ۶۱ (۲) مادې ته مراجعه. که چیرې اړتیا وي ستره محکمه ښایی د ولسمشر د منظوری وروسته د ولایتی ابتدایی محکمی په دننه کې نورې محکمې تاسیس کړي. که چېری اړتیا وي ، د ولایتی ابتدایي محکمی مشر کولای شي په موقته توګه د یوې محمکې غړی بلې محکمې ته ولیږي.

- د جزا د قانون د ۳۹۸ مادې د روښانه تفسیر وړاندې کول کومه چې د "ناموس" په نامه د وژنو په جزا کی تخفیف راولی څو د دغی مادی د ناوړه کارونی څخه مخنیوی وشي او د هغه د لغو کولو لپاره هم کار وشی.

## د لوی څارنوال دفتر ته

- په کابل کې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي سره د مبارزې لپاره اختصاصي څارنوالۍ ته د مسؤولیت او دندې په سپارلو غور وکړی ، څو د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د ټولو قضیو څخه چې سترې محکمې ته رسیږي ، نظارت او دغه قضیی تعقیب کړي. دغه اختصاصي څارنوالۍ کیدای شي د ۲۰۱۳ په تشکیل کې مشخصې شي.
- ډاډ حاصل شي چې د عمومي جزا څارنوالي او د لویی څارنوالۍ نورې اړوندې څانګې د دې څخه نظارت وکړي چې څارنوالۍ د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع قانون څنګه کاروي .
- د ولایتي څارنوالیو په دفترونو کې د داسې واحدونو یا کمیسیونونو د ملاتړ او جوړولو لپاره د هڅو دوام ، او د دې واحدونو او کمیسیونونو له لارې د مناسبو سرچینو او وړ کارکونکو په درلودلو د ښځو په وړاندې د خشونت د دوسیو تعقیب .
- د ښځو په وړاندې د خشونت په هکله د څارنوالانو د ټولو دفترونو او ځانګړو واحدونو لپاره د ښځو په وړاندې د خشونت د ټولو ډولونو لپاره د یوه مرکزي ډیټابیس جوړول کوم چې د ټولو څارنوالیو سره تړلی وي. د داسې دوسیو د اداره کولو په هکله د سرته رسونې د یوه شاخص د اضافه کولو له لارې د څارنوالانو تر منځ د کار د ستاینې له طریقه د ښځو په وړاندې د خشونت د قضیو د تعقیب او مناسبې څیړنې هڅول.

## د کورنیو چارو وزارت ته

- د بنسټیزو رزونو د یوی برخی په څیر د د ښځو پر وړاندی د تاوتریخوالی او د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع د قانون سره په مطابقت کې د قربانیانو د اړتیاوو په ځوابولو کې د پولیسو د نقش په هکله د پولیسو حساس کول.
- د کورني غبرګون د څانګې په شمول د پولیسو د جنایي تحقیقاتو د ریاست لپاره د لارښوونو برابرول ، د هغو جرمونو د نمونو واضح کول چې باید وڅیړل شي او د تعقیب

په موخه وړاندې شي او هغه قضیې چې ښایي د پولیسو له خوا د منځګړیتوب له لارې حل شي. او همدارنګه دا ډاډ حاصل شي هغه ټولې قضیې چې د منځګړیتوب له لارې هوارې شوي او یا د پولیسو له خوا د منځګړیتوب په موخه راجع شوي په مناسب ډول ثبت او په رسمي توګه دوسیه یا مستندې شي.

- د هغو ټولو پولیسو لپاره کوم چې د کورني غبرګون د څانګو سره کار کوي د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون په هکله د څانګړو روزنو برابرول.
- ډاډ حاصل شي هغه ښځې چې د مرستې د غوښتنې لپاره د پولیسو ماموریتونو ته ځي وکولای شي په فوري توګه د کورني غبرګون د څانګې سره سلا مشورې ترسره کړي.
- ډاډ حاصل شي چې د کورني غبرګون څانګه د جنایي تحقیقاتو د عمومي ریاست برخه پاتې شي ، او د دې څانګې کارکوونکي د ځیړنیزو تخنیکونو په هکله د روزنو څخه برخمن شي. همدارنګه وکولای شي د کورنۍ خشونت ، جنسي تیري او د ښځو په وړاندې د خشونت په نورو پیښو کې د تحقیقاتو په موخه په بشپړه توګه ګډون وکړي.
- ډاډ حاصل شي چې ښځینه پولیسې په مسلکي دندو وګمارلې شي او د ودې او ترفیع لپاره مساوي فرصتونه دوی ته ورکړل شي.
- د ښځو په وړاندې د خشونت د دوسیو د کومو چې منځګړیتوب شوی د تعقیب او مناسب ثبت لپاره د یوه موثره منکانیزم جوړول څو د قربانیانو د ساتنې څخه کله چې هغوي خپلو کورنیو او ټولنو ته ستانه کیږي ، ډاډ حاصل شي.
- د ښځو په وړاندې د خشونت د ټولو پیښو لپاره د یوه مرکزي ډیټابیس جوړول څو د جنایي تحقیقاتو د ریاست د کورنۍ غبرګون څانګو او د پولیسو د نورو اړوندو نهادونو څخه لاس ته راغلې معلومات پکښې درج شي.
- د ښځو په وړاندې د خشونت د اداره کولو په هکله د سرته رسونې د یوه شاخص د اضافه کولو له لارې د پولیس افسرانو تر منځ د کار د ستاینې له طریقه د ښځو په وړاندې د خشونت د قضیو د تعقیب او مناسبې ځیړنې هڅول.

**نړیوالوډونرانو ته**

- د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی منع د قانون تطبیق او د ښځو د غښتلتیا او د جنډر د تساوی په هکله د توکیو د اعلامیی لاندې د ترسره شویو ژمنو په وړاندې د پراختیایی مرستو د چینل کولو له طریقه د توکیو د اعلامیې د پلی کولو په برخه کې د حکومت ملاتړ ، او په دغو ساحو کې د ځانګړو شاخصونو په مرسته د پرمختګ د معلوموملو لپاره د ګډ نظارتی چوکاټ جوړول.
- د افغانستان د ښځو لپاره د عمل د ملي پلان (۲۰۰۸-۲۰۱۸) د پلی کولو په برخه کې د حکومت ملاتړ ، په ځانګړې توګه د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون د پلي کولو په برخه کې د یوې ملي ستراتیژۍ ترتیب او جوړول ، او د لومړیتوب د ملي پروګرام "د ټولو لپاره قانون او عدالت" څخه ملاتړ ، او د عمل ملی پلان د چټک تطبیق لپاره ظرفیتونو ته وده ورکول.
- د هغو پروګرامونو غځول او د تخنیکي مرستو او ملاتړ برابرول چې موخه یې د ولایتي څارنوالیو او محکمو لپاره په خاص ډول د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون پلی کول دي.
- د ښځو د ساتنې د هغو مرکزونو او پناه ځایونو څخه لا زیات ملاتړ چې د خشونت د ښځینه قربانیانو لپاره د امن ځای برابروي.